د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی


# سیمه ییز مطالعات

## فصلنامه مرکز مطالعات منطقه‌یی افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت او سیمه ییزې اړیکې (ځانګړې ګڼه)



**۱-۲**


- دوره: اول
- سال: ۱۴۰۲ هـ.ش
- ربع: ۱ - ۲
- شماره مسلسل: ۶۸ - ۶۹
- سال تأسیس: ۱۳۸۵ هـ.ش
- کابل - افغانستان


په دې ګڼه کې:


- د افغانستان اسلامي امارت او جمهوریت د بهرنیو...
- بررسی روابط کشورهای آسیای مرکزی...
- د افغانستان اسلامي امارت او روسیې د تعامل ځرنګوالی
- د افغانستان د اسلامي امارت او ایران اړیکې
- د افغانستان اسلامي امارت او قطر...



سیمه ییز مطالعات
شماره: ۶۸ - ۶۹ ، سال ۱۴۰۲ هـ.ش


# REGIONAL STUDIES
## Quarterly Journal


Establishment: 2006
Academic Publication
Afghanistan Science Academy
Serial No: 68-69



Address:
Afghanistan Science Academy
Sherpoor Square, Kabul-Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه‌ییز مطالعات

## د افغانســـتان اســـلامي امـــارت او سیمه ییزې اړیکې
## (ځانګړې ګڼه)

مجلهٔ علمی- تحقیقی
مطالعات سیاسی، اقتصادی و فرهنگی منطقه‌یی. معرفی، بررسی و تحلیل سازمان‌ها، کنفرانس‌ها و نهادهای منطقه‌یی

سال تأسیس: ۱۳۸۵ هـ.ش
شمارهٔ مسلسل:۶۸-۶۹

**یاداشت:**

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبه علمی، نمبر تیلفون، و ایمیل آدرس نویسنده به ادارۀ اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالۀ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدۀ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نگردیده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصه و حداقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، گویای اصلی پرسشی باشد که مقاله در پی پاسخ‌دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان‌های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، اهمیت، مبرمیت، هدف، سؤال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان و تسلسل منطقی موضوعات در یک روی صفحۀ کاغذ A4 در برنامۀ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵ صفحه معیاری بوده، با فونت سایز ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single ) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت‌تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را بادرنظرداشت لایحۀ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل‌ها و اندیشه‌های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می‌تواند.
- مقالۀ وارده دوباره مسترد نمی‌گردد.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د افغانستان علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسؤل مدیر:** څېړندوی محمد طاهر شرر ساپی

**مهتمـــــــم:** مسیح اوریاخیل

**کتنپلاوی:**

څېړنوال دکتور رفیع‌الله نیازی

څېړنوال عبدالشکور سالنگی

څېړندوی عبدالصبور مبارز

څېړندوی عمران زکریا

**پته:** د افغانستان علومو اکاډمي سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د شېرپور څلور لارې، شهر نو، کابل.

**مطبعه:**

د اړیکو شمېرې:

+۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹۹۳ - +۹۳۷٦٦۱۱۰۰۰۸

**د افغانستان د علومو اکاډمي برېښنلیک:** Info@asa.gov.af

**د مجلې برېښنلیک:** rsc@asa.gov.afg

**د کالني ګڼون بیې:**

په کابل کې: ۳۲۰ افغانۍ

په ولایتونو کې: ۳۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ۲۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استاذانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# فهرست مطالب


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| ۱- د مرکز یادښت............................................ | ځېړنپوه دوکتورعبدالظاهر شکېب ......الف |
| ۲- د افغانستان اسلامي امارت او جمهوریت د بهرنیو .... | ځېړندوی عبدالصبور مبارز ................۱ |
| ۳- بررسی روابط کشورهای آسیای مرکزی با امارت... | معاون سرمحقق عبدالشکور سالنگی ...۲۱ |
| ۴- د افغانستان اسلامي امارت او روسیې د تعامل... | ځېړندوی عمران زکریا ............... ....۵۵ |
| ۵- د افغانستان اسلامي امارت او ایران اړیکې... | ځېړندوی اول خان شکېب ...............۷۱ |
| ٦- د افغانستان اسلامي امارت او قطر سیاسي... | ځېړندوی عاشق الله اخلاصیـار .........۹۵ |
| ۷- نگاه مختصری به تعاملات امارت اسلامی افغانستان.. | محقق زهره محمدزی ......................۱۱۷ |
| ۸- د اسلامي امارت بیا ځلي واک ته رسېدو سره د... | ځېړندوی معصوم جان معصومي ......۱۴۳ |
| ۹- له اسلامي امارت سره د خلیجي هېوادونو... | ځېړندوی محمد طاهر شرر .............۱۵۷ |
| ۱۰- د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي... | ځېړندوی عبدالصبور مبارز .............۱۷۳ |

# د مرکز یادښت

د حکومتونو، گوندونو، سازمانونو او د بېلا بېلو هېوادونو د وګړو ترمنځ اړیکو ته نړیوالې اړیکې ویل کېږي، خو بهرنی سیاست بیا یوازې د حکومتونو ترمنځ د اړیکو د تنظیم په موخه رامنځته کېږي. یا دا چې بهرنی سیاست یوې داسې ستراتېژۍ ته ویل کېږي چې د حکومت د مسؤلو اشخاصو له خوا په نړیواله کچه د ملي ګټو په دایره کې د ټاکلو موخو د ترلاسه کولو لپاره جوړېږي.

له ګاونډیانو، سیمې او نړۍ سره د اړیکو د ټینګولو لپاره اصولو او قواعدو ته اړتیا ده او دغه قواعد او اصول د بهرني سیاست په چوکاټ کې تنظیمېږي او بهرنی سیاست بیا له ملي ګټو څخه سرچینه اخلي.

په اوسنۍ نړۍ کې د هېوادونو لپاره نړیوالې اړیکې ډېرې مهمې دي، څکه هېڅ هېواد هم په ځان بسیا نه دی او د خوراکي موادو، طبیعي سرچینو، وسلو او نورو بېلابېلو اړتیاوو لپاره اړ دی چې له نورو هېوادونو سره د اړیکو له لارې خپلې اړتیاوې پوره کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د ۲۰۲۱ز. کال د اګست پر ۱۵مه نېټه پر ټول افغانستان خپل حاکمیت ټینګ کړ ، تر اوسه یې د سیمې او له ګاونډیو هېوادونو سره نارسمي اړیکې ټینګې کړي. تر دا مهاله ایران، ترکیه، پاکستان، روسیه ، چین، مالیزیا، قرغزستان، ازبکستان، ترکمنستان، قطر او قزاقستان هغه هېوادونه دي چې اسلامي امارت ته یې په دغه خاوره کې افغان سفارتونه او قونسلګرۍ سپارلي او غواړي له اسلامي امارت سره اړیکې ټینګې کړي. د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په وینا د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست مثبت، بې طرفه، متوازن او اقتصاد محوره دی.

د تاریخ په بېلابېلو مرحلو کې افغان حکومتونو د افغانستان جیوپولټیک، جیواکانومیک او جیوسټراټیژیک موقعیت، حالاتو او شرایطو ته په کتو د دغه هېواد لپاره بهرنی سیاست ترتیب کړی دی. په لومړۍ او دویمه نړیواله جګړه کې افغانستان بېطرفه بهرنی سیاست درلود، خو پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال بېطرفه بهرنی سیاست نقض شو او افغان حکومت له نظامي اړخه د شوروي اتحاد متحد شو. د شوروي اتحاد له ماتې وروسته تر ۲۰۰۱ز. کال پورې د افغانستان بهرنی سیاست بېطرفه و، خو پر افغانستان د امریکا متحده ایالاتو له برید او یرغل وروسته یو ځل بیا بېطرفه بهرنی سیاست له منځه ولاړ او افغانستان دا ځل د امریکا متحده ایالاتو متحد شو. په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي امارت په راتګ سره یو

ځل بیا بېطرفه بهرنی سیاست پیل شوی دی. بېطرفه بهرنی سیاست د افغانستان لپاره څکه مهم او اړین دی چې افغانستان د لویو قدرتونو د سیالۍ ډگر نشي.

د افغانستان اسلامي امارت هم د نورو حکومتونو په څېر اړ دی چې له گاونډیو، د سیمو له هېوادونو او نړۍ سره متقابلې اړیکې ټینگې کړي تر څو له یوې خوا په دغو هېوادونو کې د خپلو وگړو له حقوقو څخه په ښه ډول دفاع وکړي او له بلې خوا د اړتیا وړ توکي او مواد له دغو هېوادونو څخه وارد کړي.

دا چې د افغانستان اسلامي امارت په تېرو دوه کلونو کې تر ډېره د سیمې له هېوادونو سره اړیکې ټینگې کړي او د سیمې هېوادونو هم د اسلامي امارت استازو ته په خپله خاوره کې سفارتونه سپارلي، همدغو سیمه ییزو اړیکو ته په کتو د افغانستان د علومو اکاډمي د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز وپتېیله چې د مرکز د اهدافو او مسؤلیتونو پر بنسټ د افغانستان اسلامي امارت د تېرو دوه کلونو دا اړیکې وڅېړي او د یو ځانگړي کتاب په بڼه یې چاپ کړي.

دغه اثر چې «د افغانستان اسلامي امارت او سیمه ییزې اړیکې» تر سرلیک لاندې چمتو شوی د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز بېلابېلو څېړونکو خپلو تخصصي ساحو ته په کتو په دې اړه بېلابېلې مقالې لیکلي او د دغو اړیکو ارزونه یې په کې کړې او خپل تحلیل او وړاندیزونه یې هم په کې ځای پر ځای کړي دي، چې د افغانستان اسلامي امارت ټولې اداري او په ځانگړي ډول د بهرنیو چارو وزارت کولای شي له دې اثر څخه د پالیسۍ جوړونې او بهرني سیاست په تدوین کې څه ناڅه گټه واخلي.

په پای کې زه د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز له ټولو علمي او اداري غړو څخه چې په دې برخه کې یې زحمت ویستلی ، له هر یوه مننه کوم ، همدرانگه د علومو اکاډمی له علمي منشي څېړنوال دکتور رفیع الله نیازي څخه هم مننه کوم ، چې ددې اثر ایډیټ یې په مینه وکړ ، ددې تر څنگ د علومو اکاډمي د نشراتو ریاست له درانه رییس ښاغلي مولوي محمد عمر جلال او د کمپیوټري چارو د ترسره کولو په برخه کې له ښاغلي محمد مجتبی همایون او همدرانگه د نشراتو له آمر عطاء الله حسین زی څخه هم مننه کوم، چې ددې اثر د چاپ په برخه کې یې هلې ځلې کړي دي او دا اثر یې د گرانو لوستونکو ترلاسو رسولی دی، د ټولو دې کور ودان وي.

په درنښت

څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب

د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز رئیس

څېړندوی عبدالصبور مبارز

# د افغانستان اسلامي امارت او جمهوریت د بهرنیو سیاستونو پرتلیزه څېړنه

**لنډیز**

د افغانستان د تېر شل کلن جمهوریت بهرنی سیاست لیکلی، امنیتي محوره، نامتوازن او له نظامي اړخه د امریکا متحده ایالاتو پر ایتلاف ولاړ و. د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست بېطرفه، متوازن، اقتصاد محوره او نالیکلی دی، ځکه تر اوسه د بهرنیو چارو وزارت په دې اړه لیکلي څه نه دي وړاندې کړي او له بلې خوا اساسي قانون هم نشته چې د بهرني سیاست اصول په کې روښانه شي. د افغانستان په څېر کمزوري هېواد لپاره بېطرفه بهرنی سیاست اړین دی او دا چې اسلامي امارت خپل بهرنی سیاست بېطرفه اعلان کړی، نو دا یې د افغانستان جغرافیایي موقعیت ته په کتو سمه پالیسي ده، چې په دې برخه کې د جمهوریت بهرنی سیاست سم نه و، ځکه په داسې سیمه کې چې د امریکا متحده ایالاتو سیالان موجود وي، هلته له نظامي پلوه د امریکا متحده ایالاتو متحد کېدل سمه پرېکړه نه ده. لیکلی بهرنی سیاست د جمهوریت مثبت ټکی دی، خو اسلامي امارت بیا لیکلی بهرنی سیاست نه لري. همدارنګه متوازن او اقتصاد محوره بهرنی سیاست چې اسلامي امارت غوره کړی د افغانستان په ګټه او د جمهوریت امنیتي محوره او نامتوازن بهرنی سیاست د افغانستان په زیان و.

**سریزه**

نړیوالې اړیکې د حکومتونو، حزبونو، سازمانونو او د بېلا بېلو هېوادونو د افرادو ترمنځ اړیکو ته ویل کېږي، خو بهرنی سیاست بیا یوازې د حکومتونو ترمنځ د اړیکو د تنظیم په موخه رامنځته کېږي. یا دا چې بهرنی سیاست له یوې داسې ستراتیژۍ څخه عبارت دی چې د حکومت مسؤلو اشخاصو له خوا په نړیواله کچه د ملي ګټو په چوکاټ کې د ټاکلو موخو د ترلاسه کولو لپاره جوړېږي.

په بهرني سیاست کې د ملي ګټو بحث ډېر مهم دی او ملي ګټې په یوه ټولنه کې د انسانانو په کړنو پورې اړه لري، د انسانانو کړنې هره ورځ د بدلون په حال کې دي چې له امله یې په بهرني سیاست کې هم بدلون راځي. که نن د بهرني سیاست مشخصې او څرګندې موخې وړاندې کړو کېدلای شي سبا هغه د تطبیق وړ نه وي، خو

بیا هم په عمومي ډول ویلای شو چې د بهرني سیاست بنسټیزې موخې د خپلواکۍ، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي ګټو ساتنه ده، یعنې  بهرنی سیاست هغه وسیله ده چې پر بنسټ یې دغه موخې لاس ته راځي.

د تاریخ په بېلابېلو مرحلو کې افغان حکومتونو د افغانستان جیوپولټیک، جیواکانومیک او جیوستراتیژیک موقعیت، حالاتو او شرایطو ته په کتو د دغه هېواد لپاره بهرنی سیاست ترتیب کړی دی. په لومړۍ او دویمه نړیواله جګړه کې افغانستان بې‌طرفه بهرنی سیاست درلود، خو پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال بې-طرفه بهرنی سیاست نقض شو او افغان حکومت له نظامي اړخه د شوروي اتحاد متحد شو. د شوروي اتحاد له وتلو وروسته تر ۲۰۰۱ز. کال پورې د افغانستان بهرنی سیاست بې‌طرفه و، خو پر افغانستان د امریکا متحده ایالاتو له حملې وروسته یو ځل بیا بې-طرفه بهرنی سیاست له‌منځه لاړ او افغانستان دا ځل د امریکا متحده ایالاتو متحد شو. په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي امارت په راتګ سره یو ځل بیا بې‌طرفه بهرنی سیاست خپل شوی دی. بې‌طرفه بهرنی سیاست د افغانستان لپاره ځکه مهم او اړین دی چې د لویو قدرتونو د سیالۍ ډګر نشي.

اړتیا ده چې د افغانستان په ټولو تاریخي دورو کې د هر حکومت بهرنی سیاست په یوه جلا مقاله یا رساله کې وڅېړل شي، ځکه دا د یوې مقالې له توانه پورته ده، پر همدې دلیل په دې مقاله کې یوازې د افغانستان د تېر شل کلن جمهوریت او اسلامي امارت بهرنی سیاست څېړل شوی او پرتله شوی. د دې دواړو نظامونو د بهرني سیاست پرتله کول به دا روښانه کړي چې د کومې دورې بهرنی سیاست ګټور او د کومې دورې زیانمن و. همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې قضیه هم تر ډېره په فعال او ګټور بهرني سیاست پورې تړلې ده، دا چې د اسلامي امارت په بهرني سیاست کې کومه نیمګړتیا ده چې تر اوسه په رسمیت نه دی پېژندل شوی دا به د اسلامي امارت له بهرني سیاست څېړلو وروسته معلومه شي، نو د اسلامي امارت او جمهوریت د بهرني سیاست پرتله کول، د هغو نیمګړتیاوو په ګوته کول او له هغې  وروسته د نیمګړتیاوو د له‌منځه وړلو په موخه اوسني نظام ته وړاندیزونه کول دا خپله د موضوع د څېړلو اړتیا او اهمیت په ګوته کوي.

د دې څېړنې موخه د جمهوريت او اسلامي امارت د بهرني سياست څېړل، د هغو پرتله کول، نيمګړتياوې يې په ډاګه کول او د ګټور بهرني سياست د تنظيم په موخه حاکم نظام ته وړانديزونه کول دي.

په دې څېړنه کې به دې پوښتنې ته ځواب وويل شي چې د جمهوريت او اسلامي امارت بهرنی سياست سره څه توپير لري او د کوم نظام بهرنی سياست د افغانستان په ګټه دی؟

په دې څېړنه کې له تحليلي- تشريحي مېتود څخه ګټه اخېستل شوې ده.

همدارنګه د يادونې وړ ده چې د مقالې په اوږدو کې تېر شل کلن جمهوريت ته يوازې د جمهوريت کلمه استعمال شوې ده.

**پر بهرني سياست اغېز لرونکي لاملونه**

د بهرني سياست د پرېکړو نيولو پر مهال ځينې لاملونه شته چې پر دغو پرېکړو اغېز لري او حکومت نشي کولای چې له هغو په اسانۍ ځان وژغوري. دا لاملونه په دوه برخو وېشل کېږي:

**لومړی- بهرني لاملونه:** د يو هېواد پر بهرني سياست د اغېز لرونکو لاملونو له ډلې ځينې نړيوال جوړښتونه دي چې دلته ورته اشاره کوو:

**۱- بين المللي حقوق:** هغه حقوق يا قواعد دي چې د دولتونو ترمنځ اړيکې تنظيموي.(۱) د نړۍ هېوادونه مکلف دي چې بين المللي حقوق يا قواعد تطبيق او د همدغو قواعدو په رڼا کې بهرنی سياست تنظيم کړي چې دا خپله پر بهرني سياست د بين المللي حقوقو اغېزه ده.

**۲- نړيوال سازمانونه:** په نړۍ کې نږدې ۶۸۰۰۰ نړيوال سازمانونه موجود دي.* په نړيوالو او سيمه ييزو سازمانونو کې د دولتونو ګډون په دې معنی دی چې د دغو سازمانونو ټول شرطونه او قواعد به مني او هغه به تطبيقوي. همدارنګه بهرنی سياست به هم داسې تنظيموي چې د نړيوال سازمان له شرطونو او قواعدو سره په ټکر کې نه وي، چې دا د يو دولت پر بهرني سياست د نړيوال سازمان اغېزه روښانوي. په دغه ډول

* په دې کې فعال او غيرفعال ټول سازمانونه دي.

سازمانونو کې یې ځینې ډېر اغېزمن دي لکه ملګري ملتونه**، د پیسو نړیوال صندوق*** او نړیوال بانک****.(۲)

**۳- نړیوال ایتلافونه:** کله چې دولتونه ایتلاف کوي او یا له یو ایتلاف سره یوځای کېږي، نو غړي یې اړ دي چې د ایتلاف منشور ومني او تطبیق یې کړي. د بېلګې په ډول، که یو دولت د ناټو نظامي ایتلاف غړی شي او ناټو پر یو هېواد د برید پرېکړه وکړي، نو غړي هېوادونه یې اړ دي خپل بهرنی سیاست داسې تنظیم کړي چې له یوې خوا د ناټو برید تایید کړي او له بلې خوا د ناټو په ماموریت کې خپل عسکر هغه هېواد ته ولېږي چې دا په ښکاره د غړي دولت پر بهرني سیاست د ایتلاف اغېزه روښانوي.

**دویم- داخلي لاملونه**

د یو هېواد د بهرني سیاست پر پرېکړو ځینې داخلي لاملونه هم اغېزې لري چې په لاندې ډول دي:

**۱ـ جغرافیه، قلمرو او نفوس:** د یو هېواد جغرافیه، قلمرو او نفوس پر خپل وار پر بهرني سیاست اغېزې ښېندي، د بېلګې په ډول، هغه هېوادونه چې نفوس او مساحت یې کم وي هڅه نه کوي چې په نړیوالو لانجو او معاملو کې ډېر ښکېل شي، نو ځکه یو محافظه‌کارانه بهرنی سیاست تنظیموي لکه ګامبیا، بینن، بروني، قرغیزستان او نور.... همدارنګه هغه هېوادونه چې نفوس او مساحت یې ډېر وي، هغوی تل په نړیوالو مسایلو کې ګډون کوي او پرغلیز بهرنی سیاست ترتیبوي، لکه د امریکا متحده ایالات، روسیه او چین. البته دا دلیل مطلق نه دی، ځکه د شمالي کوریا او اسرائیلو نفوس او مساحت کم دی، خو بیا هم پرغلیز بهرنی سیاست لري او له لویو قدرتونو سره د ډغرې وهلو هڅه کوي. همدارنګه د استرالیا، کاناډا او برازیل نفوس او مساحت ډېر دی، خو بهرنی سیاست یې محافظ کارانه دی.(۳)

**۲- جغرافیایي موقعیت:** جغرافیایي موقعیت هم د بهرني سیاست پر جوړونه اغېز لري، د بېلګې په ډول هغه هېوادونه چې له غوره جغرافیایي موقعیت څخه برخمن دي،

** United Nations (UN)
*** International Monetary Fund (IMF)
**** World Bank (WB)

بهرنۍ سیاست یې فعال او برعکس هغه هېوادونه چې غوره جغرافیایي موقعیت نه لري، په نړیوالو اړیکو کې ډېر مطرح نه دي او بهرنۍ سیاست یې هم ډېر فعال نه وي.

**۳- اقتصادي پرمختګ او طبیعي سرچینې:** هغه هېوادونه چې له اقتصادي پلوه قوي او پراخې طبیعي زېرمې لري، د هغوی بهرنۍ سیاست فعال او په نړیوال سیاست کې مطرح وي، لکه امریکا، روسیه، جرمني او فرانسه او هغه هېوادونه چې اقتصاد یې کمزوری او طبیعي زېرمې یې کمې وي، په نړیوال سیاست کې مطرح نه وي، لکه ګامبیا، نیپال، ځینې افریقایي هېوادونه او داسې نور...[۴]

**۴- د رهبر شخصیت او کرکټر:** د یو هېواد د رهبر یا جمهور رئیس شخصیت هم د بهرني سیاست پر جوړونه اغېز لري. د یوې ډلبندۍ له مخې رهبران په دوه ډلو وېشل کېږي:

۱- «Hawks» رهبران: هغه رهبران دي چې د هغوی شخصیت او طبیعت جدي وي او ډېر ژر غصه کېږي، نو د دې ډول رهبرانو بهرنۍ سیاست هم یرغلیز وي لکه هټلر، موسولویني، جورج بوش، ټرمپ او نور...

۲- «Doves» رهبران: هغه رهبران دي چې د هغوی شخصیت او طبیعت نرم او ارام وي، نو د دې ډول رهبرانو بهرنۍ سیاست هم محافظه‌کارانه وي، لکه اوباما، امانویل مکرون، جوبایډن او شي جېنپنګ.[۵]

له پورتنیو لاملونو پرته ځینې نور لاملونه هم شته لکه نظامي وړتیاوې، د نظام ډول، کلتور او تاریخ، عامه افکار، سیاسي ګوندونه ، مدني ټولنې او داسې نور...، خو د مقالې د اوږدېدو د مخنیوي په موخه د هغې له تشریح څخه تېرېږو.

**د جمهوریت بهرنۍ سیاست**

کله چې په ۲۰۰۱ز. کال د سپتمبر پر ۱۱مه نېټه د امریکا متحده ایالاتو پر نړیوال سوداګریز مرکز او پنټاګون برید وشو، نو د امریکا متحده ایالاتو جمهور رئیس جورج بوش القاعده شبکه د دې برید مسؤله وګڼله. دا چې هغه مهال د دې شبکې مشر اسامه بن لادن په افغانستان کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې ژوند کاوه، نو امریکا متحده ایالاتو له اسلامي امارت څخه د هغه د ورسپارلو غوښتنه وکړه، خو اسلامي امارت د امریکا متحده ایالاتو په شرایطو د اسامه بن لادن له سپارلو انکار وکړ او هماغه و چې امریکامتحده ایالاتو پر افغانستان نظامي برید او یرغل وکړ چې په پایله

کې د اسلامي امارت نظام ړنګ او د نوي نظام د رامنځته کولو په موخه امریکا متحده ایالاتو د بن غونډه راوبلله، د دې غونډې په پای کې د بن تاریخي هوکړه لاسلیک شوه، د دې هوکړې پر بنسټ په افغانستان کې د جمهوري نظام د رامنځته کولو لپاره درې پړاوونه وټاکل شول. لومړی پړاو یې د لنډمهالې اداري جوړېدل، دویم یې د انتقالي ادارې جوړېدل او په پای کې د اساسي قانون په رڼا کې د ټاکنو له لارې د جمهوري نظام رامنځته کول وو، چې له همدغو پړاوونو وروسته په افغانستان کې نوی جمهوري نظام رامنځته شو(٦) چې بیا په ۲۰۲۱ز. کال د اګست پر ۱۵مه نېټه د اسلامي امارت له لوري ړنګ او د جمهوریت پرځای اسلامي امارت حاکم شو. په دې مقاله کې د همدغو دوو نظامونو بهرنۍ سیاست څېړل شوی او پرتله شوی دی. لومړی د جمهوریت د بهرني سیاست پر عمومي ستراتیژو او کړنلارو بحث کوو.

## ۱- لیکلی بهرنی سیاست

د جمهوریت بهرنی سیاست لیکلی (مدون) و چې د تدوین او عملي کولو په موخه یې لومړی ځل په ۱۳۹۲هـ.ل. کال کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ستراتیژیک پلان ترتیب او په همدغه پلان کې یې د افغانستان د بهرني سیاست اصول او اساسي ټکي په نخښه او په عمومي ډول یې د افغانستان د بهرني سیاست لپاره درې بنسټیز ټکي بیان کړل:

۱- ملي ګټې او ملي مصالح؛

۲- ملي اهداف؛

۳- ملي ارزښتونه او ملي عنعنات.

په خپل وخت کې پورتني درې موضوعات د افغانستان د بهرني سیاست د جوړولو بنسټیز معیارونه وګڼل شوو.(٧)

همدرانګه د افغانستان د ۱۳۸۲هـ.ل. کال د اساسي قانون په اتمه ماده کې د افغانستان د بهرني سیاست اصول او یا هم د افغانستان بهرنی سیاست تعریف شوی دی. دغه ماده وايي: «دولت د هېواد خارجي سیاست د خپلواکۍ، ملي ګټو، ځمکنۍ بشپړتیا په ساتلو، مداخله نه کولو، ښه ګاونډیتوب، دوه اړخیز درناوي او د حقوقو د برابرۍ پر بنسټ تنظیموي.» د دې مادې پر بنسټ له نورو هېوادونو سره د افغانستان اړیکې او بهرنی سیاست د همدې اصولو په رڼا کې تنظیمیږي.(٨) لنډه دا چې د جمهوریت بهرنی سیاست لیکل شوی او د بهرنیو چارو وزارت په ستراتیژیک پلان کې ترتیب شوی و.

### ۲- ایتلافي بهرنی سیاست

ایتلافي بهرنی سیاست هغه دی چې په هغې کې د یو هېواد ولسمشر پرېکړه کوي چې له یوه بل ځواکمن هېواد سره اتحاد یا ایتلاف وکړي. د ایتلاف ډېر معمول ډول نظامي ایتلافونه دي چې په هغې کې دوه یا څو لوري هوکړه کوي چې د برید پر مهال باید له یو بل سره مرسته وکړي.

د نظامي ایتلاف په اړه څو ډوله نظریې موجودې دي. یو نظر دا دی چې نظامي ایتلاف کولای شي د یو هېواد امنیتي ستونزې حل او هېواد د ثبات خوا ته یوسي. بل نظر دا دی چې کېدای شي همدا نظامي ایتلاف یو هېواد د ناامنۍ او جنګ لوري ته یوسي، د بېلګې په ډول ترکیې نه غوښتل چې په نظامي ماموریت افغانستان ته راشي، خو دا چې د ناټو نظامي ایتلاف غړی و، نو اړ وه چې باید افغانستان ته راشي او د یوه نه غوښتل شوي جنګ برخه شي. همدارنګه نظامي ایتلاف د وسلو سیالۍ ته او د وسلو سیالي بیا جنګ ته لار پرانیزي، د بېلګې په ډول، د روسیې، سربیا او جرمني ترمنځ او د اسټریا او هنګري ترمنځ نظامي ایتلاف د لومړۍ نړیوالې جګړې لامل شو. بل نظر دا دی چې نظامي ایتلاف د قواوو د توازن (Balance of Power) په موخه ترسره کېږي، یعنې کله چې یو ځواکمن هېواد پر یو کمزوري هېواد برید وکړي، نو کمزوری هېواد د خپلې دفاع په موخه اړ دی چې له یوه بل ځواکمن هېواد سره نظامي ایتلاف وکړي تر څو له برید کوونکي هېواد سره یې د قدرت توازن برابر او له ځان څخه دفاع وکړي، د بېلګې په ډول کمزوري هېوادونه به د هټلر او ناپیلون له ظلمونو د بچ کېدو په موخه د هغوی له مخالفانو سره په ایتلاف کې یوځای کېدل.(۹)

د نیویارک پوهنتون د سیاسي علومو استاد او څېړونکی« Bruce Bueno de Mesquita» نظامي ایتلاف په درېیو برخو وېشي:

**۱- بې طرفه نظامي ایتلاف:** هغه ایتلاف دی چې په دې کې دوه یا څو دولتونه هوکړه کوي چې که د هوکړې غړي هېوادونه له نورو هېوادونو سره په جنګ کې ښکېل کېږي، نو د هوکړې لوري به له یوه هېواد سره هم مرسته نه کوي او بې‌طرفه به پاتې کېږي.*

**۲- مشورتي نظامي ایتلاف:** هغه ایتلاف دی چې د تړون لوري هوکړه کوي چې که د تړون پر غړو هېوادونو د نورو هېوادونو له خوا برید کېږي، نو دوی به له یو بل سره د جنګ په اړه مشورې شریکوي. د دې ډول ایتلاف ښه بېلګه په لومړۍ نړیواله جګړه کې د روسیې، برتانیې، فرانسې او امریکا متحده ایالاتو ایتلافي تړون دی.

**۳- دفاعي نظامي ایتلاف:** په دې ډول ایتلاف کې غړي هېوادونه هوکړه کوي چې که د تړون پر غړو هېوادونو د نورو هېوادونو له خوا حمله وشي، نو دوی به یې ملاتړ او دفاع کوي. ښه بېلګه یې د ناټو نظامي ایتلاف دی.[۱۰]

د جمهوریت بهرنی سیاست بې‌طرفه نه و، بلکې په نړیواله کچه د امریکا د متحده ایالاتو او د سیمې په کچه د هند پر اتحاد ولاړ و. کېدای شي ووایو چې یو یې نظامي ایتلاف او بل یې سیاسي ایتلاف و او دا ایتلاف په رسمي ډول امریکا متحده ایالاتو هم تایید او ثبت کړی و او افغانستان یې له غیرناټو هېوادونو څخه بهر د امریکا متحده ایالاتو په متحدینو کې حساب کړی و. په دې اړه د امریکا متحده ایالاتو او د افغانستان جمهوري دولت ترمنځ دوه اړخیز امنیتي تړون د امنیتي او دفاعي همکاریو تړون (Security and Defense Cooperation Agreement) تر سرلیک لاندې په ۲۰۱۴ز. کال کې د سپتمبر پر دېرشمه نېټه لاسلیک شو. دې تړون ۲٦ مادې درلودې چې امریکایي ځواکونو ته په افغانستان کې نظامي اډې او د افغانستان د پولو او ګمرکونو له لارې د نظامي تجهیزاتو راتګ منل شوی و. د تړون د ۲٦مې مادې پر بنسټ دا تړون تر ۲۰۲۴ز. کال پورې د تطبیق وړ دی، خو د جمهوریت له سقوط سره سم دا تړون هم لغوه شو او امریکایان له افغانستان څخه ووتل. دا تړون په دې دلالت کوي چې افغانستان د امریکا متحده ایالاتو نظامي متحد و.[۱۱]

* د بېلګې په ډول: اسټریا او هنګري ایتلاف کوي چې که روسیه په اسټریا برید وکړي، نو هنګري به بې‌طرفه پاتې کېږي او له روسیې سره به مرسته نه کوي او که روسیه په هنګري برید وکړي، نو اسټریا به بې‌طرفه پاتې کېږي او له روسیې سره به مرسته نه کوي.

همدارنګه د افغانستان جمهوري دولت له هند سره هم د ستراتیژیکو همکاریو تړون (Agreement on Strategic Partnership between Islamic Republic of Afghanistan and the Republic of India) په ۲۰۱۱ز. کال د اکتوبر پر څلورمه نېټه لاسلیک کړی چې له مخې یې دواړو لوریو له یو بل سره د نورو همکاریو ترڅنګ په سیاسي او امنیتي همکاریو هوکړه کړې وه.[۱۲] له دې معلومېږي چې هند د افغانستان سیمه ییز متحد و. همدارنګه د افغانستان جمهوري دولت دې ته ورته له خپلو نورو نړیوالو متحدینو سره هم ځینې هوکړه لیکونه لاسلیک کړي چې له ډلې یې ایټالیا، فرانسه، برتانیا، جرمني، ناروې او اسټرالیا د یادولو وړ دي.[۱۳] د دې ډول بهرني سیاست زیان دا و چې افغانستان له یوې خوا د خپلو ګاونډیانو لکه ایران، چین او پاکستان لپاره اندېښنې رامنځته کړې وې او له بلې خوا یې په سیمه کې د روسیې لپاره لوی تشویش ایجاد کړی و او د دغو اندېښنو د لرې کولو لپاره یادو هېوادونو داسې کړنې ترسره کولې چې هغه د افغانستان په زیان وې.[۱۴] همدارنګه د جمهوریت پرمهال د طالبانو تحریک غړو ایران، روسیې او چین ته سفرونه وکړل په داسې حال کې چې جمهوریت او عملاً یې د سلامي امارت پرخلاف جګړه کوله، خو بیا هم د سیمې هېوادونو د طالبانو له تحریک سره مرستې او مذاکرات کول؛ لامل یې دا و چې تېر نظام د امریکا متحده ایالاتو نظامي متحد و او د سیمې هېوادونو دا ډول اتحاد د ځان لپاره ګواښ باله.

### ۳- امنیتي محوره بهرنی سیاست

د جمهوریت بهرنی سیاست امنیتي محوره و او د دغه ډول بهرني سیاست د غوره کولو دوه لاملونه وو: یو یې بهرنی لامل و او هغه افغانستان ته د امریکا متحده ایالاتو نظامي راتګ و، کله چې اسلامي امارت په خپله تېره دوره کې د القاعدې مشر اسامه بن لادن امریکا متحده ایالاتو ته تسلیم نه کړ، نو جورج بوش د امنیتي موخو لپاره پر افغانستان برید وکړ ترڅو د القاعدې او طالبانو تحریک پر وړاندې مبارزه وکړي، نو د همدې امنیتي موخو له امله د افغانستان بهرنی سیاست هم امنیتي محوره تنظیمېده. دویم لامل یې داخلي و چې د حکومت پر خلاف اسلامي امارت مبارزه کوله او له همدې امله بهرنی سیاست امنیتي محوره تنظیمېده تر څو افغانستان وکولای شي د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د اړیکو له لارې د طالبانو تحریک مخنیوی وکړي؛ امنیتي محوره بهرنی سیاست طبیعي خبره ده چې د سیمې د هېوادونو لپاره ګواښ و.[۱۵]

## ۴- نامتوازن بهرنی سیاست

د جمهوریت بهرنی سیاست متوازن نه و، بلکې د نړیوالو او سیمه ییزو هېوادونو ترمنځ یې په ځینو شخړو کې طرف نیوه، د بېلګې په ډول د سعودي عربستان او یمن په قضیه کې یې د سعودي طرف ونیو چې له ایران سره یې پرې اړیکې خرابې شوې؛ د ارمنستان او اذربایجان په قضیه کې یې د اذربایجان طرف ونیو[١٦]، د هند او پاکستان ترمنځ قضایاوو کې یې د هند ملاتړ کاوه، د امریکا متحده ایالاتو او روسیې ترمنځ یې امریکا متحده ایالاتو ته ترجیح ورکوله، خو داسې هم شوي چې کله یې د امریکا متحده ایالاتو پرخلاف د روسیې اړخ نیولی، د بېلګې په ډول د ۲۰۱۴ز. کال په مارچ میاشت کې د سوریې او وینزویلا تر څنګ افغانستان هم د اوکراین پر کریمیا سیمه د روسیې د یرغل ملاتړ وکړ، سره له دې چې امریکا متحده ایالاتو دا په ښکاره ډول د اوکراین اشغال وباله او ملګرو ملتونو کې له سلو زیاتو هېوادونو د روسیې پرخلاف رایه ورکړه[١٧] چې دا خپله د جمهوریت د بهرني سیاست پر نامتوازنوالي دلالت کوي او دا ډول نامتوازن بهرنی سیاست د افغانستان په څېر یو کمزوري هېواد لپاره مناسب نه و.

## د اسلامي امارت بهرنی سیاست

د افغانستان اسلامي امارت چې د ۲۰۲۱ز. کال د اګست پر ۱۵مه نېټه واک ته ورسېد، تر اوسه یې د سیمې او له ګاونډیو هېوادونو سره نارسمي اړیکې ټینګې کړي. د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت ویاند عبدالقهار بلخي په وینا ایران، ترکیه، پاکستان، روسیه، چین، مالیزیا، قرغزستان، ازبکستان، ترکمنستان، قطر او قزاقستان هغه هېوادونه دي چې اسلامي امارت ته یې په دغه خاوره کې افغان سفارتونه او قونسلګرۍ سپارلي او غواړي چې له اسلامي امارت سره اړیکې ټینګې کړي،[١٨] خو سره له دې هم اسلامي امارت د خپل بهرني او کورني سیاست له لارې نه دی توانېدلی د نړۍ هېوادونه قانع کړي چې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. دا چې اسلامي امارت خپل بهرنی سیاست څه ډول مخ ته وړي، دلته پرې بحث کوو.

## ۱- نالیکلی بهرنی سیاست

د اسلامي امارت بهرنی سیاست نالیکلی (غیرمدون) دی. نږدې یو نیم کال یې له واکمنۍ تېر شو، خو لا هم د بهرني سیاست په اړه داسې لیکلي څه نه لري چې په رسمي ډول د اسلامي امارت دریځ ترې روښانه شي[١٩] او بهرنیو چارو وزارت یې په

خپل ستراتیژیک پلان کې د تطبیق لپاره هڅې وکړي. همدارنګه کوم حقوقي چوکاټ یا اساسي قانون هم لا تراوسه نه دی لیکل شوی چې د هغې په رڼا کې د اسلامي امارت د بهرني سیاست پر اصولو او کړنلارو پوه شو. لیکلی بهرنی سیاست او د بهرني سیاست لیکلي بنسټیز اصول د یو هېواد لپاره ډېر اړین دي.

## ۲- بې‌طرفه بهرنی سیاست

د افغانستان د معاصر بهرني سیاست لنډ تاریخ ته که ځیر شو، نو تر ډېره یې بې‌طرفه بهرنی سیاست غوره کړی. د بې‌طرفۍ لوی لامل دا و چې افغانستان تر ډېره د لویو قدرتونو ترمنځ په بفر کې پاتې شوی او د افغانستان د هغه وخت شاهي ټولواک سره دا وېره وه چې ښایي طرفدار سیاست مو له ګټو زیات تاوان سره مخامخ کړي.[۲۰] د افغانستان د بې-طرفۍ د مخینې په اړه دوه نظریې دي: لومړی نظر دا دی چې د افغانستان بهرنی سیاست له امان الله خان څخه رانیولې تر ۲۰۱۴ز. کال پورې (پرته له هغو حکومتي دورو چې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ) چې د اشرف غني له لوري د امریکا متحده ایالاتو سره امنیتي تړون لاسلیک شو، بې‌طرفه و او بل نظر دا دی چې له امان الله خان څخه تر ۲۰۰۱ز. کال پورې (پرته له هغو حکومتي دورو چې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ)  چې امریکا متحده ایالاتو او ناټو افغانستان ته راغلل بې طرفه و او لامل یې دا ښایي چې افغانستان ته د امریکا متحده ایالاتو راتګ په خپله د امریکا متحده ایالاتو د اتحاد او د بې‌طرفۍ د نقض په معنی دی.[۲۱] د افغانستان د بې‌طرفۍ مخینې په اړه پورتنیو دواړو نظریو کې وروستۍ نظریه منطقي ښکاري.

افغان لیکوال نصیر احمد د بې طرفه سیاست په اړه وایي: «ما په خپلو مطالعاتو کې د دریو هېوادونو بې طرفي څېړلې چې له افغانستان سره د پرتلې وړ ده: سویس هغه هېواد دی چې له جغرافیایي او کثیر الملیتي اړخه له افغانستان سره ورته والی لري. سویس وتوانېده چې په لومړۍ او دویمه نړیواله جګړه کې بې‌طرفي وساتي او د جنګ له زیانونو په امان کې اوسي، تر دې چې ورته د «نړۍ بانک» وویل شو. همدرانګه له دویمې نړیوالې جګړې وروسته اتریش د څلورو هېوادونو امریکا متحده ایالات، فرانسه، انګستان او روسیې له خوا کنټرولېده. د همدې هېوادونو له خوا اتریش بې‌طرفه اعلان شو او د نړیوالو مذاکراتو پر یوه مرکز بدل شو. دا دوه د بې طرفۍ بریالۍ بېلګې دي. دریم هېواد لاوس دی چې د ۱۹۶۰-۱۹۶۵ کالونو ترمنځ د ویتنام په جنګ کې بند پاتې شو او په همدې وخت کې امریکا متحده ایالاتو او

شوروي اتحاد پرېکړه وکړه چې لاوس د یو بې‌طرفه هېواد په توگه په رسمیت وپېژني، خو د لاوس بې‌طرفي نه بریالۍ کېږي او لامل یې دا دی چې د سیمې هېوادونه په ځانگړي ډول چین، ویتنام او تایلیند د لاوس د بې‌طرفۍ په اړه د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد له پرېکړې سره موافق نه وو او د همدوی د مخالفت له امله د لاوس بې‌طرفۍ دوام ونکړ.»[۲۲]

د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر امیر خان متقي د اسلامي امارت بهرنۍ سیاست بې‌طرفه اعلان کړی دی، نوموړی وایي: « د افغانستان اسلامي امارت بهرنۍ سیاست مثبت، بې طرفه، متوازن او اقتصاد محوره دی.»[۲۳]

کله چې د بې‌طرفه بهرني سیاست خبره کېږي، نو موخه دا ده چې یو هېواد د لویو قدرتونو ترمنځ شخړو کې ښکېل نشي، د لویو قدرتونو له ډلې د کوم قدرت متحد نشي، د ناټو په څېر د نظامي ایتلافونو برخه نشي او له ټولو سیالانو سره د خپلو ملي گټو په چوکاټ کې اړیکې ټینگې کړي.

اسلامي امارت له یوې خوا رسمي بې‌طرفه بهرنۍ سیاست اعلان کړی[۲۴] او له بلې خوا عملاً په ښکاره ډول د لویو قدرتونو ترمنځ د کوم قدرت متحد نه دی، متحده ایالاتو هم له غیر ناټو هېوادونو څخه بهر د متحدینو له لېست څخه ایستلی او د افغانستان د ستونزو او جنگونو د پای ته رسېدو یوازینۍ حل په بې‌طرفه بهرني سیاست کې نغښتی دی.

**۳- اقتصاد محوره بهرنۍ سیاست**

اقتصاد محوره بهرنۍ سیاست په نړیوال سیاست کې مهم ځای لري. له اروپایي ټولنې څخه د انگلستان د وتلو مهم لامل اقتصادي دی. د چین او امریکا متحده ایالاتو د اړیکو د خرابوالي یو لامل اقتصادي دی. د چین له لوري د اسیا پراختیایي بانک د رامنځته کېدو لامل دا دی چې د نړیوالو مسایلو په تنظیم کې له اقتصادي پالیسۍ څخه کار واخلي او تر ټولو مهمه دا چې نن ورځ د نړۍ د هېوادونو سیالۍ په اقتصادي محور راڅرخي او د افغانستان اقتصادي پرمختگ ته هم باید لار پرانېستل شي. بله مهمه موضوع چې افغانستان یې د اقتصادي پالیسۍ جوړولو او د هغې د تعقیب لپاره ډېر ښه فرصتونه په لاس کې لري هغه له چین سره د مس عینک او له هند سره د حاجي گک د اوسپنې تړونونه دي چې

پخوا د اقتصادي ډیپلوماسۍ له لارې لاسلیک شوي او اسلامي امارت کولای شي دوام ورکړي، خو د مدیریت په برخه کې یې باید ډیر پام وشي. همدارنګه ځینې سیمه ییزې پروژې لکه ټاپي[1]، کاسا- ۱۰۰۰[2]، ټاپ ۵۰۰[3]، چابهار[4]، د پنځو ملتونو د ریل

۱- دغه پروژه د ۲۰۱۵ز. کال د ډسمبر میاشتې پر ۱۳مه نېټه د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ترمنځ لاسلیک شوه. د دې پروژې له لارې به ۳۳ میلیارده کیوبیک متره ګاز هر کال غړو هېوادونو ته انتقالېږي. د دې پروژې پر بنسټ به ګاز د ترکمنستان له دولت اباد څخه پیلېږي او د ۱۸۰۰ کیلو متره سړک پرمټ به د افغانستان د هرات - کندهار له لارې د پاکستان کویټې او ملتان ته او له هغه ځایه د هند فېضلکه (Fazilka) ته رسېږي. پلان دا و چې د دې پروژې کارونه باید په ۲۰۱۰ز. کال کې پیل شي او په ۲۰۱۵ز. کال کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي، خو تر ننه دا کار نه دی شوی.

(Amina khan, AFGHANISTAN AND REGIONAL CONNECTIVITY, INSTITUTE OF STRATEGIC STUDIES ISLAMABAD, Aug 6, 2019, P. 3.)

۲- د برېښنا دغه پروژه په ۲۰۱٦ز. کال کې د قرغېزستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان ترمنځ لاسلیک شوه. د دې پروژې ټوله بودیجه ۱،۲ میلیارده ډالر اټکل شوې او تمه وه چې د ۲۰۱۹ز. کال تر پای د برېښنا انتقال پیل شي. د دې پروژې له لارې به له قرغیزستان څخه برېښنا تاجکستان، له تاجکستان څخه افغانستان او د افغانستان له لارې به د پاکستان پېښور ته انتقالیږي. د دې پروژې له لارې به افغانستان ۳۰۰ میګا واټه او پاکستان ۱۰۰۰ میګاواټه برېښنا ترلاسه کړي، خو کارونه یې تر دې دمه هم بشپړ شوي نه دي.

(M. Azim Wardak, Infrastructure Connectivity in Afghanistan, Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan, 2017, P. 12.)

۳- د ۲۰۱۵ز. کال په ډسمبر میاشت کې ترکمنستان، افغانستان او پاکستان د برېښنا دغه پروژه لاسلیک کړه، چې له دې لارې به ۲۰۰۰ میګا واټه برېښنا له ترکمنستان څخه افغانستان او له افغانستان څخه پاکستان ته انتقال شي. پر دې پروژه ۱۵۰ میلیونه ډالره لګښت راځي چې د اسیا پراختیایي بانک یې د پور په ډول د ورکړې ژمنه کړې ده. تمه وه چې د ۲۰۱۸ز. کال په لومړۍ ربعه کې د پروژې کار پیل شي، خو لا هم نیمګړې پاتې ده.

(...), Work on TAP-500 to start in Q1 2018, Economist Intelligence, 2017, Acess link: Work on TAP-500 to start in Q1 2018 (eiu.com)

٤- دغه پروژه په ۲۰۱٦ز. کال کې د افغانستان، ایران او هند ترمنځ لاسلیک شوه. دا پروژه د دغو دریو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټ او ټرانزیټ یوه سمندري لار ده چې له لارې یې افغانستان له هند سره نښلېږي او له دې لارې به دغه هېوادونه خپل مالونه او خدمات یو بل ته انتقالوي.

(M. Azim Wardak, Infrastructure Connectivity in Afghanistan, Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan, 2017, P. 12.)

پټلۍ[۵] او داسې نور... یو ښه فرصت دی تر څو اقتصاد پرې پیاوړی شي. د اقتصاد محوره بهرني سیاست له لارې داسې نورې پروژې هم هېواد ته راوړل کېدای شي.[۲۵]

د اسلامي امارت د بهرني سیاست بل اصل دا دی چې بهرنی سیاست یې اقتصاد محوره اعلان کړی[۲۶] او ستر لامل یې د امریکا متحده ایالاتو له لوري د مرستو بندېدل دي او افغانستان اړ دی چې له داخلي عایداتو خپله بودیجه تنظیم کړي. بل دلیل دا دی چې د دوی په نظر امنیت راغلی او امنیت محوره بهرنی سیاست نور د افغانستان په ګټه نه دی، بلکې یوازې اقتصاد محوره بهرنی سیاست د افغانستان په ګټه دی. د اقتصاد محوره بهرني سیاست تر ټولو لویه ګټه دا ده چې د افغانستان سیمه‌ییز اتصال لپاره به فرصتونه برابر شي، ځکه د امنیت محوره بهرني سیاست او په سیمه کې د امریکا متحده ایالاتو د شتون له امله افغانستان د لویو قدرتونو د سیالۍ ډګر و چې له امله یې د افغانستان سیمه‌ییز اتصال له ستونزو سره مخامخ و. د اقتصاد محوره بهرني سیاست لاس ته راوړنه دا ده چې، چین دلته پانګونې ته زړه ښه کړی، له ایران سره سوداګریزې اړیکې پراخې شوي، روسیې د افغانستان پر صادراتو تعرفه ختمه کړې او لا هم د ښو سوداګریزو اړیکو غوښتونکی دی. همدارنګه د هند تخنیکي ټیم له اسلامي امارت سره پر خبرو بوخت دی او پاکستان هم له اسلامي امارت سره په اقتصادي اړیکو کار کوي.

**۴- متوازن بهرنی سیاست**

اسلامي امارت د خپل نامدون بهرني سیاست په اعلان کې د متوازن بهرني سیاست خبره هم یاده کړې ده. په دې معنی چې له یوې خوا به اسلامي امارت د نړیوالو او سیمه ییزو قدرتونو ترمنځ په اړیکو کې توازن ساتي او له بلې خوا به

۵- دغه پروژه افغانستان له سیمې سره نښلوي چې د پنځو هېوادونو چین، تاجکستان، قرغیزستان، افغاستان او ایران ترمنځ په ۲۰۱۴ز. کال کې لاسلیک شوه، خو په افغانستان کې د ناامنۍ له امله یې کارونه تر دې دمه نه دي بشپړ شوي. د دې پروژې موخه دا ده چې د ریل پټلۍ له لارې دغه پنځه هېوادونه یو له بل سره ونښلي او خپل مالونه او خدمات یو بل ته انتقال کړي. پر دې پروژه باندې دوه میلیارده ډالره لګښت راځي چې اوږدوالی یې ۲۱۰۰ کیلو متره دی.
(M. Azim Wardak, Infrastructure Connectivity in Afghanistan, Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan, 2017, P. 15.)

دوی د دغو قدرتونو ترمنځ په شخړو کې طرف نه نیسي. جمهوریت ونشو کولای چې د هند او پاکستان ترمنځ په بهرني سیاست کې توازن وساتي او له همدې امله دواړو هېوادونو په افغانستان کې د یو او بل پر وړاندې جګړه کوله، خو د هند له لوري په کابل کې د سفارت پرانیسته او دلته د تخنیکي ټیم له راتګ داسې معلومېږي چې اسلامي امارت خپل متوازن بهرني سیاست ته متعهد دی او دا ډول سیاست کولای شي له یوې خوا افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر لور روان کړي او له بل لوري له نیابتي جګړو لرې پاتې شي. همدارنګه اسلامي امارت پوهېږي چې پر یو هېواد له نظامي او اقتصادي پلوه تکیه ډېر زیانونه له ځان سره لري په همدې موخه یې د امریکا متحده ایالاتو سره د خبرو ترڅنګ له چین او روسیې سره هم خپلې اړیکې ساتلې دي[۲۷] او د دواړو هېوادونو سفارتونه هم په افغانستان کې پرانېستي دي.

**پرتله**

د پرتلې په ډول ویلای شو چې د بهرني سیاست په اړه په لاندې برخو کې د جمهوریت او اسلامي امارت ترمنځ توپیرونه موجود دي:

۱- د جمهوریت بهرنی سیاست لیکلی (مدون) و او د بهرنیو چارو وزارت په ستراتیژیک پلان کې یې یادونه شوې وه، خو د اسلامي امارت بهرنی سیاست تر دا مهاله نالیکلی (نامدون) دی او د جمهوریت ټول هغه اسناد چې د بهرني سیاست په تدوین دلالت کوي تر دا مهاله په تعلیق کې دي.

۲- د جمهوریت د بهرني سیاست په اړه یو حقوقي چوکاټ موجود و. د ۱۳۸۲ هـ.ل. کال د اساسي قانون اتمه ماده د جمهوریت د بهرني سیاست لپاره یو حقوقي چوکاټ ترسیم کړی و، خو د اسلامي امارت د بهرني سیاست په اړه تر دا مهاله کوم حقوقي چوکاټ نشته او اساسي قانون هم د تعلیق په حال کې دی.

۳- د جمهوریت بهرنی سیاست بې‌طرفه نه و، بلکې د امریکا متحده ایالاتو پر ایتلاف ولاړ و، خو د اسلامي امارت بهرنی سیاست بې‌طرفه او له نظامي پلوه په ښکاره ډول د لویو قدرتونو ترمنځ د کوم قدرت متحد نه دی.

۴- د جمهوریت بهرنی سیاست امنیت محوره و، خو د اسلامي امارت بهرنی سیاست اقتصاد محوره دی.

۵- د جمهوریت بهرنی سیاست نامتوازن و او نه یې شو کولای چې د نړیوالو او سیمې قدرتونو ترمنځ توازن وساتي، خو د اسلامي امارت بهرنی سیاست متوازن دی او تر دا مهاله په دې برخه کې بریالی دی.

**پایله**

د اسلامي امارت بهرنی سیاست د جمهوریت په پرتله مناسب او د افغانستان شرایطو ته په کتو ګټور دی، ځکه افغانستان له یوې اوږدې جګړې زوربېري او نور د دې حوصله نه لري چې د لویو قدرتونو د نظامي ایتلافونو برخه شي. له دې جګړې یې د راویستلو لپاره بې‌طرفه او متوازن بهرني سیاست ته اړتیا ده چې له ښه مرغه اسلامي امارت د بهرني سیاست همدا اصل خپل کړی دی. همدارنګه افغانستان له اقتصادي پلوه په وروسته پاتې هېوادونو کې راځي او اړتیا ده چې له اقتصادي پلوه دا هېواد پرمخ ولاړ شي، د دې لپاره اړینه ده چې بهرنی سیاست یې اقتصاد محوره ترتیب شي چې اسلامي امارت د همدې موخې لپاره خپل بهرنی سیاست اقتصاد محوره اعلان کړی دی.

د اسلامي امارت د بهرني سیاست یوه اساسي نیمګړتیا دا ده چې بهرنی سیاست یې نامدون دی. همدارنګه اساسي قانون هم نه لري چې د بهرني سیاست اساسي اصول یې په کې یاد کړي وي او لیکلی بهرنی سیاست او په اساسي قانون کې د هغې د اساسي اصولو لیکل د یو هېواد لپاره اړین دی.

**وړاندیزونه**

۱- بې‌طرفه بهرنی سیاست د افغانستان شرایطو ته په کتو د دې هېواد د ستونزو لپاره یوه ښه حللاره ده، نو اسلامي امارت باید په هېڅ ډول په بهرني سیاست کې بې-طرفي نقض نه کړي.

۲- افغانستان تل د نامتوازن بهرني سیاست له امله د نیابتي جګړو ډګر ګرځېدلی، نو اسلامي امارت دې په بهرني سیاست کې د روسیې او امریکا متحده ایالاتو، چین او امریکا متحده ایالاتو، ایران او امریکا متحده ایالاتو، هند او پاکستان، هند او چین، ایران او سعودي عربستان او نورو قدرتونو ترمنځ توازن وساتي.

۳- افغانستان دا مهال له اقتصادي بحران سره مخامخ دی، نو اقتصاد محوره بهرنۍ سیاست د هېواد په ګټه او په واقعي ډول باید ادامه ورکړل شي، د چابهار، ټاپي، کاسا ۱۰۰۰، ټاپ -۵۰۰، د پنځو ملتونو د ریل پټلۍ او نورو اقتصادي پروژو تطبیق لپاره باید جدي اقدامات ترسره شي.

۴- اسلامي امارت لیکلی بهرنۍ سیاست نه لري. اساسي قانون هم تر دا مهاله نشته ترڅو د افغانستان د بهرني سیاست اساسي اصول په کې روښانه شي او لیکلی بهرنۍ سیاست د یو هېواد لپاره اړین دی، نو اسلامي امارت باید د اساسي قانون په رامنځته کولو سره لومړی د افغانستان د بهرني سیاست اساسي اصول معرفي کړي او له بلې خوا د بهرنیو چارو وزارت باید لیکلی بهرنۍ سیاست رامنځته کړي.

۵- له امریکا متحده ایالاتو سره ښې اړیکې د رسمیت پېژندنې، اقتصادي وضعیت ښه والي، داخلي امنیتي وضعیت ښه والي او له نورو اروپایي او هغو هېوادونو سره چې د امریکا متحده ایالاتو متحد دي، مهمې دي، نو له امریکا متحده ایالاتو سره باید د تقابل پر ځای له تعامل څخه کار واخیستل شي.

**مأخذونه**


1- Bojang AS, The Study of Foreign Policy in International Relations, Journal of Political Sciences & Public Affairs Vol 3, Issue 4, Oct 18, 2018, P. 3. Access link: https://www.longdom.org/open-access-pdfs/the-study-of-foreign-policy-in-international-relations-2332-0761-1000337.pdf

2- Ibid.

3- Ibid, P. 5.

4- Ibid, P. 6.

5- Ibid, P. 7.

٦- عبدالصبور مبارز، د اساسي قانون تحلیل او شننه، لومړی ټوک، سلام خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۷ هـ.ل، ۵ مخ.

۷- فرامرز تمنا، سیاست خارجی افغانستان در سپهر همکاری‌های منطقه‌یی، جلد اول، مرکز مطالعات ستراتیژیک وزارت امور خارجهو ۱۳۹۳ هـ.ل، ۱۸ مخ.

۸- د افغانستان اساسي قانون، عـدليې وزارت رسـمي جريـده، ۱۳۸۲هــ.ل کـال، اتمـه ماده.

9-Alex Mintz, Karl DeRouen, Understanding Foreign Policy Decision Making, Cambridge University Press, 2010, P. 126. Access link: https://doi.org/10.1017/CBO9780511757761

10- Ibid, P. 127.

11- SECURITY AND DEFENSE COOPERATION AGREEMENT BETWEEN THE ISLAMIC REPUBLIC OF AFGHANISTAN AND THE UNITED STATES OF AMERICA, 2014, Sep 30. Access link:
https://www.afghanistan-analysts.org/wp-content/uploads/2014/10/BSA-ENGLISH-AFG.pdf

12-Agreement on Strategic Partnership between the Islamic Republic of Afghanistan and the Republic of India, 2011, Oct 4. Access link: https://eoi.gov.in/kabul/?pdf4644?000

۱۳- فرامـرز تمنـا، سیاسـت خـارجی افغانسـتان در سـپهر همکـاری‌هـای منطقـه‌یـی، مخکینی مأخذ، ۲۴ مخ.

14- Raghav Sharma, India & Afghanistan: Charting The Future, Institute of Peace and Conflict Studies, 2009, P.1, Access Date: 28/DEC/2020, Available at:
http://www.jstor.com/stable/resrep09279

۱۵- محمد عقیل یوسفی، بازبینی سیاست خارجی افغانستان در دوره امارت اسـلامی، نن ټکی اسیا، ۲۰۲۲ز. کال اپریل ۲۲، د لاسرسي ور:
https://www.nunn.asia/202862/

16- (…), Why Afghanistan Has Pledged Support for Azerbaijan in Nagorno Karabakh, The Defense Post, Nov 3, 2020, Access link:

https://www.thedefensepost.com/2020/11/03/afghanistan-support-azerbaijan-nagorno/

17-Khatir Pardes Abubakar Siddique, As Kabul Backs Azerbaijan In Conflict With Armenia, Afghans Recall Fighting In Previous War, Radio Free Europe Radio Liberty, October 07, 2020, Access link: https://www.rferl.org/a/as-kabul-backs-azerbaijan-in-conflict-with-armenia-afghans-recall-fighting-in-previous-war/30880802.html

18-Iran Hands Over Afghan Embassy in Tehran to Taliban, United Against Nuclear Iran, Feb 2023.

19- Kristian Berg Harpviken, The Foreign Policy of the Afghan Taliban, Peace Research Institute Oslo (PRIO), Feb 2021, P. 3. Access link: https://www.prio.org/publications/12644

۲۰- عبدالحی قانت، د افغانستان بهرنی سیاست؛ تناقض، پراډکس او واقعیتونه، پژواک خبري اژانس، ۲۰۲۱، د لاسرسي وړ:

https://pajhwok.com/ps/2021/08/06/afghan-foreign-policy-paradoxes-and-realities/

۲۱- نصیر احمد اندیشه، بیطرفی در سیاست خارجی افغانستان، انستیتوت مطالعات استراتیژیک افغانستان، ۱۳۹۵ دلو ۱۴، ۹ مخ. د لاسرسي وړ:

https://www.aiss.af/assets/aiss_flagship/b7e25df5b9c3b68ca083fe60d98ec172.pdf

۲۲- مخکینی مأخذ.

۲۳- احمد صهیب حسرت، متقي: د افغان حکومت بهرنۍ پالیسي- مثبته، بې طرفه، متوازنه او اقتصاد محوره ده، پژواک خبري اژانس، ۲۰۲۲ جنورۍ ۱۱، د لاسرسي وړ:

https://pajhwok.com/ps/2022/01/11/muttaqi-the-afghan-governments-foreign-policy-is-positive-neutral-balanced-and-economically-oriented/

24- Kristian Berg Harpviken, The Foreign Policy of the Afghan Taliban, Op. Cit., P. 3.

۲۵- مزمل شینواری، فرصت ها و چالش های سیاست خارجی افغانستان، انستیتیوت مطالعات استراتیژیک افغانستان، ۱۳۹۵ دلو ۱۴، ۱۵ مخ. د لاسرسي وړ:
https://www.aiss.af/assets/aiss_flagship/b7e25df5b9c3b68ca083fe60d98ec172.pdf

٢٦- احمد صهیب حسرت، متقي: د افغان حکومت بهرنۍ پالیسي- مثبته، بې طرفه، متوازنه او اقتصاد محوره ده، مخکینی مأخذ.

27- Kristian Berg Harpviken, The Foreign Policy of the Afghan Taliban, Op. Cit., P. 4.

معاون سرمحقق عبدالشکور سالنگی

# بررسی روابط کشورهای آسیای مرکزی با امارت اسلامی افغانستان

**خلاصه**

با پایان اشغال افغانستان توسط ایالات متحده امریکا و متحدین آن کشور در ماه اگست سال ۲۰۲۱ میلادی و فروپاشی نظام اسبق در افغانستان، امارت اسلامی دوباره بر افغانستان حاکم شد. طبیعتاً زمانیکه یک نظام برکنار و نظام دیگری در یک کشور مستقر می‌شود، نوع تعامل و روابط کشورها نیز با آن دچار دگرگونی می‌شود. بر این مبنا در مقاله حاضر روابط کشورهای آسیای مرکزی با افغانستان پس از بازگشت امارت اسلامی به قدرت در افغانستان مورد بررسی و تحلیل قرار گرفته است. به صورت کلی روابط کشورهای آسیای مرکزی با افغانستان در یک سال و چند ماه گذشته علی‌رغم اینکه به صورت رسمی (دیژوره) برقرار نشده اما به جز تاجکستان که از داشتن هر نوع تعامل سیاسی با امارت اسلامی خودداری کرده چهار کشور ترکمنستان، ازبکستان، قرغزستان و قزاقستان تعامل سیاسی سطح بالایی را با امارت اسلامی در قالب روابط غیر رسمی (دیفکتو) برقرار کرده اند که از فعال نگهداشتن سفارتخانه‌ها، حفظ سفرا و سفرهای متعدد مقامات عالی رتبه آن کشورها به کابل پیداست. در حوزه اقتصادی نیز روابط تجاری میان کشورهای آسیای مرکزی و افغانستان حتی بیشتر از گذشته پررونق بوده زیرا داده‌ها نشان می‌دهد که میزان داد و ستد تجاری میان دو طرف افزایش چشم‌گیری داشته است. همچنین کشورهای آسیای مرکزی پس از تحول جدید علاقمندی خود را بر سرمایه‌گذاری‌های اقتصادی در افغانستان ابراز داشته و مجدانه پی‌گیر طرح‌های اقتصادی هستند که ضمن گسترش بیشتر روابط اقتصادی آن کشورها با افغانستان زمینه پیشرفت‌های اقتصادی مناطق اطراف را نیز فراهم می‌کند.

**مقدمه**

با پایان اشغال افغانستان توسط امریکا و متحدینش در ۳۱ اگست سال ۲۰۲۱ میلادی و استقرار دوباره امارت اسلامی با این اصل و مبنای سیاست خارجی که امارت اسلامی خواهان داشتن روابط حسنه در تمام حوزه‌ها با همه کشورها به خصوص

همسایه های افغانستان بوده و به هیچ گروهی اجازه نمی‌دهد که از خاک افغانستان علیه کشوری استفاده کند و همچنین اینکه امارت اسلامی دولتی بی‌طرف با محوریت و اولویت اقتصادمحوری در سیاست خارجی می‌باشد، فصل جدیدی در روابط افغانستان با دیگر کشورها به خصوص کشورهای همسایه باب شد. در این فصل جدید که مبنای روابط افغانستان با جهان به خصوص همسایه بر پایه اصول متذکره و متکی به اراده و استقلال کامل داخلی در حوزه سیاست خارجی همراه شد، به کشورهای دیگر اجازه داد که روابط با افغانستان را از نو تعریف کرده و برقرار سازند. این تحول بزرگ تمام روابط و تعامل افغانستان و بالمقابل کشورهای جهان با افغانستان را به شکل اساسی دستخوش تغییر قرار داد؛ زیرا همواره تغییری چون جایگزین شدن حکومتی با حکومت مانند آنچه در افغانستان اتفاق افتاد ماهیت، تنوع و سطح تعامل و روابط کشورهای جهان را با حکومت جدید به شدت متأثر خواهد کرد. معطوف به این مفروض و بر محور این پرسش که تعامل و روابط کشورهای آسیای مرکزی با امارت اسلامی در یک سال و اندی گذشته چگونه بوده و در چه سطحی برقرار بوده است؟ نوع تعامل و سطح روابط پنج کشور آسیای مرکزی با امارت اسلامی بررسی خواهد شد. اهمیت این موضوع از آنجا ناشی می‌شود که اولاً افغانستان با سه کشور آسیای مرکزی همسایه بوده و با دو کشور دیگر به‌خصوص قزاقستان دارای داد و ستد اقتصادی زیادی است و ثانیاً به دلیل قرار گرفتن افغانستان در همسایگی آسیای مرکزی، تأثیرپذیری متقابل امنیتی شدیدی میان هر دو طرف وجود دارد و قطعاً نوع روابط کشورهای منطقه با افغانستان بر امنیت و اقتصاد هر دو طرف تأثیر زیادی دارد. ضرورت و مبرمیت موضوع نیز در این است که تحول جدید در افغانستان که در نتیجه آن نظام گذشته که پشتیانی مستقیم امریکا و متحدینش را به همراه داشت از میان رفت و امارت اسلامی دوباره به افغانستان حاکم شد، ایجاب می کند که روابط دو طرف مورد بررسی و ارزیابی مجدد قرار گرفته و موارد مثبت و احتمالاً منفی آن برجسته شود.

بنابراین در این مقاله برای توضیح کامل نگاه، تعامل و روابط کشورهای آسیای مرکزی با امارت اسلامی در سه برهه زمانی جدا مورد بررسی قرار می‌گیرد. در برهه اول، نگاه و تعامل کشورهای منطقه به امارت اسلامی در دوره امارت اسلامی اول، در برهه دوم نگاه و تعامل کشورهای منطقه در دوره نظام گذشته و در برهه سوم نگاه، تعامل و روابط کشورهای منطقه به امارت اسلامی در دور حاضر بررسی خواهد شد.

**روابط کشورهای آسیای مرکزی و امارت اسلامی در دهه ۱۹۹۰**

با وجودی که هر پنج کشور آسیای مرکزی پس از کسب استقلال، در سال ۱۹۹۲ میلادی روابط رسمی خود با حکومت وقت تشکیل شده در کابل (دولت اسلامی افغانستان) را آغاز کردند اما این روابط به زودی به دلیل وقوع جنگ داخلی در افغانستان به تعلیق درآمد و برخی از کشورهای منطقه از یکی از طرف‌های جنگ داخلی حمایت کردند مثلاً تاجکستان از جناح شورای نظار و حزب جمعیت اسلامی حمایت می‌کرد و در مقابل ازبکستان از عبدالرشید دوستم. در خلال سال‌های ۱۹۹٦-۲۰۰۱ میلادی که امارت اسلامی بر تقریباً ۹۰درصد خاک افغانستان حاکمیت داشت، روابط رسمی میان افغانستان و کشورهای آسیای مرکزی قطع شد. در میان سال‌های مذکور کشورهای آسیای مرکزی هر کدام سیاست خاص خود را در قبال افغانستان دنبال کردند. از میان همسایه‌های افغانستان، کشور تاجکستان خصمانه‌ترین سیاست را در قبال امارت اسلامی پیشه کرد. این کشور به دلیل حمایت از یک طرف نبرد که موسوم به اتحاد شمال بود، در موضع دشمنی با امارت اسلامی قرار گرفت.

کشور ازبکستان همانند تاجکستان در طول جنگ‌های داخلی میان تنظیم‌ها از یکی از طرف‌های جنگ موسوم به جنبش که رهبری آنرا عبدالرشید دوستم به عهده داشت، حمایت کرد. با حاکمیت امارت اسلامی، کشور ازبکستان علی‌رغم اینکه نگرانی‌هایی از جانب افغانستان داشت اما در قضایای داخلی افغانستان عملاً دست از مداخله برداشته و موضع بی‌طرفی برگزید. موضع اعلامی این کشور در قبال افغانستان صلح میان دو طرف (امارت اسلامی و طرف مقابل) بود. گذشته از این حکومت ازبکستان در قبال قضایای افغانستان بی‌کار ننشسته و طرح ابتکاری را به عنوان گروه تماس ۲+٦ (شش کشور همسایه افغانستان به شمول روسیه و ایالات متحده) برای حل بحران افغانستان روی دست گرفت که در نتیجه مذاکرات آن گروه به صدور اعلامیه ۱۳ ماده‌ای در جولای سال ۱۹۹۹م. در تاشکند با تأکید بر این اصل کلی که گزینه نظامی راه‌حل بحران افغانستان نیست و باید از طریق مذاکره به رهبری ملل متحد به بحران این کشور خاتمه داده شود، انجامید. باوجود اینکه این مذاکرات تأثیر ملموسی بر وضعیت افغانستان نگذاشت ولی مهم‌ترین کارکردی که برای حکومت ازبکستان داشت این بود آن کشور می‌خواست نشان دهد که در قبال

افغانستان چه نیت خیری داشته و خواهان حل مسالمت‌آمیز بحران موجود در کشور همسایه خود می‌باشد. ازبکستان برای کاهش هرچه بیشتر آسیب‌پذیری خود از طرف افغانستان و در این راستا که امارت اسلامی به گروه‌های ضد حکومت ازبکستان اجازه ندهد علیه ازبکستان از خاک افغانستان عملیات تخریبی انجام دهند، در سال ۲۰۰۰ میلادی رئیس جمهور ازبکستان آشکارا اعلان نمود که وی امارت اسلامی را تهدید برای کشورش تلقی نمی‌کند و صرفاً توقعی که دارد این است که امارت اسلامی و نیروهای ائتلاف شمال یک دولت مشترک و ائتلافی بسازند و حتی سفیر این کشور در اسلام‌آباد با نمایندگان امارت اسلامی ملاقات کرده و دو طرف در زمینه عدم مداخله در امور داخلی یک‌دیگر متعهد شدند.[1]

برعکس تاجکستان و ازبکستان کشور ترکمنستان به دلیل سمت‌گیری بی‌طرفی خود در سیاست خارجی از بدو استقلال کوشید که در جنگ‌های داخلی بین تنظیم‌ها در افغانستان هیچ‌گونه مداخله‌ای نداشته باشد و موضع بی‌طرفی و عدم تعهد خود را حفظ کند. آن کشور پس از حاکمیت امارت اسلامی در سال ۱۹۹٦ میلادی در افغانستان، نه‌تنها هیچ‌گونه موضع خصمانه و انتقادی در مقابل آن نگرفت بلکه علاوه بر این روابط نسبتاً خوب ولی غیر رسمی خود را با امارت اسلامی دوره اول برقرار کرد.[2] در واقع برخلاف دو همسایه دیگر شمالی افغانستان که در دوره حاکمیت اول امارت اسلامی همواره نگرانی‌های امنیتی خود را از جانب افغانستان و حضور امارت اسلامی در همسایگی خود ابراز می‌کردند، هیچ‌گونه نگرانی از خود بروز نداده و روابط خود را در حد دیفکتو بدون کدام نگرانی با امارت اسلامی حفظ کرد.

قزاقستان و قرغزستان به عنوان کشورهای آسیای مرکزی که مرز مشترک با افغانستان ندارند، به دلیل دوری از افغانستان و تأثیر غیر مستقیم اوضاع افغانستان بر اوضاع آن کشورها کمتر دخیل در قضایای افغانستان بودند. این دو کشور علی‌رغم اینکه همانند سه کشور دیگر منطقه روابط رسمی خود را با حکومت وقت کابل در سال ۱۹۹۲ شروع کردند اما به دلیل وقوع جنگ و درگیری میان تنظیم‌ها سفارت‌خانه‌های خود را در کابل بسته و روابط خود را با افغانستان به تعلیق درآوردند. موضع کلی هر دو کشور در قبال افغانستان این بود که جنگ و ناامنی در این کشور موجب سرایت ناامنی به کل منطقه شده که باید از طریق مصالحه میان طرف‌ها به پایان برسد تا امنیت کل منطقه که در گرو امنیت افغانستان است تأمین شود.

## نگاه کشورهای آسیای مرکزی به امارت اسلامی در دوره نظام جمهوریت

در دوره نظام گذشته (جمهوریت) تمام پنج کشور آسیای مرکزی سفارتخانه‌های خود را در کابل بازگشایی کرده و روابط دیپلوماتیک در مرکز و کنسولی را با آن در برخی از شهرهای افغانستان از سر گرفتند. در این دوره روابط هر پنج کشور آسیای مرکزی با نظام گذشته در سطوح سیاسی، اقتصادی و فرهنگی برقرار بود. در باره نگاه این کشورها نسبت به امارت اسلامی می‌توان گفت که اکثر کشورهای مذکور بااینکه روابط خوب و گرمی با نظام گذشته داشته و حتی برخی از آنها (ازبکستان تا سال ۲۰۰۵ و قرغزستان تا سال ۲۰۱۴) پایگاه نظامی هم در اختیار امریکا قرار داده بودند اما موضع هرکدام در قبال امارت اسلامی متفاوت بود.

https://www.hydrocarbons-technology.com/projects/turkmenistan-afghanistan-pakistan-india-tapi-gas-pipeline-project/

۴۰- جواد افشار. «وزارت داخله – ایجاد یک قطعه ویژه برای تأمین امنیت پروژه تاپی»، سایت شبکه تلویزیونی تمدن، تاریخ نشر: ۲۰۲۲/۱۰/۱۰ قابل دسترسی: https://tamadon.af/?p=55678

۴۱- عارف عثمانزوی. «مروری بر روابط طالبان با همسایگان شمالی افغانستان»، ویب سایت صدای امریکا، تاریخ نشر ۱۴۰۰/۱۱/۲۴ قابل دسترسی:

https://www.darivoa.com/a/taliban-relations-with-afghanistans-northern-neighbors-/6439892.html

۴۲- ذبیح‌الله جهانمل. «موافقتنامهٔ راه لاجورد میان پنج کشور امضا شد»، سایت طلوع نیوز، تاریخ نشر: ۱۳۹٦/۸/۲۴ قابل دسترس: https://tolonews.com

۴۳- « 'راه لاجورد' که تولیدات افغانستان را به اروپا می‌برد، افتتاح شد»، سایت بی‌بی‌سی فارسی، تاریخ نشر: ۱۳۹۷/۹/۲۲ قابل دسترسی:

https://www.bbc.com/persian/afghanistan-46552665

۴۴- « راه لاجورد؛ بهترین مسیر برای صادرات کالاهای افغانستان به اروپا»، ویب سایت تی آر تی، تاریخ نشر: ۲۰۱۹/۱/۹ قابل دسترسی:

https://www.trt.net.tr/dari/brnmh-h/2019/01/09/rh-ljwrd-bhtryn-msyr-bry-sdrt-khlhy-fgnstn-bh-rwp-1122010

45- " Delegation of the Kyrgyz Republic delivered humanitarian aid to Afghanistan", PRESIDENT OF THE KYRGYZ REPUBLIC website, available at:
https://www.president.kg/ru/sobytiya/20735_delegaciya_kirgizskoy_respubliki_dostavila_v_afganistan_gumanitarnuyu_pomosh

46- " Kyrgyz Envoy Meets Top Islamic Emirate Officials", ToloNews website, 7/11/2022 available at: https://tolonews.com/afghanistan-180649

47- "Kyrgyzstan Exports to Afghanistan", tradingeconomy website, available at:
https://tradingeconomics.com/kyrgyzstan/exports/afghanistan

48 - "Trade and economic cooperation" Embassy of the Kyrgyz Republic in the Islamic Republic of Afghanistan website, available at: https://mfa.gov.kg/en/dm/Embassy-of-the-Kyrgyz-Republic-in-the-Islamic-Republic-of-Afghanistan/Menu---Foreign-/--uslugi/Trade-and-Economic-Cooperation/rade-and-economic-cooperation-5c19d1ad942ba

49-" Kazakhstan's Delegation Pays Working Visit to Afghanistan", The Astana Official website of the President of the Republic of Kazakhstan, available at:
https://akorda.kz/en/kazakhstan-delegation-pays-working-visit-to-afghanistan-1791436

50- "Kazakhstan Exports to Afghanistan", Tradingeconomics website available at:
https://tradingeconomics.com/kazakhstan/exports/afghanistan

51- "Kazakhstan increased wheat exports to Afghanistan by almost 20%", Trading website, available at:
https://www.tridge.com/news/kazakhstan-increased-wheat-exports-to-afghanistan-
#:~:text=According%20to%20official%20statistics%2C%20in,amounted%20to%2074.89%20thousand%20tons.

52- "Afghanistan Exports to Kazakhstan", Tradingeconomics website available at:
https://tradingeconomics.com/afghanistan/exports/kazakhstan

53- Afghanistan/Kazakhstan, OEC website, available at:
https://oec.world/en/profile/bilateral-country/afg/partner/kaz

54-"Kazakhstan, Pakistan, Discussing Trans-Uzbek-Afghan Railway Routes To Arabian Sea", Silk Road Briefing website, Dec 26, 2022, available at:
https://www.silkroadbriefing.com/news/2022/12/26/kazakhstan-pakistan-discussing-trans-uzbek-afghan-railway-routes-to-arabian-sea/

څېړندوی عمران زکریا

# د افغانستان اسلامي امارت او روسیې د تعامل څرنګوالی: فرصتونه او اندېښنې

**لنډیز**

له افغانستان څخه د متحده ایالاتو له وتلو وروسته روسیه د یوه سیمه ییز ځواک په توګه د افغانستان په مسایلو کې د فعال رول لوبولو په هڅه کې ده. دغه مقاله د متحده ایالاتو له بشپړ وتلو وروسته د افغانستان اسلامي امارت او د روسیې تعامل ته ځانګړې شوې. د دې څېړنې له لارې ثابته شوې چې که څه هم دمګړۍ افغانستان ثبات تجربه کوي، خو روسیه بیا هم له افغانستان څخه مرکزي اسیا ته د بې ثباتۍ او ناامنۍ د خپرېدو اندېښنې لري. روسیه بیاځلي په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نفوذ د مخنیوي هڅې کوي، خو ورته مهال روسیه د افغانستان د اړتیاوو د پوره کولو لړه وړتیا لري چې کېدای شي دوه اړخیزه ښکېلتیا اغېزمنه کړي.

څېړنه په ډاګه کوي چې د اوکراین په جګړه کې د روسیې ښکېلتیا د افغانستان په بیارغونه کې د روسیې ونډه پیکه کړې ده، نو ځکه روسیه غواړي چین دې ته وهڅوي ترڅو د افغانستان په اقتصادي بیارغونه کې ونډه واخلي او خپله د پوځي او امنیتي ملګرتیا په هڅه کې ده. د روسیې او اسلامي امارت تعامل د دواړو لوریو په ژمنو پورې اړه لري، روسان له اسلامي امارت څخه امنیتي ډاډ غواړي ترڅو روسیه د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې، اقتصادي راکړې ورکړې او یو شمېر پروژو د تطبیق په اړه ګام پورته کړي.

**سریزه**

په افغانستان کې د جګړې سوله ییز حل او د افغان سولې په موخه، تر نهه ځله پرلپسې ناستو او بحثونو وروسته د ۲۰۲۰ ز.کال د فبرورۍ پر ۲۹مه نېټه د امریکا متحده ایالاتو او اسلامي امارت ترمنځ د دوحې تړون لاسلیک شو چې ورته مهال د متحده ایالاتو او د وخت افغان حکومت ترمنځ هم په کابل کې ګډه اعلامیه لاسلیک شوه.[۱] د دوحې تړون په ټوله کې د تاوتریخوالي پر راکمولو، د بهرنیو ځواکونو پر وتلو، د افغانانو ترمنځ د مذاکراتو پر پیل او دا چې افغانستان به د ترهګرو پر ځاله نه بدلېږي، تمرکز درلود.[۲]

د افغانستان پخوانی دولت چې په کور دننه او بهر له سیاسي، اقتصادي او امنیتي پلوه د متحده ایالاتو له ملاتړه برخمن و، په ۲۰۲۱ ز.کال کې نسکور او د

افغانستان اسلامي امارت واک ته ورسېد، له ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره یې د تعامل نوې دروازه پرانېسته. روسیه او د سیمې یو شمېر هېوادونه لکه ایران، چین او پاکستان چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو له شتون سره مخالف وو، دمګړی له اسلامي امارت سره په اړیکو کې د نوي فصل د پرانېستې په هڅه کې دي. ګاونډیان او د روسیې په ګډون د سیمې هېوادونه کله نا کله د اسلامي امارت د حکومت پر جوړښت نیوکې کوي او همدارنګه له افغانستان څخه مرکزي اسیا ته د ناامنۍ د پراخېدو تور هم پورې کوي، په داسې حال کې چې اسلامي امارت شته حکومت ټولشموله بولي او ژمنه یې کړې چې هېڅ ډلې ته به اجازه ورنکړي ترڅو د افغانستان خاوره د بهرنیو هېوادونو پر ضد وکاروي، چې تر ډېره یې خپله ژمنه په عمل کې ثابته کړې هم ده. روسیه د نورو اندېښنو ترڅنګ په افغانستان کې د متحده ایالاتو له بیا نفوذ څخه اندېښنه لري، دغه ستونزه د روسیې په ګډون د سیمې هېوادونه هم لري، چې له اقتصادي پلوه نه شي کولای د متحده ایالاتو ځای ونیسي او د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په اړه هم ګام نه پورته کوي.

د اسلامي امارت بیاځلي واک ته رسېدو سره د افغانستان او سیمې هېوادونو په اړیکو کې بدلون تر سترګو کېږي. د سیمې هېوادونه په ځانګړي ډول روسیه له اسلامي امارت سره په تعامل کې خپلې ګټې ګوري او هڅه کوي د متحده ایالاتو د نفوذ مخه ونیسي او رامنځته شوې تشه د سیمې له نورو هېوادونو سره په ګډه ډکه کړي. د څېړنې موخه د اسلامي امارت او فدراتیفې روسیې د دوه اړخیز تعامل څېړل او دا چې د دواړو لوریو په اړیکو کې کوم فرصتونه او اندېښنې شته، د موضوع اهمیت او اړتیا په ډاګه کوي.

د څېړنې اصلي پوښتنه دا ده چې ایا له افغانستان څخه د متحده ایالاتو وتل د اسلامي امارت او روسیې د اړیکو د نږدېوالي لپاره یو فرصت دی؟ او د څېړنې فرعي پوښتنه داسې ده چې ایا د روسیې له لوري د اسلامي امارت په اړه امنیتي اندېښنې او په رسمیت نه پېژندل به د دواړو غاړو تعامل ټکنی کړي؟ د څېړنې فرضیه داسې راولاړېږي چې د متحده ایالاتو له وتلو وروسته د افغانستان اسلامي امارت او روسیې اړیکې یو له بل سره نږدې شوې دي.

دا چې د اسلامي امارت له واک ته رسېدو څه کم دوه کلونه تېرېږي، نو په یو شمېر برخو د بېلګې په توګه اقتصادي سکټور کې د اسلامي امارت او روسیې ترمنځ

تازه ارقام نشته او همدارنګه په نورو برخو کې هم د پام وړ علمي څېړنې نه دي شوي، چې د څېړنې محدودیت په ډاګه کوي، نو په دې علمي – څېړنیزه مقاله کې د علمي – څېړنیزو مقالو ترڅنګ له انټرنېټي پاڼو او راپورونو څخه ډېره ګټه اخیستل شوې او څېړونکي د لاسرسي وړ مواد څېړلي دي. په دې مقاله کې د څېړنې تشریحي – تحلیلي مېتود کارول شوی دی.

**د اسلامي امارت او فدراتیفي روسیې دوه اړخیزې اړیکې**

د ۱۴۰۰ هـ.ل کال د اسد میاشتې پر ۲۴مه نېټه د اسلامي امارت بیاځلي واک ته په رسېدو سره د روسیې په ګډون د سیمې یو شمېر هېوادونو خپل سفارتونه په کابل کې پرانېستي پرېښودل. روسیې د بشري مرستو ترڅنګ له اسلامي امارت سره د تعامل په موخه ډې فکټو رسمیت پېژندنه غوره کړه او د اقتصادي اړیکو ترڅنګ یې سیاسي اړیکو ته هم دوام ورکړ. دا چې د افغانستان د اسلامي امارت او د روسیې اړیکې په کومه کچه کې دي، په لاندې ډول یې تر څېړنې لاندې نیسو.

**لومړی – سیاسي اړیکې**

کله چې په ۲۰۲۱ ز.کال کې اسلامي امارت بیاځلي واک ته ورسېد، د افغانستان سیمه ییزو اړیکو بدلون وموند او لاپسې ژورې شوې. د روسیې، چین، ایران، هند او ازبکستان له لوري سیمه ییزې غونډې ترسره شوې، ترڅو له تازه واک ته رسېدلي رژیم څخه سیاسي – اقتصادي ملاتړ وکړي[۳] او له اسلامي امارت سره ښکېل شي. د سیمې یو شمېر هیوادونو، لکه روسیې، پاکستان، ایران او چین خپل سفارتونه په کابل کې پرانېستي دي ترڅو له اسلامي امارت سره د ښکېلتیا چینلونه پرته له دې چې په رسمیت یې وپېژني، فعال وساتي.[۴] د متحده ایالاتو له وتلو سره سم په کابل کې د روسیې سفیر دېمیتري ژېرنوف اعلان وکړ چې دوی به په کابل کې خپل سفارت نه تړي، د اسلامي امارت له یو لړ چارواکو سره یې وکتل او یادې خبرې یې هیله بښونکې وبللې. همدارنګه د اسلامي امارت مسؤلینو په کابل کې د روسیې سفارت د خوندیتابه ډاډ هم ورکړ،[۵] خو د روسیې پر سفارت برید په ډاګه کړه چې په کور دننه یو شمېر ورانکاره ډلې چې کورنی او بهرنی ملاتړ لري، غواړي د اسلامی امارت او روسیې اړیکې زیانمنې او په افغانستان کې د بهرنیو پانګونو مخه ونیسي.[٦]

د ۲۰۲۱ز.کال په اگسټ کې د اروپايي ټولنې د بهرنیو چارو او امنیتي پالیسۍ لوړ استازي جوزپ بورېل په یوه وینا کې وویل چې د طالبانو واک ته رسېدل به په سیمه کې د قدرت جیوپولیټیک توازن بدل کړي او اندېښنه یې څرگنده کړه چې په هېواد کې به د روسیې او چین نفوذ وده وکړي.(۷) روسیه بیا د بېلابېلو ناستو له مخې خپلې غوښتنې وړاندې کوي، د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوټین د تاجکستان له ولسمشر امام علي رحمان سره په کتنه کې وویل چې غواړي له طالبانو سره اړیکې پراخې کړي او د حکومت په اډانه کې د افغانستان ټول قومونه وگوري.(۸) همدارنگه د روسیې د بهرنیو چارو وزیر لاوروف په یوه غونډه کې وویل چې روسیه د ټولو څواکونو په گډون په افغانستان کې د ملي ډیالوگ د بېرني پیل لپاره ولاړه ده او ټینگار یې وکړ چې د بین الافغاني مذاکراتو د بیا پیل لپاره د لازمو شرایطو د رامنځته کولو لپاره ډېر امکانات لري.(۹)

ځینې څېړونکي او پوهان بیا د اسلامي امارت د چارواکو د لیدلوریو د بدلون په اړه خبره کوي. د بېلگې په توگه، د هالنډ د یوټریچټ پوهنتون استاد نیلس ټېرپسټرا پر دې نظر دی چې د اسلامي امارت لومړۍ دورې په نویمو کلونو کې طالبانو د بهرنیو اړیکو له پراختیا سره ډېره لېوالتیا نه لرله، خو دا ځل واک ته له رسېدو سره سم غواړي له لوېدیځ، روسیې او گاونډیو هېوادونو سره خپلې بهرنۍ اړیکې پراخې کړي، ترڅو د رسمیت پېژندنې چانس ډېر کړي.(۱۰) ورته مهال، د افغانستان لپاره د روسیې ځانگړي استازي ضمیر کابلوف له یوه روسي تلوېزیون سره په مرکه کې وویل چې روسیه به د متحده ایالاتو او نورو هېوادونو د نظرونو په پام کې نیولو پرته د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په اړه پرېکړه وکړي، خو اړتیا ده چې اسلامي امارت په افغانستان کې ټولشموله حکومت رامنځته کړي. افغان لوري پر خپل وار د رسمیت پېژندنې په اړه د روسیې له چمتووالي خوښي څرگنده کړې او له اسلامي امارت سره یې د روسیې په گډون د نړیوالې ټولنې پر تعامل ټینگار کړی، چې بېلابېل خنډونه باید د افغانستان او نړیوالې ټولنې د تعامل مخه ونه نیسي.(۱۱)

د اسلامي امارت چارواکي د افغانستان بهرنۍ سیاست بې پرې بولي. د بهرنیو چارو وزارت د اوکراین کړکېچ په اړه اعلامیه صادره کړه چې د افغانستان اسلامي امارت د خپل بې پرې بهرني سیاست په چوکاټ کې د جگړې له دواړو غاړو غواړي چې د خبرو او سوله ییزو

لارو چارو له لارې کړکېچ حل کړي او همدارنګه د جګړې له ښکېلو غاړو یې وغوښتل چې په اوکراین کې د افغان محصلینو او کډوالو د ژوند خوندیتوب ته پام وکړي.[۱۲]

### دویم – اقتصادي اړیکې

د تاریخ په اوږدو کې د اسیا څلورلارې په توګه د افغانستان جغرافیایي موقعیت ډېر مهال د سیمه ییزو او نړیوالو ځواکونو د سیالۍ ډګر پاتې شوی، چې د هېواد جیوپولیټیک ناسم مدیریت له امله افغانان د ګټو پر ځای د زیانونو قرباني شوي دي. داسې ښرګندېږي چې د اسلامي امارت بهرنی سیاست بې پرې او اقتصاد محوره دی، ترڅو بهرنۍ پانګه راجلب کړي. د بهرنیو چارو سرپرست وزیر امیرخان متقي په چین کې د افغانستان په اړه جوړې شوې غونډې ته په وینا کې وویل: هېواد یې متوازنه او اقتصاد محوره کړنلاره غوره کړې ده. همدارنګه د ریس الوزراء لومړي مرستیال او د اقتصادي کمېسیون مشر ملا عبدالغني برادر اقتصادي کمېسیون ته په خپله وینا کې وویل: اقتصادي پرمختګ د دوی لپاره لومړیتوب دی او هڅه کوي فقر او بېکاري له منځه یوسي.[۱۳]

د دې لپاره چې روسیه د اسلامي امارت پر وړاندې نېک نیت وښیي او پر ملاتړ یې غږ پورته کړي، د بېلابېلو نړیوالو غونډو له لارې پر متحده ایالاتو غږ کوي چې د افغانستان کنګل شوې زېرمې بېرته ازادې او سیمې ته مرستې پیل کړي. که څه هم تر دې دمه په افغانستان کې د روسیې د اقتصادي ښکېلتیا کچه ټیټه ده، خو لېواله ده چې یو شمېر پخوانۍ پروژې بېرته ورغوي او نوې پروژې هم پیل کړي.[۱۴]

د شته اړتیاوو د پوره کولو په موخه، د افغانستان اسلامي امارت او روسیې ترمنځ د سوداګرۍ په برخه کې یو تړون لاسلیک شو، د افغانستان له لوري د سوداګرۍ او صنعت وزیر نورالدین عزیزي پکې ګډون کړی و، چې پر بنسټ به یې روسیه افغانستان ته پټرول، ډیزل، ګاز او غنم استوي. دا لومړی نړیوال اقتصادي تړون دی چې اسلامي امارت یې له روسیې سره لاسلیکوي او د اقتصادي ناورین په کنټرول کې کولای شي له افغانستان سره مرسته وکړي. د سوداګرۍ او صنعت سرپرست وزیر وویل: افغانستان له دې مخکې هم له ایران او ترکمنستان څخه تېل او ګاز ترلاسه کړي او له پاکستان سره پیاوړې سوداګریزې اړیکې لري، خو غواړو دغو اړیکو ته توپیریزه بڼه ورکړو؛ په دې معنا چې موږ یوازې په یوه هېواد تکیه ونکړو، بلکې نور بدیلونه هم ولرو.[۱۵]

د پولنډ په وارسا انسټيټوټ کې د اېروشيا پروګرام مشر پر دې نظر دی چې له امارت سره د تړون له لارې روسيه دوه موخې تعقيبوي: لومړی، روسيه د نوي مارکېټ موندلو په هڅه کې ده، په داسې حال کې چې لوېديځ هېوادونه هڅه کوي د وضع شويو بنديزونو له لارې د روسيې اقتصاد کمزوری کړي. هغه څه چې مهم دي، هغه دا چې د اقتصادي ګټو په خاطر روسيې د افغانستان په څېر نوی مارکېټ ترلاسه کړ. دويم، روسيه هڅه کوي د طالبانو تر حاکميت لاندې افغانستان کې خپل سياسي نفوذ پراخ کړي.(١٦)

همدارنګه د امريکايي چارواکو په باور د روسيې او اوکراين جګړه په نړيواله کچه د خوراکي توکو په بيه کې د لوړوالي لامل شوې ده. په متحده ايالاتو کې د بهرنۍ پاليسۍ څېړنيز انسټيټوټ د مرکزي اسيا د څانګې څېړونکی ماکسيميليان هېس امريکا غږ ته په خپلو خبرو کې وويل چې روسيه غله دانه او نور توکي په اوکراين کې د روسيې د جګړې له امله له نورو هېوادونو سره د اړيکو د ټينګښت په توګه کاروي. د هېس پر باور، له افغانستان او نورو هېوادونو سره د روسيې سوداګريزې اړيکې دوه اړخونه لري: لومړی، له افغانستان سره هوکړه دا د روسيې هڅه ده ترڅو په ډاګه کړي چې په سوداګريزه برخه کې روسيه اوس هم نړيوال ملګري لري. دويم، د افغانستان په ګډون له ايران سره د روسيې سوداګري د لوېديځ د وضع شويو بنديزونو د رد په معنا ده. همدارنګه د لوجيستيکي خنډونو د شتون او ټرانسپورټي زېربناوو نشتوالي په دوديزه توګه د افغانستان او روسيې ترمنځ د سوداګرۍ کچه کمه ساتلې ده.(١٧)

که په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان او روسيې دوه اړخيزې سوداګرۍ ته پام وکړو، ښکاره لوړوالی او ځوړوالی پکې ليدل کېږي. په دې معنا چې د دواړو هېوادونو سوداګريزې اړيکې له سياسي اړيکو څخه اغېزمنې شوې دي. د بېلګې په توګه، په ٢٠١١ ز.کال کې دوه اړخيزه سوداګري لوړه کچه تجربه کوي چې افغانستان روسيې ته ۴۴٫۷ مليونه ډالره صادارت او له روسيې څخه ۸۰۴ مليونه ډالره واردات لرل، خو په ٢٠١٢ ز.کال کې روسيې ته د افغانستان صادرات ١٠٫٦ مليونه ډالره او افغانستان ته د روسيې صادرات ۷۳۲ مليونه ډالرو ته راښکته شول،(١٨) چې په دغه کال کې له افغانستان سره د نړيوالې ټولنې تعامل او د دواړو هېوادونو د سياسي اړيکو اغېزې پر سوداګريزو اړيکو تر سترګو کېږي. که څه هم د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته د افغانستان او روسيې ترمنځ د سوداګريزو

اړيکو په اړه دقيق ارقام نشته، خو په افغانستان کې د روسيې لېوالتيا او د دوه اړخيزو اړيکو پراختيا ته په کتو، شونتياوې شته چې د دواړو هېوادونو سوداګريزو اړيکو پراختيا موندلې وي؛ ځکه روسيه د لوېديځوالو له لوري تر بنديزونو لاندې ده، نو دا يو فرصت دی ترڅو له افغانستان سره سوداګريزې اړيکې پراخې کړي.

د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرګي لاوروف د وينا پر بنسټ، روسيه په دې هڅه کې ده چې له افغانستان سره سوداګريزې او اقتصادي همکارۍ پراخې کړي. همدارنګه يو شمېر شنونکي بيا پر دې باور دي چې روسيه په افغانستان کې د اقتصادي ښکېلتيا له لارې غواړي پر افغانستان خپل نفوذ پراخ کړي.(۱۹) د يادونې وړ ده چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته ګاونډيان او سيمې هېوادونه له افغانستان سره د اقتصادي همکاريو د پراختيا په هڅه کې دي، چې ورته مهال د روسيې اقتصادي ښکېلتيا کولای شي کاري فرصتونه رامنځته کړي.

**درېيم - پوځي - امنيتي اړيکې**

له افغانستان څخه د متحده ايالاتو په وتلو سره روسيې هممهاله خوښي څرګنده کړه، خو د امنيت په اړه اندېښنې لري. دا چې روسيه د مرکزي اسيا امنيتي مجموعه کې يوازينی قدرت دی، نو ډېر کله امنيتي اندېښنې پلمه کوي ترڅو په مرکزي اسيا کې خپل امنيتي شتون ټينګ وساتي.

د اړيکو ټينګول او د ګډ امنيتي تړون تر نامه لاندې د ګډو تمرينونو ترسره کول له روسيې سره مرسته کوي چې د مرکزي اسيا ځينې جمهوريتونه د روسيې تر امنيتي چتر لاندې وساتي، ترڅو په مرکزي اسيا او افغانستان کې د مسکو نفوذ خوندي کړي. که څه هم روسيه په افغانستان کې د خپلو پوځيانو له شتون سره علاقه نه لري، خو په چټکۍ يې د مرکزي اسيا جمهوريتونه له خپلو امنيتي انګېرنو سره يو ځای کړي او قانع کړي چې د هر ډول احتمالي ګواښونو د مخنيوي لپاره خپله "ګډه ستراتيژي" ومني.

مسکو له متحده ايالاتو څخه اسلامي امارت ته د پاتې شويو پوځي تجهيزاتو او نشه يي توکو د قاچاق په اړه اندېښنې لري، چې دغه تجهيزات به په سيمه کې د يو شمېر ورانکارو ډلو لاس ته ورشي. د پولنډ د وارسا پوهنتون اذربايجانی څېړونکی نورلان علي اېف پر دې باور دی چې مسکو په سيمه کې د خپل نفوذ د ټينګښت په موخه په افغانستان کې د اسلامي امارت له بيا ځلي واکمنېدو وروسته له رامنځته کېدونکو احتمالي ګواښونو څخه د

یوې وسیلې په توګه کار اخلي. د شوروي اتحاد له ړنګېدو راهیسې، مسکو په افغانستان کې له ناڅرګندو حالتونو د مرکزي اسیا حکومتونو پر امنیتي پالیسیو د نفوذ لپاره کار اخیستی. د ګډ امنیتي تړون په سازمان کې روسیه د سیمې لپاره د امنیت تضمینونکی دی او خپلې وسلې د سازمان پر غړو هېوادونو پلوري.(۲۱)

کله چې اسلامي امارت واک ته ورسېد، روسیې له افغانستان سره په پوله تاجکستان او ازبکستان سره پوځي تمرینونه ترسره کړل. په ورته توګه، د ۲۰۲۱ ز.کال د سپټمبر پر ۱۶ او ۱۷ مه نېټه د ګډ امنیتي تړون او شانګهای همکارۍ سازمان غونډې ترسره شوې. د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته، روسیې د سیمې له یو شمېر هېوادونو، لکه هند او پاکستان سره ښکېلتیا پراخه کړه او ولسمشر پوټین په دې هڅه کې شو چې د دوه او څو اړخیزو اړیکو په چوکاټ کې د سیمې له مهمو لوبغاړو سره اړیکې پراخې کړي، ترڅو د خپلو پولو په اوږدو کې ثبات تضمین کړي.(۲۲) روسیه له پخوا راهیسې په افغانستان کې بې ثباتي د مرکزي اسیا جمهوریتونو او خپل ځان لپاره ګواښ ګڼي او له دې موضوع د خپل امنیتي او سیاسي نفوذ د پراختیا په موخه ګټه پورته کوي.

## د افغانستان په اړه سیمه ییزې غونډې او د روسیې رول

د ۲۰۲۱ ز.کال د سپټمبر پر ۱۷ مه د تاجکستان په پلازمېنه دوشنبه کې د شانګهای همکارۍ سازمان ۲۱مه غونډه ترسره شوه، چې د نورو موضوعاتو ترڅنګ د افغانستان د وضعیت په اړه پکې بحث وشو. د روسیې ولسمشر چې پرلیکه یې په غونډه کې ګډون کړی و، له متحده ایالاتو یې په افغانستان کې د شاته پرېښودل شویو ګډوډیو په اړه پوښتنه وکړه او له اسلامي امارت سره یې د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د متحده ایالاتو د ښکېلتیا غوښتنه وکړه.(۲۳) په غونډه کې د سیاسي بدلون له امله له افغانستان څخه کوم استازي ته د ګډون بلنه نه وه ورکړل شوې، ځکه حاکم رژیم تر دې دمه د نړیوالو له لوري په رسمیت نه دی پېژندل شوی. د غونډې ګډونوالو په افغانستان کې د ټولشموله حکومت د جوړېدو غوښتنه وکړه چې پکې ټول قومي، مذهبي او سیاسي ګروپونه شامل وي.(۲۴) همدارنګه د روسیې او چین ولسمشرانو پر نړیوالو غږ وکړ چې د متحده ایالاتو له لوري د افغانستان کنګل شوې زېرمې ازادې کړي. په ورته توګه، په همدغه نېټه په موازي ډول د ګډ امنیتي تړون غونډه هم ترسره شوه او دواړو ولسمشرانو

زياته کړه چې که افغانستان ته د اړتيا وړ ملاتړ چمتو نه شي، نو افغانستان به د ترهګرو او مخدره توکو پر ځاله بدل شي.[۲۵]

د روسيې ولسمشر ټينګار وکړ "نوموړی پر دې باور دی چې موږ بايد د دې سازمان له امکاناتو په استفادې د افغانستان د سولې د يوه ټولشموله بهير د پيلولو لپاره هر اړخيزه مرسته وکړو او په ورته وخت کې د ترهګرۍ، د نشه يي توکو قاچاق او له هغه هېواد څخه د را ولاړ مذهبي افراطيت د ګواښونو مخه ونيسو"[۲٦]. افغان څېړونکی احمد فريد توخی پر دې باور دی چې که څه هم روسيه له افغانستان څخه د راپورته کېدونکو امنيتي ګواښونو په اړه اندېښنه لري، خو دا چې ګاونډيان او د سيمې هېوادونه په افغانستان کې د ګټو اختلاف لري او د ټيکاو د ټينګښت پر وړاندې ستر خنډونه دي، نو اړتيا ده چې د افغانستان په اړه سيمه ييزه همغږي رامنځته او ګټې مشترکې شي.[۲۷]

## د اسلامي امارت او روسيې په اړيکو کې شته فرصتونه

په تېرو دوو لسيزو کې د افغانستان په اړه اکثره ګاونډيو او د سيمې هېوادونو يو مشترک ټکی درلود او هغه دا چې بهرني ځواکونه بايد له افغانستان څخه ووځي او د متحده ايالاتو شتون يې د خپلو ګټو پر وړاندې ګواښ ګاڼه. دا چې امريکايي پوځيان له افغانستان څخه ووتل، اوس نو د سيمې په کچه ستر مسؤليتونه د سيمې سترو قدرتونو، لکه چين او روسيې ته راجع کېږي چې بايد د افغانستان په اړه سيمه ييزه اجماع رامنځته او د بيارغونې لپاره ګام پورته کړي، ځکه سوله ييز او باثبات افغانستان يوازې د افغانانو په ګټه نه، بلکې د ټولې سيمې په ګټه دی.

د افغانستان لپاره د روسيې ځانګړي استازي ضمير کابلوف د ۲۰۲۳ ز.کال د جنوري پر ۱۲مه کابل ته سفر وکړ او د اسلامي امارت د بهرنيو چارو سرپرست وزير امير خان متقي سره يې وليدل چې د دوه اړخيزو اړيکو، سيمه ييزو موضوعاتو او اقتصادي همکاريو په اړه يې خبرې وکړې. ورته مهال د سياسي اړيکو پراختيا او د اقتصادي وضعيت ښه والي لپاره د اسلامي امارت په رسميت پېژندنه يوه اړتيا وليدل شوه.[۲۸] په کاناډا کې د کالګري پوهنتون پروفيسور الکساندر هېل پر دې باور دی چې له افغانستان څخه د متحده ايالاتو وتل، روسيې او چين ته غوره فرصت دی چې له اسلامي امارت سره ښکېل او د نړيوالو شريکانو د بديل په توګه پر مخ لاړ شي.[۲۹]

که څه هم له اوږدې مودې راهيسې افغانستان د سيمه ييزو او نړيوالو قدرتونو د

سیالۍ ډګر پاتې شوی او په اړه یې سیمه ییزه اجماع نشته، چې تر ډېره دغه مسولیت د سیمې هېوادونو ته راجع کېږي، ځکه د سیمې هېوادونه د افغانستان په تړاو د ګټو اختلاف لري،[۳۰] خو په دې وروستیو کې د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ویلي روسیه په دې هڅه کې ده چې G5 ته ورته د روسیې، چین، ایران، پاکستان او هند ترمنځ یو نوی سیمه ییز فارمټ رامنځته کړي چې دا به د سیمه ییزې اجماع د رامنځته کېدو لپاره بنسټ جوړ شي،[۳۱] نو اړتیا ده چې د سیمې هېوادونه د افغانستان په اړه واحد نظر او دریځ خپل کړي او ورته مهال اسلامي امارت هم د سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو حساسیتونه په پام کې ونیسي.

## د اسلامي امارت او روسیې په اړیکو کې اندېښنې

که څه هم د سیمې هېوادونه په پیل کې پر افغانستان د متحده ایالاتو له پوځي برید سره همغږي وو، خو وروسته د افغانستان په اړه د متحده ایالاتو او د سیمې د هېوادونو نه همغږي او په کور دننه د جګړې شدت د دې لامل شو چې متحده ایالات له افغانستان څخه ووځي. د متحده ایالاتو له وتلو څخه تر ډېره روسیه او چین ګټه پورته کوي، چې له متحده ایالاتو سره سیالۍ به په سیمه ییزه کچه همکارۍ له خنډ سره مخامخ کړي.[۳۲]

روسیه، ایران او د مرکزي اسیا جمهوریتونه له افغانستان څخه د ناامنۍ د پراختیا په اړه اندېښنې لري.[۳۳] د مقالې د لیکوالانو سابین فېشر او انجیلا سټېنزل په باور، مسکو د افغانستان په اړه د خپلې پالیسۍ له مخې درې مهمې موخې تعقیبوي: لومړی، د افغانستان بې ثباتي باید له پولې اخوا مرکزي اسیا ته ونه غځېږي چې د روسیې لپاره د اندېښنې وړ ده. دویم، نړیوالې ورانکارې ډلې باید په افغانستان کې د پښو ټینګولو او له دې ځای څخه مرکزي اسیا او روسیه کې د عملیاتو ترسره کولو ته پرېنښودل شي. له افغانستان څخه د نشه یي توکو د قاچاق مخنیوی د روسیې د پالیسۍ دریمه موخه جوړوي. بېجبنګ ته ورته، د روسیې سیاسي مشرتابه په کابل کې نویو واکمنانو ته د دغو مهمو موخو د پلي کولو لپاره د اصلي عنصر په سترګه ګوري.[۳۴] دغه ډول وضعیت مسکو ته دا فرصت ورکوي چې د مرکزي اسیا سیمې د امنیت تضمینوونکي په توګه خپل دریځ پیاوړی کړي. همدارنګه د اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته افغانستان سره پر پوله د مرکزي اسیا له یو شمېر جمهوریتونو سره د روسیې ګډ پوځي تمرینونو که له یوه لوري

په سيمه کې د روسيې پوځي ځواک ځرګندوي او طالبان قانع کوي چې روسيه کولای شي په راتلونکي کې د اسلامي امارت د پوځي متحد په توګه پاتې شي، خو له بل لوري د دغه ډول پوځي تمرينونو ترسره کول، کولای شي د روسيې او اسلامی امارت ترمنځ بې باوري رامنځته او زياته کړي.(۳۵)

په نويمو کلونو کې اسلامي امارت د سعودي عربستان، پاکستان او متحده عربي اماراتو له لوري په رسميت پېژندل شوی و، چې اوسمهال د هېڅ هېواد له لوري په رسميت نه دی پېژندل شوی. د افغانستان لپاره د روسيې ځانګړي استازي او د بهرنيو چارو وزارت د دويم اسيايي ډيپارټمنټ مشر ضمير کابلوف په يوه وينا کې وويل چې موږ د رسميت پېژندنې په اړه بيړه نه کوو، انتظار به وکړو او وګورو چې رژيم څه ډول چلند کوي.(۳٦) د يادونې وړ ده چې کورنی سياست پر بهرني سياست مستقيم اغېز لري؛ نو که څه هم بهرني هېوادونه حق نه لري د افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنه وکړي، خو بيا هم په نړيواله کچه د ښه تعامل لپاره اړتيا ده کورني مسايل په پام کې ونيول شي.

له پيله ګومان کېده چې افغانستان به د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته د سيمه ييزتوب لوري ته لاړ شي، خو جوتېږي چې متحده ايالات په سيمه کې د خپلو ګټو د خونديتوب او د سيالانو د ځپلو په موخه نه غواړي سيمه پرېږدي، نو له وضعيت په ډاګه کېږي چې د اسلامي امارت او روسيې ترمنځ د بې باورۍ چاپېريال شته؛ دا له دې امله چې روسيه ګومان کوي اسلامي امارت له متحده اياﻻتو سره نږدې اړيکې لري او دا په افغانستان او سيمه کې د خپل نفوذ پر وړاندې ګواښ ګڼي.

**پايله**

دوه اړخيزې اړيکې او د سيمې په کچه د اسلامي امارت او روسيې د اړيکو پراختيا هغه مهال شونې دي چې دوه اړخيز باور رامنځته شي او په افغانستان کې ثبات هغه مهال شونی دی چې د ګاونډيو او د سيمې د هېوادونو ګټې شريکې شي. د څېړنې پوښتنو ته د ځواب او د فرضيې له شننې جوتېږي چې د متحده اياﻻتو له وتلو وروسته د اسلامي امارت او روسيې اړيکې سره نږدې شوي او په ښه کچه کې دي، چې کله نا کله د ملګرو ملتونو په امنيت شورا کې د روسيې دايمي استازی د اسلامي امارت پر ملاتړ غږ پورته کوي، خو ورته مهال په افغانستان کې د نويو اصلاحاتو غوښتنه هم کوي.

جغرافیه نه بېلېدونکې ده، د متحده ایالاتو له وتلو وروسته د سیمې امنیت تر ډېره د روسیې او چین ګډ مسؤلیت ګرځېدلی، نو اسلامي امارت دې د ملي ګټو د خوندیتوب په صورت کې د روسیې په ګډون د سیمې له هېوادونو سره تعامل ته زړه ښه کړي. روسیه تر هغې چې په افغانستان کې یې ګټې خوندي وي، اسلامي امارت سره تعامل ته زړه ښه کوي، خو که د ګټو لیدلوری یې بدلون ومومي، شونې ده دوه اړخیز تعامل زیان ومومي. همدارنګه د اوکراین کړکېچ او په نړیواله کچه د روسیې منزوي کېدل له یوه لوري او د متحده ایالاتو او اروپايي ټولنې پر بشري مرستو د افغانستان تکیه له بل لوري، کولای شي د افغانستان پر سر د روسیې - چین او متحده ایالاتو سیالي اوږده کړي.

د روسیې او اسلامي امارت ترمنځ شته بې باوري به د امارت او روسیې ترمنځ اړیکې کمزورې او پیکه کړي. تمه وه روسیه اسلامي امارت په رسمیت وپېژني، خو داسې ښکاري چې نه د روسیې له لوري د اسلامي امارت غوښتنې ترلاسه شوي او نه هم د اسلامي امارت له لوري د روسیې غوښتنې ترلاسه شوي، چې د افغانستان په اړه د روسیې بې باوري او امنیتي اندېښنې به د دواړو لورو ښکېلتیا اغېزمنه کړي، نو اړتیا ده چې اسلامي امارت او روسیه په ګډه ځینې کمېټې رامنځته کړي، ترڅو له دې لارې راپورته شوې اندېښنې شریکې او حللارې ورته ومومندل شي او د دواړو غاړو په اړیکو کې شته فرصتونه لاپسې پیاوړي شي.

**وړاندیزونه**

۱- تېر تاریخ او تجربو ته په کتو چې افغانستان یو مهال ثبات تجربه کاوه، اسلامي امارت دې بې پرې پاتې شي او له نړیوالو سره دې د تعامل ژبه وکاروي. له وضعیت څرګندېږي چې افغانستان یوځل بیا د سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو د پام وړ ګرځېدلی او که احتیاط ونشي، شونې ده افغانستان یوځل بیا د سیالۍ ډګر شي.

۲- د اسلامي امارت او روسیې ترمنځ دوه اړخیز باور باید رامنځته شي، اړتیا ده دواړه لوري خپلې اندېښنې یو له بل سره شریکې کړي او حللارې یې ومومندل شي.

۳- که څه هم روسیه اوسمهال په دې کچه کې نه ده چې په افغانستان کې پراخې پانګونې وکړي، خو بیا هم اسلامي امارت دې د پخوانیو نابشپړو پروژو د بشپړولو او د کارموندنې په موخه له روسیې څخه د پانګونو غوښتنه وکړي.

## اخځليکونه

1. What to Know About the Afghan Peace Negotiations. (September 11, 2020). Council on Foreign Relations. Retrieved https://www.cfr.org/article/what-know-about-afghan-peace-negotiations
2. Lindsay Maizland. (Mar 2, 2020). U.S.-Taliban Peace Deal: What to Know. Council on Foreign Relations. Retrieved https://www.cfr.org/backgrounder/us-taliban-peace-deal-agreement-afghanistan-war
3. Zakeria, I. (2023). Reflections on Afghanistan's economic development: Is China the answer? Melbourne Asia Review, 13, p. 1. Retrieved https://doi.org/10.37839/MAR2652-550X13.21
4. Afghanistan: One year of Taliban rule. (Aug 15, 2022). Chatham House – International Affairs Think Tank. Retrieved https://www.chathamhouse.org/2022/08/afghanistan-one-year-taliban-rule
5. Vladimir Isachenkov. (Aug 20, 2021). Russia laid groundwork for ties with Taliban, years ahead of its Afghan takeover, The times of Israel. Retrieved https://www.timesofisrael.com/russia-laid-groundwork-for-ties-with-taliban-years-ahead-of-its-afghan-takeover/
6. Felbab-Brown, V. (2023. February 3). Afghanistan in 2023: Taliban internal power struggles and militancy. Brookings. Retrieved https://www.brookings.edu/blog/order-from-chaos/2023/02/03/afghanistan-in-2023-taliban-internal-power-struggles-and-militancy/
7. Nurlan Aliyev. (2022, October 15). Russian-Chinese cooperation and competition in Afghanistan and its implications for Central Asia. Stosunki Miedzynarodowe-International Relations, 12 Dec 2022, p. 3. Retrieved https://internationalrelations-publishing.org/articles/2-22
8. Putin says Russia's working on Taliban ties. (2022, June 28). Lost Angeles Times. Retrieved https://www.latimes.com/world-nation/story/2022-06-28/russia-working-on-taliban-ties-putin-says
9. Aliyev, Russian-Chinese cooperation and competition in Afghanistan, opcit, p. 6.

10. Terpstra, N. (2021, September 6). The ‘new’ Taliban regime in Afghanistan: different methods but the same political goal. The Conversation. Retrieved https://theconversation.com/the-new-taliban-regime-in-afghanistan-different-methods-but-the-same-political-goal-166793
11. Russia Would Recognize Kabul Regardless of US, World Stance. (2022, June 15). TOLOnews. Retrieved https://tolonews.com/afghanistan-178491
12. Statement concerning crisis in Ukraine. (2022, February 25). Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. Retrieved https://mfa.gov.af/en/statement-concerning-crisis-in-ukraine/
13. Zakeria, Reflections on Afghanistan’s economic development, opcit, p.5.
14. Abbas, N. (2021, September 24). Russia and Post-US Withdrawal Afghanistan. South Asian Voices. Retrieved https://southasianvoices.org/russia-post-us-withdrawal-afghanistan/
15. Exclusive Afghan Taliban sign deal for Russia oil products, gas and wheat. (2022, September 28). Reuters. Retrieved https://www.reuters.com/markets/commodities/exclusive-afghan-taliban-sign-deal-russian-oil-products-gas-wheat-2022-09-27/
16. Grzegorz Kuczynski. (2022, September 30). Taliban-Ruled Afghanistan Is New Market for Russian Fuel. Warsaw Institute. Retrieved https://warsawinstitute.org/taliban-ruled-afghanistan-new-market-russian-fuel/
17. Akmal Dawi. (2022, June 24). Russia, Afghanistan Seeks to Enhance Trade Amid Sanctions. VOA. Retrieved https://www.voanews.com/a/russia-afghanistan-seek-to-enhance-trade-amid-sanctions-/6632146.html
18. Trade between Afghanistan and Russia. (2011 – 2012). The Observatory Economic Complexity. Retrieved https://oec.world/en/profile/bilateral-country/afg/partner/rus?dynamicBilateralTradeSelector=year2012
19. *Russia Seeks Trade Cooperation with Afghanistan: Lavrov*. (2022, April 30). TOLOnews. Retrieved https://tolonews.com/afghanistan-177810

20. Abbas, *Exclusive Afghan Taliban sign deal for Russia oil products, opcit.*
21. Aliyev, *Russian-Chinese cooperation and competition in Afghanistan, opcit*, pp. 5-6.
22. Dolbaia, T and Robinson, M. (2022, January 21). *Russia, Turkey, and Iran: Regional Powers React to U.S. Withdrawal from Afghanistan*. CERES. Retrieved https://ceres.georgetown.edu/research/student-projects/russia-turkey-and-iran-regional-powers-react-to-u-s-withdrawal-from-afghanistan/
23. Fahmad. (2021, September 26). *Experts react: 2021 Shanghai Cooperation Organization (SCO) summit in Tajikistan*. Atlantic Council. Retrieved https://www.atlanticcouncil.org/blogs/southasiasource/experts-react-2021-shanghai-cooperation-organisation-sco-summit-in-tajikistan/
24. Athar Zafar. (2021, October 13). *Dushanbe SCO Summit Focuses on Regional Security, Stability*. Indian Council for World Affairs. Retrieved https://www.icwa.in/show_content.php?lang=1&level=3&ls_id=6469&lid=4449
25. *SCO Leaders Call for Increased Afghan Aid, Unfreezing of Assets*. (2021. September 17). Radio Free Europe/Radio Liberty. Retrieved https://www.rferl.org/a/shanghai-cooperation-organization-leaders-meet-in-dushanbe-with-afghanistan-in-focus/31464685.html
26. *New Central Asia, SCO Anniversary Summit in Dushanbe: the outcomes of 20 years summed up, goals for greater Eurasian cooperation outlined*. (2021, September 20). New Central Asia. Retrieved https://www.newscentralasia.net/2021/09/20/sco-anniversary-summit-in-dushanbe-the-outcomes-of-20-years-summed-up-goals-for-greater-eurasian-cooperation-outlined/
27. A. Farid Tookhy. (2023, April 27). *The Prospects for Regional Cooperation Concerning the Situation in Afghanistan*. Center for International Policy Studies. Retrieved https://www.cips-cepi.ca/2023/04/27/the-prospects-for-regional-cooperation-concerning-the-situation-in-afghanistan/

28. *Russian special envoy meets Muttaqi in Kabul*. (2023, January 12). Ariana News. Retrieved https://www.ariananews.af/russian-special-envoy-meets-muttaqi-in-kabul/
29. Hill, A. (2021, September 9). *Russia is positioning itself as a global partner after the U.S. Afghanistan debacle*. The Conversation. Retrieved https://theconversation.com/russia-is-positioning-itself-as-a-global-partner-after-the-u-s-afghanistan-debacle-167030
30. Zakeria, I. (2021, November 15). *Afghanistan in the regional vortex*. United World International. Retrieved https://uwidata.com/21975-afghanistan-in-the-regional-vortex/
31. *Moscow Seeks to Form Regional Group of Nations to Influence Kabul*. (2023, February 13). TOLOnews. Retrieved https://tolonews.com/afghanistan-182043
32. Fischer, S and Stanzel, A. (2021, September 22). *Afghanistan: The West Fails – a Win for China and Russia?* SWP, No. 5, SWP, p.5. Retrieved https://www.swp-berlin.org/en/publication/afghanistan-the-west-fails-a-win-for-china-and-russia
33. Afghanistan's Security Challenges under the Taliban, International Crisis Group, Asia Report No. 326, 12 August 2022, p. 30. Access date: 23/3/2023. Retrieved https://www.crisisgroup.org/asia/south-asia/afghanistan/afghanistans-security-challenges-under-taliban
34. Fischer and Stanzel, *Afghanistan: The West Fails, opcit,* p. 3.
35. Zakeria, *Afghanistan in the regional vortex.*
36. Andrew Korybko. (2021, August 25). *Russia and The Taliban: From Narrative Challenges to Opportunities*. Russian International Affairs Council. Retrieved https://russiancouncil.ru/en/blogs/andrew-korybko/russia-the-taliban-from-narrative-challenges-to-opportunities/

اول خان  شکېب احمدزی

# د افغانستان اسلامي امارت او ایران اړیکې؛ فرصتونه او ننګونې

**لنډیز**

په دې وروستیو کې د اسلامي امارت او ایران تر منځ اړیکې ډېرې ګرمې دي. ایران د اسلامي امارت د راتګ پر مهال په کابل کې د خپل سفارت فعالیتونه ونه ځنډول او له اسلامي امارت سره یې اړیکو ته دوام ورکړ. دغه راز، ایران په یوه بې ساري اقدام کې په تهران کې د افغانستان سفارت د اسلامي امارت له لوري ورلېږل شویو ډیپلوماټانو ته وسپاره او له اسلامي امارت سره یې د اړیکو په برخه کې سترخنډ له منځه یووړ. په دې مقاله کې هڅه شوې، چې د افغانستان د اسلامي امارت او ایران ترمنځ اړیکې وڅېړل شي او د دواړو لوریو په اړیکو کې شته فرصتونه او ستونزې په ګوته شي.

**سریزه**

ایران او افغانستان یو له بل سره ۹۴۵ کیلومتره ګډه پوله لري. دغه پوله د افغانستان په شمال لوېدیځ کې له ترکمنستان څخه پیلېږي او تر بلوچستان پورې رسېږي.د دواړو هېوادونو وګړي  تریوه بریده ګډ کلتور او یو له بل سره نږدې اړیکې لري، خو د ایران او افغانستان د حکومتونو ترمنځ اړیکې د تاریخ په بېلابېلو دورونو کې له لوړو او ژورو څخه تېرې شوې دي. کله چې د ۲۰۲۱ز.کال په اګست کې اسلامي امارت واکمن شو، ایران له دغه حکومت سره د ډې فکټو (De facto) رژیم په توګه خپل تعامل ساتلی، خو لا تر اوسه یې په رسمیت نه دی پېژندلی.

د فرضیې په توګه ویلای شو، چې د افغانستان د اسلامي امارت په راتګ سره د ایران او افغانستان اړیکې د دواړو هېوادونو ترمنځ له ځینو ستونزو سره بیا هم ښې دي.

د څېړنې اړتیا: د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو د لا ښه والي او د ستونزو د مخنیوي په موخه اړتیا ده، چې دغه اړیکې وڅېړل شي او په دغو اړیکو کې فرصتونه او ننګونې په ګوته شي.

د څېړنې موخه: د دې څېړنې موخه له اسلامي امارت سره د ایران د اړیکو او تعامل څېړل دي.

میتود: د دې مقالې په لیکلو کې له تشریحي-تحلیلي میتود څخه کار اخېستل شوی دی.

د دې لپاره چې د ایران او اسلامي امارت پر اوسنیو اړیکو ښه پوه شو، نو اړینه ده، چې د دواړو لوریو ترمنځ د اړیکو مخینې ته لنډه کتنه وکړو.

**لومړی ـ د اسلامي امارت او ایران اړیکې**

د اسلامي امارت او ایران ترمنځ اړیکې پر دریو ځانګړو عنوانونو کې تر څېړنې لاندې نېسو. په لومړۍ برخه کې په افغانستان کې د اسلامي امارت د واکمنۍ د لومړۍ دورې پر مهال، په دویمه برخه کې په افغانستان کې د امریکا د اشغال پر مهال او په درېیمه برخه کې پر افغانستان د اسلامي امارت د بیا واکمنۍ پر مهال د دواړو لوریو ترمنځ پر اړیکو بحث کوو.

**۱- له ۱۹۹۶ څخه تر ۲۰۰۱ز. کال پورې**

د اسلامي امارت د لومړۍ دورې پر مهال د افغانستان او ایران اړیکې له ډېرو ستونزو سره ملې وې. کله چې د ۱۹۹۶ز. کال د سپټمبر پر ۲۶مه نېټه اسلامي امارت ځواکونو کابل ونیو، نو سم له لاسه یې خپل حکومت اعلان کړ. دغه رژیم د ایران له لوري په رسمیت ونه پېژندل شو. ایران د اسلامي امارت واکمنۍ ته د پاکستان او سعودي عربستان د کامیابۍ په سترګه کتل. ایرانیانو د اسلامي امارت راتګ د خپلې بهرنۍ پالیسۍ لپاره لویه ننګونه او د ایران د ملي ګټو لپاره ستر ګواښ باله.[1] تهران له دغه ناوړه حالت سره د مقابلې لپاره د اسلامي امارت د رژیم بدلول د خپل بهرني سیاست د مهم هدف په توګه غوره کړ. ایران د همدې کار لپاره له یوې خوا د اسلامي امارت د ټولو دښمنانو د کړنو د همغږۍ هڅه کوله او له بلې خوا یې د افغان معضلې د حل په موخه په سیمه ییزو او نړیوالو اقداماتو کې ګډون کاوه. ایران د اسلامي امارت پر وړاندې له جنګېدونکو ډلو څخه ملاتړ کاوه. ایران د افغانستان غیر پښتانه قومونه هڅول، تر څو د اسلامي امارت پر وړاندې ګډ دریځ ونیسي.[2] د ایران د همدې ستراتېژۍ په پایله کې شمالي ټلوالې د اسلامي امارت د حکومت د نسکورېدو تر وروستۍ شیبې پورې مقاومت وکړ.

د اسلامي امارت د لومړۍ دورې پر مهال تهران له کابل سره د کومې سیاسي هوکړې هڅه نه ده کړې او د دواړو لوریو تر منځ اړیکې ډېرې سړې وې. کله چې په مزار

شریف کې د ۱۹۹۸ز.کال په اګسټ کې نهه ایراني ډیپلوماتان ووژل شول، د اسلامي امارت او ایران تر منځ اړیکې لاپسې خرابې او آن د جګړې تر بریده ورسېدې، خو د دواړو لوریو ترمنځ د نښتې مخنیوی وشو. ایران، د اسلامي امارت له مخالفو ډلو څخه پر ملاتړ سربېره، په نړیواله کچه د افغانستان په اړه په کېدونکو بهیرونو کې هم برخه اخیسته. ایران د شپږ جمع دوه[1] نوښت غړی و او هڅه یې کوله، چې د افغانستان مسئله د خبرو اترو له لارې هواره شي. همدارنګه، ایرانیانو په افغانستان کې د سولې د ټینګښت په موخه د بین الافغاني خبرو اترو ملاتړ کاوه او پوځي حل یې د افغانستان د معضلې حل نه ګاڼه. د ۱۹۹۷ز.کال په ډیسمبر کې، د ایران د بهرنیو چارو وزارت د اصفهان په کنفرانس کې د افغان مقاومت مهم استازي راوبلل او ګډونوال یې وهڅول چې د ټولو ګوندونو په ګډون پراخ بنسټه حکومت د جوړولو لپاره هڅې وکړي.[۳]

په لنډه توګه ویلای شو، چې د اسلامي امارت د پخواني رژیم پر مهال د ایران او طالبانو اړیکې ډېرې خرابې وې. ایران که له یوې خوا د افغانستان د مسئلې پر سولیز حل ټینګار کاوه، خو له بلې خوا یې له هندوستان او روسیې سره یو ځای د اسلامي امارت پر وړاندې د جنګېدونکو ډلو ملاتړ کاوه او له هغوی سره یې هر راز مرسته کوله. دغه راز،په دغه دوره کې اسلامي امارت په افغانستان کې د ایرانیانو د نفوذ مخنیوی کاوه او د ایران د ملاتړو پر وړاندې یې جګړه کوله.

## ۲ـ له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ز کال پورې

کله چې د امریکا متحده ایالاتو د سپټمبر د یوولسمې له پېښې وروسته پر افغانستان یرغل وکړ او په دغه هېواد کې یې په زرګونه عسکر ځای پر ځای کړل. ایران په خپل ګاونډ کې د دومره شمېر پوځیانو شتون خپل ملي امنیت ته ګواښ ګاڼه. د غه ګواښ هغه وخت نور هم زیات شو، کله چې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ ایتلافي ځواکونو په عراق کې د صدام حسین رژیم نسکور کړ. له دې پېښې سره ایران له دوو اړخونو د امریکایي ځواکونو په منځ کې راګېر شو. په افغانستان کې د اسلامي امارت په

۱ د افغانستان په اړه د شپږ جمع دوه ګروپ د امریکا او روسیې په ګډون د افغانستان له ګاونډیانو څخه جوړ شوی و، چې د ملګرو ملتونو تر سیوري لاندې یې له ۱۹۹۷ څخه تر ۲۰۰۱ز.کال پورې د افغانستان د مسئلې د سوله ییز حل د موندلو لپاره کار کاوه.

نسکورولو کې ایران له امریکایانو سره پر کړکېچنو اړیکو سربېره هم همکاري کوله. ایران د سپټمبر د یوولسمې پېښه وغندله او د امریکا متحده ایالاتو ته یې د اسلامي امارت له ځواکونو سره د جګړې په موخه د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ. د معتبرو سرچینو له مخې په عملي توګه ایران له امریکا سره د افغانستان په جګړه کې استخباراتي همکاري وکړه.[۴]

سره له دې چې په لومړیو کې ایران د اسلامي امارت پر وړاندې له امریکایي ځواکونو سره همکاري کوله، خو د پخواني رژیم پر مهال ایران په افغانستان کې د اسلامي امارت د غړیو په ګډون له ټولو دخیلو لوبغاړو سره اړیکې پاللې، تر څو په یوه وخت کې څو موخې تعقیب کړي. ایران د افغانستان په پخواني حکومت کې پر نفوذ سربېره غوښتل، چې د امریکا پر وړاندې هم د نفوذ ساحه پراخه کړي. که څه هم له اسلامي امارت سره د ایران اړیکو د ایران شعیه ایډیالوژۍ ته زیان رساوه، خو په خپل ګاونډ کې یې پر امریکایانو باندې د فشار په موخه دغه کار ته ملا تړلې وه. په دې توګه، له طالبانو سره د تهران ښکېلتیا ته کولای شو، له دوو زاویو څخه وګورو. له یوې خوا ایران غوښتل له اسلامي امارت سره په مرستې کولو سره امریکا متحده ایالاتو ته سرخوږی جوړ کړي، چې په افغانستان کې پوځي بری تر لاسه نه کړي او له بلې خوا، ایران له اسلامي امارت سره د خواخوږۍ په څرګندولو سره غوښتل، په راتلونکي کې له اسلامي امارت سره نږدې پاتې شي. ایران هغه مهال له اسلامي امارت سره له خپلو اړیکو څخه پرده پورته کړه، کله چې په ۲۰۱۱ز کال کې دغه هېواد د اسلامي امارت استازي په تهران کې پان اسلامیک کنفرانس ته دعوت کړل.[۵] تهران درک کړې وه، چې اسلامي امارت د افغان ټولنې حقیقت دی، چې سترګې ترې نشي- پټېدای او په اسانۍ سره له منځه نه ځي.

ایران هر وخت له افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو د ایستلو په برخه کې د اسلامي امارت غوښتنه تکراروله، چې امریکایي پوځیان باید له افغانستان څخه ووځي، بالاخره د ۲۰۲۰ز کال په فبروري کې د اسلامي امارت او امریکا تر منځ افغانستان ته د سولې د راتګ په نوم تړون وشو، چې په پایله کې یې د امریکایي پوځیانو د وتلو لپاره مهالوېش وټاکل شو. د دې تړون پر بنسټ امریکایي پوځیان ووتل او پخوانی نظام ړنګ شو، خو ایران د پخواني نظام تر وروستۍ شېبې له اسلامي امارت او پخواني رژیم سره په متوازنه توګه اړیکې پاللې.

### ۳ـ له ۲۰۲۱ز څخه وروسته

پر افغانستان د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د اسلامي امارت او ایران ترمنځ اړیکې تر بل هر وخت نږدې شوې دي. دواړه لوري په دوامداره توګه یو له بل سره لیدنې کتنې کوي او په بېلابېلو برخو کې یې ډول ډول هوکړې لاسلیک کړې دي. په لاندې برخه کې د دواړو لوریو ترمنځ پر سیاسي او اقتصادي اړیکو بشپړه رڼا اچوو.

**الف: سیاسي اړیکې**

کله چې د اسلامي امارت ځواکونو د دویم ځل لپاره پر افغانستان ولکه ټینګه کړه او نوی سرپرست حکومت یې اعلان کړ، ایران په ډېر احتیاط سره د اسلامي امارت د بیا واکمنۍ هرکلی وکړ. ایران د ۲۰۲۱ز.کال په اګست کې د اسلامي امارت له خوا د کابل له نیولو وروسته په کابل کې خپل سفارت بند نه کړ او چارې یې ونه ځنډولې.[٦] ایراني چارواکو ټینګار وکړ، چې د ایران او د افغانستان د نویو واکمنانو اړیکې به د هغوی پر چلند ولاړې وي. په دې اړه د ایران مذهبي مشر ایت الله خامنه یي د اګسټ پر ۲۸مه په ټویټر خپرې شوې وینا کې وویل، چې له نورو دولتونو سره د ایران د اړیکو ماهیت د هغوی د اړیکو پر ماهیت پورې تړلی دی.[٧] په دې معنا چې د افغانستان په اړه به د ایران پالیسي- پر متقابل درناوي ولاړه وي او د دواړو هېوادونو اړیکې به د اسلامي امارت په کړنو پورې تړلې وي. ایران ځکه دغه ډول محتاط غبرګون وښود، چې د اسلامي امارت په تېره دوره کې د افغانستان او ایران اړیکې د جګړې تر بریده رسېدلې وې.

له نړۍ سره د اړیکو د جوړولو په موخه اسلامي امارت په خپلو لومړنیو کنفرانسونو کې خپلو ګاونډیو، سیمې او د نړۍ هېوادونو ته ډاډ ورکړ، چې د افغانستان له خاورې څخه به هېڅ هېواد ته هم زیان ونه رسېږي او د هېڅ هېواد پر وړاندې به ونه کارول شي. اسلامي امارت په لومړنۍ رسنیز کنفرانس کې څرګنده کړه، چې له افغانستان څخه به هېڅ هېواد ته ګواښ پېښ نشي.[٨] دغه ډول اعلان ته د نورو هېوادونو تر څنګ ایران هم هرکلی وکړ، ځکه چې ایران په افغانستان کې د داعش له ځواکمنتیا او فعالیت څخه وېره لري.

ایران په پنجشېر کې د اسلامي امارت د ځواکونو له لوري د مقاومت د جبهې په نوم د مخالفانو ځپل وغندل. د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعید خطیب زاده په دې اړه وویل، چې په پنجشېر کې د اسلامي امارت عملیات له نړیوالو بشري قوانینو

څخه ښکاره سرغړونه ده او په هېڅ صورت د منلو وړ نه دي.[۹] دغه شان په دې اړه په یو بل اقدام کې د تهران ښاري شورا په دغه ښار کې د احتجاج په ډول په رسمي توګه یو سړک "پنجشېر" ونوماوه.[۱۰] اسلامي امارت د ایران د دغه ډول نیوکو په غبرګون کې څه ونه ویل، خو د دغه ډول مسایلو په اړه د نورو هېوادونو نیوکې یې د افغانستان په داخلي چارو کې لاس وهنه ګڼله.

د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته د لومړي ځل لپاره د ډیسمبر پر شپاړسمه نېټه د افغانستان لپاره د ایران د ځانګړي استازي حسن کاظمي قمي په مشرۍ یوه لوړ پوړي پلاوي افغانستان ته سفر وکړ. ایراني پلاوي د اسلامي امارت د ریئس الوزراء د لومړي مرستیال ملا عبدالغني برادر سره په لیدنه کې په سیاسي، امنیتي، پانګونې، سوداګرۍ، ګمرک، کډوالو، اوبو، برېښنا، کلتوري، علمي او روزنېزو برخو کې د ګډو کمېټو پر جوړولو هوکړې وکړې.[۱۱] سربېره پر دې، یاد استازي د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي سره هم په ارګ کې وکتل. په دې کتنه کې حسن کاظمي قمي د اسلامي امارت له چارواکو سره د خپلو بحثونو د دوام ستاینه وکړه او اسلامي امارت ته یې په اقتصادي، فرهنګي او علمي برخو کې د همکاریو ډاډ ورکړ. دغه راز، مولوي عبدالسلام حنفي د اسلامي امارت د بهرنۍ پالیسۍ په اړه ایراني پلاوي ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت له ټولو ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره نېکې اړیکې پالل غواړي او هېچاته اجازه نه ورکوي، چې د افغانستان له خاورې ګاونډیو او د سیمې هېوادونو ته ګواښ پېښ کړي.[۱۲]

په ورته مهال کې، د ۲۰۲۱ز.کال د ډیسمبر پر ۱۹مه نېټه د پاکستان په پلازمېنه اسلام اباد کې د اسلامي همکاریو د سازمان د بېړنۍ غونډې په څنډه کې د ایران او افغانستان لوړپوړو چارواکو؛ د ایران د بهرنیو چارو وزیر حسین امیر عبداللهیان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو له وزیر سره ولیدل. په دغه لیدنه کې دواړو لوریو په افغانستان کې د امنیتي حالاتو او بشري وضعیت په ګډون د دواړو هېوادونو ترمنځ پر سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو اړیکو خبرې وکړې. سربېره پر دې، د افغانستان په اړه د اسلامي همکاریو سازمان په بېړنۍ غونډه کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر ایران ته د افغان کډوالو د شمېر پر زیاتېدو او په افغانستان کې د ټولشموله حکومت پر جوړولو خبرې وکړې. د نوموړي په خبره، په افغانستان کې ټولنیز ثبات او تلپاتې امن هغه وخت شونی دی، چې په

افغانستان کې داسې حکومت رامنځته شي، چې په هغه کې ټول دیني او قومي لوري خپل ځان ووینې.[۱۳] همدارنګه، په دې غونډه کې د افغانستان لپاره د ایران ځانګړي استازي کاظمي قمي په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو شتون د ټولو بدمرغیو سرچینه وګڼله. دغه راز، نوموړي له افغانستان سره د بشري مرستو پر زیاتېدو ټینګار وکړ او د امریکا له متحده ایالاتو څخه یې وغوښتل چې د افغانستان کنګل شوې شتمنۍ ازادې کړي. کاظمي امریکایان تورن کړل، چې اوس هم په افغانستان کې د داعش پر مټ نیابتي جګړه پرمخ بیایي، تر څو سیمه ناامنه کړي.[۱۴]

د ۲۰۲۲ز.کال د جنوري پر ۸ مه نېټه د لومړي ځل لپاره د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي ایران ته سفر وکړ. ښاغلي متقي په دې سفر کې د ایران له بېلابېلو چارواکو سره لیدنه وکړه او د کابل او تهران تر منځ یې د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پر پراختیا ټینګار وکړ.[۱۵]امیرخان متقي د ایران له بهرنیو چارو وزیر امیر عبداللهیان سره د دواړو هېوادونو تر منځ پر سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو او د کډوالو پر چارو خبرې وکړې.[۱٦] پر دې لیدنو کتنو سربېره، اسلامي امارت په ایران کې کېدونکي بریدونه غندلي او د ایران له خلکو او حکومت سره یې خواخوږي ښودلې ده. د ۲۰۲۲ کال د اپریل پر ۵ مه د مشهد په امام رضا زیارت کې برید، چې په ترڅ کې یې یو ایرانی عالم مړ او دوه تنه ټپیان شول، اسلامي امارت دغه برید په کلکو ټکو وغانده.[۱۷]

د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د یوه ټویټ په خپرولو سره ویلي، چې دا برید په افغانانو او افغانستان پورې تړاو نه لري.[۱۸]

د دواړو لوریو ترمنځ د سیاسي مسایلو په لړ کې، د ۲۰۲۲ز.کال د اپریل پر ۱۲مه، ایران په تهران کې افغان سفیر احضار کړ. ایرانیانو دغه کار یوه ورځ وروسته له هغې وکړ، چې قهرجنو مظاهره کوونکو په ایران کې له افغان کډوالو سره د ناوړه چلند له امله په کابل او هرات کې د ایران پر ډیپلوماټیکو دفترونو ډبرې وغورځولې.[۱۹] وروسته ایران په تهران کې د افغانستان په سفارت کې د اسلامي امارت ډیپلوماټانو ته د تلو اجازه تایید کړه او ټینګار یې وکړ چې دا پرېکړه د یوه قانوني حکومت په توګه د اسلامي امارت د رسمي پېژندلو لپاره د لارې هوارولو لپاره نه ده.[۲۰] دغه شان، د ۲۰۲۲ز.کال په جون کې د ۵٫۹ درجې زلزلې، چې د افغانستان په جنوب ختیځ کې یې تر ۱۱۵۰ څخه ډېر

کسان ووژل او پراخې ویجاړۍ یې رامنځته کړې. ایران سم له لاسه دوه کارګو الوتکې افغانستان ته د لومړنیو مرستو د رسولو لپاره واستولې.[۲۱]

ایران له اسلامي امارت سره د خپلو تودو اړیکو په لړ کې افغانستان ته د تېر حکومت وسلې او تجهیزات وسپارل. ایران، پاکستان، تاجکستان او ازبکستان هغه هېوادونه دي، چې د پخواني نظام له سقوط وروسته د پوځي الوتکو په ګډون د افغانستان زیات پوځي وسایط او وسلې دغو هېوادونو ته ولېږدول شوې. له یادو هېوادونو څخه ایران لومړنی هیواد دی، چې د ۲۰۲۲ز کال د جون پر ۵ مه نېټه یې د پخواني پوځ یوه اندازه ور وړل شوي پوځي تجهیزات اسلامي امارت ته وسپارل.[۲۲] د ایران اسلامي جمهوریت دغه اقدام کولای شو د ښه ګاونډیتوب او د افغانانو شتمنیو ته د درناوي په موخه یو ښه نظر او له اسلامي امارت سره د اړیکو د رغولو ښه هڅه وبولو.

ایران د تل په څېر یو ځل بیا له اسلامي امارت څخه غوښتنه وکړه، چې په افغانستان کې ټول شموله حکومت جوړ کړي. د قزاقستان او ایران ولسمشرانو د زمري پر ۲۹ نېټه په تهران کې په یوه خبري غونډه کې له اسلامي امارت وغوښتل، چې د افغانستان د ټولو قومونو، طبقو او سیاسي ډلو استازي په کې ګډون وکړي. په ورته وخت کې د ایران ولسمشر هم په دې غونډه کې وویل چې یوازې سیمه ییز چارواکي کولای شي د سیمې ستونزې حل کړي او په سیمه کې د بهرنیانو شتون امنیت نه رامنځته کوي. که څه هم د اسلامي امارت د ویاند مرستیال بلال کریمي اوسنی حکومت ټول شموله ګڼي، خو د اصلاحاتو پر تطبیق ټینګار کوي. د هغه په وینا اوسنی حکومت ټول شموله دی، که کومه ستونزه رامنځته شي د اسلامي امارت مسؤلین به یې د حل لپاره هڅې کوي.[۲۳] د دوه اړخیزو اړیکو پر دوام اسلامي امارت د ایران شېراز کې پر 'شاه چراغ' زیارت برید وغانده او د پېښې له قربانیانو سره یې خواخوږي څرګنده کړه. په دغه برید کې څو وسله والو کسانو د یوه زیارت په منځ کې ډزې کړې وې، چې له امله یې ۱۵ کسان وژل شوي و او څه باندې ۴۰ نور ټپیان شوي وو. د دغه برید مسوولیت هم اسلامي دولت ډلې یا د اعش پر غاړه اخیستی و، چې اسلامي امارت تکفیري ډله یاده کړې وه.[۲۴]

د دواړو لوریو ترمنځ په یوه بې ساري سیاسي پرمختګ کې ایران د ۲۰۲۳ز.کال د فبروري پر ۲۶مه نېټه د افغانستان سفارت اسلامي امارت ته

وسپاره. په دې اړه د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت ویانـد وویـل، چې په تهران کې د افغانستان اسلامي امارت دیپلوماتان مستقر شول او په پـوره ژمنتیا سره به د دواړو هېوادونو وګړو ته خدمت کوي.[۲۵] دغه راز، د ایران د بهرنیو چارو وزارت څرګنده کړه، چې د سفارت سپارل د افغانستان په کورنیو چارو پورې اړه لري او موږ د افغانستان په کورنیـو چـارو کـې لاسـوهنه نـه کـوو.[۲۶] اسـلامي امارت ته د سفارت په سپارلو سره ایران وکـولای شـول، لـه اسـلامی امـارت سره د رسمي اړیکو دریڅه پرانیزي. په ایران کې په میلیونونو افغانان به وکولای شي، د پاسپورټ او نورو اړینو اسنادو جوړولو لپاره سفارت ته مراجعه وکړي. د ایـران لـه لوري د افغان سـفارت لـه سـپارلو سره پـه سـیمه کـې د افغانسـتان ډیپلوماتیکـه دستګاه د اسلامي امارت په واک کې شوه. له دې وړاندې ترکمنستان، پاکستان، روسیې او چین هم د افغانستان سفارتونه اسلامي امارت ته سپارلي وو.

په لنډه توګه ویلای شو، چې د اسلامي امارت له بیا واکمنی راهیسـې ایرانیـانو او دغه ډول افغان چارواکو د مهمو مسایلو د حل په موخه افغانستان او ایـران تـه بېلابېـل سفرونه کړي دي. ایران که څه هم له اسلامي امارت سره اړیکو ته دوام ورکوي، خـو څـو ځلې یې له اسلامي امارت څخه غوښتي، چـې پـه افغانسـتان کـې ټولشـموله حکومـت جوړ کړي. همدارنګه اسلامي امارت له ایران سره ښې اړیکې پـالي او ایـران تـه یـې ډاډ ورکړی، چې د داعش په شان وسله والو ډلو فعالیتونو ته به، چې زیـاتره ایـراني اهـداف په نښه کوي، په افغان خاوره کې اجازه ورنکړي.

## ب: اقتصادي اړیکې

افغانستان او ایران د اوږدې ګډې پولې په درلودلو سره په سـیمه کـې لـوی سـوداګریز شریکان دي. د اسلامي امارت له بیاواکمنی سره د ایران او افغانسـتان چـارواکو پـه بېلابېلـو لیدنو کې د اقتصادي اړیکو د لا پراختیا په موخه پراخ بحثونه کړي دي. د افغان چارواکو لـه ایراني لوري سره په لیدنه کې د پانګونې، سوداګری، ګمرکونو او بریښنا په برخو کـې د ګـډو کمېټو په جوړولو هوکړه کړې. دغه هوکړې د ایران له ځانګړي استازي حسن کـاظمي قمـي او ورسره پلاوي سره د اسلامي امارت د ریئس الوزراء د لومړي مرستیال ملا عبـدالغني بـرادر په لیدنه کې شوې.[۲۷] سربېره پر دې، ایران د ۱۴۰۰ لمریز کال د سلواغې پر ۴ مـه نېټـه د خپلې خاورې له لارې د افغان ګاز او نفتو د ۳ میاشتني ټرانزیټ اجـازه ورکـړه، چـې پـه دغـه

موده کې به ایران خپل تېل او گاز افغانستان ته صادروي.[۲۸] دغه راز، ایران له افغانستان سره د اقتصادي همکاریو په لړ کې هندوستان ته وړاندیز وکړ، که هند له افغانستان سره د بشردوستانه مرستو پلان لري، نو ایران تیار دی، چې په دې برخه کې همکاري وکړي.[۲۹]

د ایران له لوري له افغانستان سره د اقتصادي اړیکو د رغولو پر هڅو سربېره، ایران د خپل سوداگریز ځواک او کاني شتمنیو په لرلو سره افغانستان ته د اقتصادي بیا رغوني لپاره د یو مهم عامل په توگه گوري. په ۲۰۲۱ز.کال کې له افغانستان څخه د امریکا متحده ایالاتو له وتلو وروسته، اسلامي امارت اعلان وکړ چې له ایران څخه به د تېلو واردات بیا پیل کړي. همااغه و، چې د ۲۰۲۱ز.کال په اگسټ کې ایران افغانستان ته د تېلو صادرات بیا پیل کړل.[۳۰] له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته افغانستان وکولای شول، چې پر ایران د بندیزونو سربېره د دغه هېواد تېل په ښکاره توگه واخلي.

د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو د رغولو پر گامونو سربېره، په ټوله کې د افغانستان او ایران ترمنځ سوداگري د تېرو کلونو په پرتله د پام وړ کمه شوې ده. د افغانستان د سوداگرۍ او پانگونې خونې د معلوماتو له مخې، د افغانستان په بازارونو کې د تقاضا د کمېدو له امله له ایران څخه واردات ۴۰ سلنه کم شوي، چې له ۲ میلیارده ډالرو څخه ۱،۲ میلیارده ډالرو ته رسېدلي دي.[۳۱] دغه کمښت په افغانستان کې د بېوزلۍ د زیاتېدو او د افغانستان پر بانکونو د محدودیتونو له امله رامنځته شوی دی. د پخواني نظام پر مهال د افغانستان واردات له ۱۲ تر ۱۵ میلیاردو ډالرو پورې رسېدل، خو د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته په تدریجي ډول راټیټ شوي، چې په ۲۰۲۱ز.کال کې د وارداتو کچه شاوخوا ۵ میلیارده ډالره وه.[۳۲]

د اسلامي امارت او ایران اقتصادي اړیکې د رغولو پر لوري رواني دي. پخوا په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د شتون په صورت کې افغانستان په ښکاره توگه نشو کولای، چې له ایران سره په لویه کچه سوداگریزې معاملې تر سره کړي، خو اوسمهال اسلامي امارت د واکمنۍ په لومړیو ورځو کې له ایران څخه د نفتي توگو د پېرلو اعلان وکړ. دغه راز، له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د مرستو له قطع کېدو وروسته په افغانستان کې د توکو د پېرلو تقاضا کمه شوې، چې له کبله یې د ایران په گډون له نورې نړۍ سره د افغانستان په سواگریزه راکړه ورکړه کې بدلون راغلی دی.

### دویم: د اسلامي امارت او ایران د اړیکو په اړه فرصتونه او ننګونې

د اسلامي امارت او ایران تر منځ په اړیکو کې د فرصتونو سره یو ځای ننګونې هم موجودې دي. په دې برخه کې د دواړو لوریو ترمنځ د ښو اړیکو له امله رامنځته شوي فرصتونه او په دغو اړیکو کې شته ننګونې تر جلا جلا سرلیکونو لاندې څېړو.

### ۱ ـ فرصتونه

د اسلامي امارت او ایران ترمنځ نږدې اړیکې کولای شي، ګڼ شمېر فرصتونه رامنځ ته کړي، چې د دواړو لوریو د ګټو د خوندیتوب سبب وګرځي. د اړیکو پیاوړتیا له یوې خوا کولای شي، په سیمه کې د ناآمنۍ کچه راټیټه کړي او له بلې خوا، د سوداګرۍ او پانګونې د زیاتوالي لپاره ګډ حقوقي چوکاټ رامنځته کړي. په لاندې برخه کې د ځینو مهمو امنیتي او اقتصادي فرصتونو یادونه کوو.

### الف ـ د ګډ دښمن په توګه د داعش پر وړاندې مبارزه

داعش د ۲۰۱۵ز.کال په جنورۍ کې په سیمه کې له رسمي اعلان وروسته د خراسان څانګه اعلان کړه. د داعش دغه څانګه چې افغانستان، پاکستان او منځنۍ اسیا تر پوښښ لاندې نیسي، تهران له اسلامي امارت سره د دغې پدیدې د له منځه وړلو لپاره د ګډې همکارۍ احساس وکړ. تهران وپتېیله چې د داعش پر وړاندې باید له اسلامي امارت سره همکاري پیل کړي. د اسلامي امارت ځواکونه توانیدلي، چې د افغانستان په ختیځو ولایتونو کونړ، ننګرهار او نورستان کې داعش تر ډېره وځپي. افغانستان او ایران ځینې مهال له داسې بریدونو سره مخامخ کېږي، چې پړه یې د داعش وسله واله ډله پر غاړه اخلي. دغه راز، داعش په عراق او سوریه کې د ایران له ملاتړ څخه د برخمنو دولتونو پر ضد جنګېږي.پر همدې بنسټ، په افغانستان کې د داعش د فعالیت پراخېدل د ایران لپاره لویه ننګونه ګڼل کېږي. داعش د ایران شعیه اکثریت ته د خپل واقعي دښمن په توګه ګوري، چې پر وړاندې یې ډېرې حملې هم پلان کړې دي. له همدې امله د داعش د ځپلو لپاره ایران له اسلامي امارت سره خپلې ښې اړیکې پالي.

**ب ـ له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونه وتل**

افغانستان د امریکا متحده ایالاتو په وتلو سره کولای شي، په ازادانه توګه سوداګریزه راکړه ورکړه وکړي. د همدې کار لپاره اړتیا ده، چې افغانستان له ایران سره په سوداګریزو تړونونو بیا کتنه وکړي او یو هر اړخیز سوداګریز تړون ( Free Trade Agreement) لاسلیک کړي. دغه ډول تړونونه، چې د سوداګرۍ د نړیوال سازمان د قواعدو په پلي کولو کې استثناء ګڼل کېږي، په ترڅ کې یې دواړه هېوادونه یو د بل سوداګرو او مالونو ته ځانګړی امتیاز ورکولای شي.

دغه راز، افغانستان او ایران که څه هم د پانګونې دوه اړخیزه تړون لري، چې د پانګونې د لومړي نسل له تړونونو څخه شمېرل کېږي، چې په اوسني وخت کې افغانستان ته د ایراني پانګوالو د جذب په موخه اغېزمن نه دی، نو افغانستان باید له ایران سره پر دغه تړون بیا کتنه وکړي او داسې مادې په کې ځای پر ځای کړي، چې پر بنسټ یې ایراني پانګوال افغانستان کې د پانګونې لپاره لا وهڅول شي.

**ج ـ د ایران له سمندري بندرونو څخه ګټه اخیستل**

افغانستان چې په وچه کې ایسار هېواد دی، له ایران سره د همکارۍ او ښو اړیکو پر بنسټ کولای شي، د دغه هېواد د سمندري بندرونو له لارې خپل سوداګریز توکي صادر او وارد کړي. افغانستان چې له ایران او هند سره یو ځای د چابهار د سمندري بندر په اړه هوکړه کړې، اسلامي امارت د دغې هوکړې پر مټ کولای شي، له ایران سره د همکاریو د نوي پړاو په پرانیستلو سره خپل توکي د همدې بندر له لارې د نړۍ بازارونو ته ورسوي.

پر دې سربېره، دا چې افغانستان تل له ټرانزیټي ستونزو کړېږي، له ایران سره د معاملې په صورت کې کولای شي، تر ډېره دغه ستونزه حل کړي. د بېلګې په توګه افغانستان کولای شي، چې ایران ته تلونکې اوبه د ټرانزیټي ستونزو په صورت کې د فشار د الې په توګه استعمال کړي. ایران چې د افغانستان اوبو ته حیاتي اړتیا لري، پر ایران د اوبو بندېدل به د افغان سوداګرو د ستونزو د له منځه تللو په موخه اغېزمن رول اداء کړي.

**۲ـ ننګونې**

که څه هم د اسلامي امارت د بیا واکمنۍ پرمهال د افغانستان او ایران اړیکې ډېرې تودې دي، خو ځینو پېښو او لاملونو د دواړو لوریو اړیکې له یو لړ ستونزو سره مخامخ کړې دي، چې د دواړو لوریو ترمنځ د لریوالي لامل ګرځېدای شي. په دغو

ننګونو کې د ګډې پولې په اوږدو کې نښتې، د اوبو پر سره جنجالونه او په ایران کې د افغان کډوالو ځورونه شامل دي، چې په لاندې ډول پرې بحث کوو.

**الف ـ سرحدي شخړې**

په افغانستان کې د اسلامي امارت په بیا واکمنۍ سره په تېر څه باندې یوه کال کې د ایران او افغانستان تر منځ اړیکې د سرحدي شخړو له امله اغېزمنې وې. د دواړو لوریو ترمنځ لومړۍ نښته د ۲۰۲۲ز.کال د جولای پر ۳ مه د ایران په بلوچستان ایالت کې د ایران – افغان پولې په اوږدو کې وشوه.[۳۳] دغه نښته هغه وخت رامنځته شوه، چې ایراني پوله ساتو په سرحدي نقطه کې د افغان پوله ساتو ځواکونو له لوري د سرک جوړولو مخه ونیوله. له دې نښتې وروسته اسلامي امارت له ګاونډیو هېوادونو څخه وغوښتل، چې د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا ته احترام وکړي او شته ستونزې له دیپلوماتیکو لارو هوارې کړي[۳۴]. دغه راز، د جولای په میاشت کې د افغان او ایراني ځواکونو ترمنځ په نیمروز ولایت کې د چنګاښ پر ۲۰مه نېټه د نیمروز ولایت کنګ ولسوالي په سیمه کې نښته وشوه. په دغه نښته کې د کورنیو چارو وزارت د ویاند وینا چاته زیان نه و اوښتی.[۳۵]

په سرحدي سیمو کې د پولو کره معلومولو کې لانجې هغه ستونزې دي، چې له کبله یې له ایران سره پر پوله د افغان او ایراني پوله ساتو ځواکونو ترمنځ تاوتریخوالی رامنځته کېږي. افغانستان له ایران سره ۹۴۵ کیلو متره پوله لري، چې په ۱۸۷۲ز.کال د بریتانویانو له لوري راکښل شوې ده. که څه هم یاده پوله له هغه راهیسې منل شوې، خو په ځینو سیمو کې ځینې وخت جګړې رامنځته کېږي. دغه پوله درې لوی بندرونه لري، چې په شمالي سیمه کې یې د اسلام کلا، په منځنۍ سیمه کې د ابو نصر- فراهي او په جنوبي برخه کې یې د زرنج مهمه لویه لاره پرته ده.

**ب ـ د اوبو ستونزه**

د اسلامي امارت او ایران ترمنځ اړیکې د تل په څېر ایران ته د افغانستان د تلونکو اوبو پر سر سرې وې. ایران ته له افغانستان څخه د هلمند سیند اوبه بهېږي او د هامون په جهیل کې راټولېږي، چې په ایران کې د تازه اوبو لویه کتله جوړوي. د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ سره د واړو هېوادونو تر منځ د ۱۳۵۱لمریز کال د اوبو د تړون په اړه بحثونه رامنځته شول. ایران د هلمند سیند د اوبو تړون مناسب تړون نه ګڼي او له هغې اندازې څخه د زیاتو اوبو غوښتنه کوي، خو اسلامي امارت د دوی دغه

غوښتنه رد کړې او ځان یې یوازې د ۱۳۵۱ لمریز کال تړون ته ژمن ګڼلی. په دې اړه د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت په یوه بیانیه کې څرګنده کړې، چې د افغانستان اسلامي امارت د هلمند سیند د اوبو د حوزې د مدیریت په تړاو هغه تړون ته، چې په ۱۳۵۱ لمریز کال کې د افغانستان او ایران د دولتونو تر منځ د هلمند د اوبو په هکله لاسلیک شوی، د ټولو تخنیکي محتویاتو، حقوقي اساساتو او ضمایمو (پروټوکولونو) ته په پام سره ژمن دی.(۳٦) افغانستان د موسی شفیق د لومړي وزارت پر مهال له ایران سره په ۱۳۵۱ لمریز کال کې د هلمند د اوبو تړون لاسلیک کړی، چې پر بنسټ یې باید هر کال ایران ته د هلمند له سیند څخه په اوسط ډول په ثانیه کې ۲۲ متر مکعب[۲] اوبه ورکړل شي، خو تر دې وړاندې پخوانیو حکومتونو ویلي وو چې هر کال ایران ته تر هوکړې څو برابره ډېرې اوبه بهېږي.

د ۲۰۲۲ز. کال په جنوري کې د اسلامي امارت او ایران ترمنځ د اوبو مسئله ګرمه شوه. ایران له اسلامي امارت څخه وغوښتل، چې په نیمروز کې د کمال خان بند اوبه ایران ته خوشې کړي. ایران دعوه کوله، چې افغانستان ایران ته اوبه نه پرېږدي، خو څه موده وروسته د جنوري پر ۱۹مه د ایران سیستان او بلوچستان ځایي چارواکو خبر وکړ، چې د کمال خان بند دوه دروازې پرانیستل شوې او اوبه یې د ایران هامون جهیل ته رسېدلې دي. له بلې خوا، د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت دا راپورونه رد کړل. د دغه وزارت ویاند په یوه ویډیویي پیغام کې ومنله، چې د وروستیو ورښتونو له کبله د کمال خان بند کاسه ډکه شوې، خو په خبره یې اوبه یې یوازې د بند شاوخوا سیمو خړوبولو لپاره د ځایي خلکو له غوښتنو وروسته خوشې کړې دي.(۳۷)

د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو د ستونزې د هوارۍ لپاره د افغانستان د اسلامي امارت د اوبو او انرژۍ وزارت سلاکار دوکتور فاروق اعظم د ۲۰۲۲ز. کال د جون په میاشت کې ایران ته سفر وکړ. نوموړي افغانستان ته له ستنېدو وروسته وویل، چې ایران له افغانستان څخه اوبه غوښتې، خو له زیاتو فشارونو سره مو ورنه کړې. د نوموړي په خبره په ایران کې د

[۲] سرېېره پر دې، د هلمند د اوبو تړون له مخې افغان لوري منلې چې د ښه نیت او ښو اړیکو په موخه به ایران ته په ثانیه کې څلور متر مکعب اوبه نورې هم ورکوي.

هلمند د سیند د اوبو په هکله غونډه وه، چې افغان استازي ترې بریالي راستون شو او څه یې چې غوښتل، هغه یې په فني او مسلکي استدلال سره ترلاسه کړل.(۳۸)

د اوبو پر سره د همدې کړکېچ په لړ کې د ۲۰۲۲ز. کال په جولای کې یوه ایراني پلاوي کابل ته سفر وکړ. ایران دعوه کوله چې د هلمند په اوبو کې یې خپل حق، چې د دواړو هېوادونو تر منځ د شته تړون له مخې په کال کې په اوسط ډول ۸۲۰ میلیون متر مکعب ټاکل شوی دی، نه دی ترلاسه کړی او یوازې ۴ میلیون متر مکعب اوبه ایران ته رسېدلې دي.(۳۹) له بلې خوا د افغانستان اسلامي امارت د ایراني لوري د اوبو دغه شمېرې نه مني.(۴۰) تهران ته د دې پلاوي له سفر وروسته د ایران د بهرنیو چارو وزیر حسین امیر عبد اللهیان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي سره پر ټیلیفون د هلمند سیند د اوبو خبره یاده کړه. د ایران د بهرنیو چارو وزارت په وینا، په دې خبرو کې د هلمند په اوبو کې د ایران د حق خبره په جدیت مطرح شوه او غوښتنه وشوه، چې د شوي تړون له مخې دې ایران ته اوبه ورکړل شي.(۴۱)

پر دې پرمختګونو سربېره، د ایران ولسمشر خبرداری ورکړ، چې هېواد یې هلمند سیند کې له خپلې برخې اوبو څخه نه تېرېږي.(۴۲) د ایران فارس خبري اژانس راپور ورکړی، چې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر حسین امیر عبداللهیان له امیر خان متقي سره ټیلیفوني خبرو کې ګواښ کړی که د هلمند سیند په اوبو کې د ایران د برخې مسئله هواره نه شي، نو دا به له افغانستان سره د ایران پر همکاریو منفي اغېز وکړي.(۴۳) دغه راز، په دې وروستیو کې د ایران جمهور رئیس په تنده لهجه له افغانستان څخه د اوبو غوښتونکی شو. نوموړي پاکستان ته د خپل سفر پر مهال ګواښ وکړ چې افغان واکمنان دې د هلمند سیند کې د ایران د خلکو له حق څخه سرغړونه نه کوي.(۴۴) د نوموړي په ځواب کې د اسلامي امارت چارواکو څرګنده کړه چې افغانستان د هلمند د اوبو تړون ته ژمن دي او په دغه هېواد کې پرلپسې وچکالي د اوبو د کمښت سبب شوې دي.(۴۵) ایرانیان دې د ګواښونو پر ځای د هلمند د اوبو په هکله خپل معلومات بشپړ کړي.(۴۶)

د ایران او افغانستان ترمنځ د اوبو پر سره د ستونزو له امله د ایران او اسلامي امارت اړیکې سړې شوي دي. د دواړو لوریو ترمنځ د هلمند سیند د اوبو وېش څکه له ستونزو سره مخامخ کېږي، چې دغه دوه ګاونډي هېوادونه له سختې وچکالۍ سره

مخامخ دي. ایران له کلونو راهیسې شکایت کوي، چې افغان لوری ورته د هلمند له سیند څخه د دغه هېواد اوبه نه ورکوي، خو په افغانستان کې د اوبو نشتون لوی لامل پرلپسې وچکالی ده، چې له امله یې افغانستان هم د اوبو له نشتون سره مخامخ دی. دغه ستونزه لا تر اوسه نه ده حل شوې، چې په وروستیو وختونو کې ایراني چارواکو په دې اړه د کابل په وړاندې له ګوتڅنډنو سره مل شکایتونه کړي.

**ج ـ د کډوالو ستونزه**

پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د یرغل او بیا وروسته د کورنیو جګړو له امله ایران د میلیونونو افغان کډوالو کوربتوب کوي. پر دې سربېره، سلګونه زره نور افغانان د ایران له لارې اروپایي هېوادونو ته د ارامه او هوسا ژوند لپاره ځانونه رسوي، چې ډېر کله د ایرانیانو له لوري له ناوړه چلند سره مخامخ کېږي. د افغان کډوالو د شمېر په هکله د ۲۰۲۲ز.کال د مارچ پر ۳۰مه نېټه د چین په ختیځ تونشي ـ ښار کې د افغانستان د ګاونډیانو، قطر او اندونیزیا په غونډه کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر امیرعبداللهیان وویل، چې ایران د شاوخوا پنځو میلیونو افغانانو کوربه دی، چې زیاتره یې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ څخه وروسته دغه هېواد ته ورغلي دي.[۴۷] دغه راز، د ۲۰۲۲ز. کال د اګست په وروستیو کې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ د شمېرو پر بنسټ پر افغانستان د اسلامي امارت له واکمنېدو راهیسې په یوه کال کې شاوخوا یو میلیون افغانان ایران ته کډوال شوي دي.[۴۸] ایران ته ډېر تلونکي افغانان د مزدورۍ لپاره ځي، خو د ځینو پخوانیو چارواکو په ګډون ډېر شمېر افغانان د دوی په وینا د امنیتي اندېښنو له امله ایران ته کډه شوي دي.

په ایران کې زیاتره وخت له افغان مهاجرینو سره ناانساني چلند کېږي، چې له امله یې د وخت د حکومتونو ترمنځ اړیکې خړې پړې کړي دي. د ۲۰۲۲ز.کال په مارچ کې په خواله رسنیو ځینې داسې انځورونه، ویډیویي کلپونه او راپورونه خپاره شول، چې د ایران په بېلابېلو ښارونو کې افغان کډوال وهل کېږي او ورسره ناسم چلند کېږي. له دې کلیپونو وروسته د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي په کابل کې د ایران له سفیر بهادر امینیان سره وکتل او په ایران کې یې د افغان کډوالو سره د شوي چلند په اړه اندېښنه څرګنده کړه او ټینګار یې وکړ چې په ایران کې خپلو مشرانو ته دا پیغام

ورسوي، تر څو خپلو امنیتي او اړوندو ادارو ته له افغان کډوالو سره په سرحدي سیمو او ښارونو کې د ناسمو کړنو د مخنیوي په اړه لازمې لارښوونې وکړي.[۴۹]

د ایران حکومت دا نه مني، چې د حکومت له لوري دې افغان کډوال شکنجه شوي وي. په کابل کې د ایران سفیر د هغو ویډیوګانو خپرېدل چې په ایران کې د افغان کډوالو ځورول ښيي، د مجاهدین خلق په نوم د سازمان کار ګڼي. د نوموړي په خبره په زرګونه کسان چې له دغې ادارې سره تړاو لري په سیستماتیک ډول دا ډول ویډیوګانې جوړوي. نوموړی د دې کار موخه د کابل او تهران د اړیکو خرابول ګڼي.[۵۰] مجاهدین خلق سازمان د ایران د اسلامي جمهوریت مخالفه ډله ده، چې له اسلامي انقلاب وروسته له ډېرو څېلو سره لاهم د ایران د اوسني نظام پر وړاندې فعالیتونه کوي. د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد دا راپورونه خواشینوونکي ګڼلي او ویې ویل چې د وضعیت د بیرني بدلون لپاره دوی له ایراني چارواکو سره اړیکې نیولي او هغوی د همکارۍ ډاډ ورکړی دی.[۵۱] په ایران کې افغان کډوال له پخوا را هیسې له ستونزو سره مخامخ دي، خو د افغان حکومتونو د نه پاملرنې او کمزورۍ له امله یې ستونزې لاپسې ډېرې شوې دي.

**درېیم ـ د اسلامي امارت او ایران ترمنځ د اړیکو راتلونکی**

له پورتنۍ څېړنې څخه څرګندېږي، ایران او افغانستان د ګاونډیو هېوادونو په توګه تل یو له بل سره ښو اړیکو ته اړتیا لري. ایران غواړي له اسلامي امارت سره د خپلو ګټو په اډانه کې ښو اړیکو ته دوام ورکړي. ایران په خپل ګاونډ کې له داسې جګړې سترې شوی، چې له امله یې د میلیونونو افغان کډوالو کوربتوب پر غاړه لري. همدارنګه، ایران په افغانستان کې د اسلامي دولت وسله والې ډلې (داعش) له پرمختګ څخه په وېره کې دی. داعش چې د شعیه مذهب پیروان د لومړۍ درجه دښمن په توګه پېژني او ډېر کله یې په سیمه کې خپل هدف ګرځوي، د ایران ملي امنیت ته ستر ګواښ بلل کېږي. له همدې امله، ایران په افغانستان کې له اسلامي امارت سره ښو اړیکو ته دوام ورکوي.

همدارنګه، اسلامي امارت ایران ته د ستر سوداګریز او سیاسي شریک په توګه اړتیا لري. افغانستان کولای شي، له ایران څخه د اړتیا وړ توکي په لنډ وخت کې په ارزانه توګه وارد کړي. دغه راز، افغان سوداګر کولای شي، چې د ایران له سمندري بندرونو څخه د بدیلې لارې په توګه استفاده وکړي او له نړۍ سره سوداګریزې راکړې ورکړې ته دوام ورکړي.

دغه راز، د افغانستان اسلامي امارت له سیاسي پلوه اړتیا لري، چې د ایران له لوري په رسمیت وپېژندل شي، خو د دواړو لوریو له څه باندې یو کلن تعامل څخه څرګندېږي، چې ایران په یوازې ځان نه غواړي، د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. ایران هم د نورو ګاونډیو هېوادونو په شان د نړیوالې ټولنې اقدام ته منتظر دی.

**پایله**

په تېر څه باندې یوه کال کې د ایران او د افغانستان اسلامي امارت اړیکې له تودو او سړو څپو سره مخامخ وې، خو له دې سره بیاهم ایران توانېدلی، چې له اسلامي امارت سره نږدې اړیکې وساتي. ایران، اسلامي امارت د افغانستان په سیاست کې د یوه واقعیت په توګه مني او له ۲۰۱۰ز.کال څخه راپدېخوا یې خپله پالیسي- له دښمنۍ څخه پر دوستۍ بدله کړې ده. ایران د اسلامي امارت په راتګ سره خپل سفارت په کابل کې بند نه کړ او تر اوسه افغانانو ته قونسلي خدمات وړاندې کوي. دغه راز، ایراني چارواکو په همدې موده کې افغانستان ته پر بېلابېلو موضوعاتو باندې د بحث کولو په موخه سفرونه کړي. د اسلامي امارت د بهرنیو چارو د وزیر په ګډون د اسلامي امارت چارواکو هم ایران ته سفر کړی او له ایراني چارواکو سره یې د ستونزو پر هواری ګډې هوکړې کړې. دواړه لوري غواړي، چې د دوی ترمنځ د نویمې لسېزې پېښې تکرار نه شي او یو بل له بل سره د ملي ګټو په اډانه کې ښې اړیکې ولري.

**وړاندیزونه**

د مقالې له لیکلو وروسته د افغانستان اسلامي امارت ته لاندې وړاندیزونه کېږي:

۱. د افغانستان اسلامي امارت باید په پوره توګه هڅه وکړي، چې د ایران په ګډون له ټولو ګاونډیو هېوادونو سره ښې اړیکې ولري او ټولې ستونزې په سوله ییزه توګه حل کړي، تر څو په سیمه کې له شته فرصتونو څخه استفاده ممکنه شي.

۲. له ایران سره د اړیکو په برخه کې شته ننګوني له منځه یوسي. د پولې پر سر د شخړو د مخنیوي په اړه دې له ایران سره ګډې سرحدي کمېټې یا کمېسیونونه جوړ شي، چې د دواړو لوریو ترمنځ د ستونزو د پیداکېدو په صورت کې حللارې ولټوي.

۳. افغانستان دې له ایران سره په پخوانیو اقتصادي تړونونو بیاکتنه وکړي. افغانستان له ایران سره د پانګونې د لومړي نسل د تړون درلودونکی دی، چې د اوسنۍ نړۍ له غوښتنو سره سمون نه لري او افغانستان ته د پانګونې د جذب په موخه موثر نشي- واقع کېدای.

افغانستان باید له ایران سره دغه تړون نوی کړي. دغه راز، د افغانستان او ایران ترمنځ داسې جامع سوداګریز تړون (Preferential Trade Agreement) ته اړتیا ده، چې د دواړو لوریو ترمنځ سوداګریز خنډونه تر وروستۍ کچې راکم کړي.

**مأخذونه**


1-Amir M. Haji-Yousef, Iran's Foreign Policy in Afghanistan: The Current Situation and Future Prospects. South Asian Studies: A Research Journal of South Asian Studies, Vol. 27, January–June 2012, p.67.

2-Milani, Iran and Afghanistan, The Iran Primer. United States Institute of Peace Press with Woodrow Wilson International Center for Scholars, 2010. pp.155–158.

3-B Koepke, Iran's Policy on Afghanistan: The Evolution of Strategic Pragmatism. Stockholm International Peace Research Institute, 2013, P. 7-8, available at: https://www.sipri.org/sites/default/files/files/misc/SIPRI13wcaBK.pdf4-Mishra, Iran's Changed Perception Concerning Its Role in Afghanistan Following Soviet Disintegration, Afro Eurasian Studies, 2012, p. 82.

5-A. Vatanka, Iran's Bottom Line in Afghanistan. Atlantic Council: Brent Scowcroft Center on International Security, 2017, available at https://www.atlanticcouncil.org/in-depth-researchreports/ issue-brief/iran-s-bottom-line-in-afghanistan. [Accessed: 14, January 2023].

6-Iran says its embassy in Kabul remains open, August 17, 2021, available at https://www.reuters.com/world/asia-pacific/iran-says-its-embassy-kabul-remains-open-2021-08-17 [Accessed: 11, January 2023].

7-Khamenei on Twitter: "We support the nation of #Afghanistan. Governments come & go. What remains is the Afghan nation. The nature of our relations with governments depends on the nature of their relations with us. May God bring the best situation for the nation of Afghanistan." / Twitter, available at: https://twitter.com/khamenei_ir/status/1431554721844797442 [Accessed: 12, January 2023].

8-Melissa Galbraith, Taliban Say No One Will Use Afghanistan to Attack Another Country, Global live Media, August 17, 2021, available at https://globelivemedia.com/taliban-in-afghanistan-2021/taliban-say-no-one-will-use-afghanistan-to-attack-another-country/ [Accessed: 16, January 2023].

9-Iran says siege of Panjshir Valley contravenes international law, Tehran Times, September 6, 2021, available at: https://www.tehrantimes.com/news/464758/Iran-says-siege-of-Panjshir-Valley-contravenes-international [Accessed: 14, January .2023]

10-Tehran's alley named after Afghanistan's Panjshir, Tehran Times, September 10, 2021, https://www.tehrantimes.com/news/464887/Tehran-s-alley-named-.after-Afghanistan-s-Panjshir [Accessed: 13, January 2023]

١١- افغانستان او ايران په سياسي، امنيتي، پانگونې، سوداگرۍ او گمرک، کډوالو، د اوبو، برېښنا، انرژۍ حوزې، فرهنگي، علمي او روزنې برخو کې د ګډو کمېټو پر جوړولو هوکړه کړې، هېواد ورځپاڼه، ۱۴۰۰ لمريز کال د لړم د ٢٦ مې نېټې ګڼه.

١٢- د اسلامي امارت د رياست الوزرا مرستيال د افغانستان لپاره د ايران له ځانګړي استازي سره وکتل، باختر آژانس ويبپاڼه، ۱۴۰۰ لمريز کال د لړم ٢٦ مه، https://bakhtarnews.af/ [مراجعه: ١٤٠١/١١/٠٥ ل.].

13- Tehran Times, First meeting between a top Iranian diplomat and Taliban, December 19, 2021, available at https://globelivemedia.com/taliban-in-afghanistan-2021/taliban-say-no-one-will-use-afghanistan-to-attack-another-country/ [Accessed: 17, January 2023].

14-Ibid.

15- Taliban foreign minister in first trip to Iran, Al Arabiya English, January 8, 2022, available at https://english.alarabiya.net/News/middle-east/2022/01/08/Taliban-foreign-minister-in-first-trip-to-Iran- [Accessed: 17, January 2023].

١٦- کابل او تهران د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو پر پراختيا ټينګار وکړ، هېواد ورځپاڼه، ۱۴۰۰ لمريز کال د مرغومي ٢١ مه نېټه

۱۷- اسلامي امارت د ایران د مشهد ښار په امام رضا زیارت کې پر درېیو علماوو برید غندلی دی، د هشت صبح ویبپاڼه،. وری ۱۸, ۱۴۰۱، لاسرسی -https://8am.media/ps/the-taliban-has
/condemned-an-attack-on-three-clerics-at-the-imam-reza-shrine-in-mashhad-iran
[مراجعه: 1401/11/07 ل.].

۱۸- پورتنۍ سرچینه.

19-Iran confirms Taliban diplomats stationed in Tehran Embassy - Al-Monitor: Independent, trusted coverage of the Middle East, available at: https://www.al-monitor.com/originals/2022/04/iran-confirms-taliban-diplomats-stationed-tehran-embassy [Accessed: 18, January 2023].

20-Ibid.

21-Afghan earthquake: Iran sends two aid shipments as death toll crosses 1,000, 22 June 2022, available at:
https://www.presstv.ir/Detail/2022/06/22/684354/Iran-send-two-aid-shipments-Afghanistan-Embassy [Accessed: January 20, 2023].

۲۲- طالبان وايي ایران لسګونه میله وسلې او پوځي وسایط بېرته ورسپارلي، امریکا غږ پښتو ویبپاڼه، ۱۴۰۱ لمریز کال د غبرګولي ۱۸ مه، لاسرسی https://www.pashtovoa.com/a/6607966.html [مراجعه: 1401/1۰/17 ل.].

۲۳- ایران او قزاقستان د اسلامی امارت د جامع حکومت په جوړولو ټینګار وکړ، اریانا نیوز ، د غبرګولي ۳۰ نېټه، ۱۴۰۱ لمریز کال

۲۴- طالبانو د ایران شیراز کې پر 'شاه چراغ' زیارت برید وغنده، امریکا غږ پښتو ویبپاڼه د لړم ٦ نېټه د ۱۴۰۱ لمریز کال، د لړم شپږمه، لاسرسی--https://www.pashtovoa.com/a/taliban
condemned-iran-attack-/6809226.html [مراجعه: 1401/1۰/19 ل.].

25- Abdul Qahar Balkhi on Twitter: "Notice IEA-MoFA informs all Afghans residing in I.R Iran…., available at
https://twitter.com/QaharBalkhi/status/1629907296628219905?ref_src=twsrc%5Etf
., [Accessed: 5, March 2023]w

26-Taliban takes over Afghan embassy in Iran capital Tehran, The New Arab, 2 March 2023, available at

https://www.newarab.com/news/taliban-takes-over-afghan-embassy-iran-capital-tehran [Accessed: 5, March 2023].

۲۷- افغانستان او ایران په سیاسي، امنیتي، پانگونې، سوداگرۍ او گمرک، کډوالو، د اوبو، بریښنا، انرژۍ حوزې، فرهنگي، علمي او روزنې برخو کې د گډو کمېټو پر جوړولو هوکړه کړې، هېواد ورځپاڼه، ۱۴۰۰ لمریز کال د لړم ۲٦ مه نېټه.

۲۸- ایران د خپلې خاورې له لارې د افغان گاز او نفتو د ۳ میاشتیني ترانزیټ اجازه ورکړه، هېواد ورځپاڼه، ۱۴۰۰ لمریز کال د سلواغې ۵ مه نېټه

۲۹- هند او ایران له افغانستان سره پر همکارۍ ټینکار وکړ، هېواد ورځپاڼه، ۱۴۰۰ لمریز کال د مرغومي ۲۱ مه نېټه.

30- Bozorgmehr Sharafedin and Julia Payne, EXCLUSIVE-Iran resumes fuel exports to neighboring Afghanistan, Reuters, August 23, 2021, available at https://www.nasdaq.com/articles/exclusive-iran-resumes-fuel-exports-to-neighbouring-afghanistan-2021-08-23 [Accessed: January 20, 2023].

31-Amina Hakimi, TOLOnews' Reporter, Afghanistan-Iran Trade Has Dropped: ACCI, TOLOnews, August 25 2022, available at https://tolonews.com/business-179543, [Accessed: January 21, 2023].

32-Ibid.

33-At Least One Person Killed as Taliban, Iranian Border Forces Exchange Fire, Reuters, 2022, available at:
https://www.rferl.org/a/iran-taliban-border-clash-one-dead/31967695.html
[Accessed: January 21, 2023].

۳۴- د دفاع وزارت: د اسلام کلا سرحد کې وضعیت عادي حالت ته راستون شوی، د طلوع نیوز ویبپاڼه، د غوایي څلورمه نېټه، ۱۴۰۱ لمریز کال لاسرسی https://tolonews.com/pa/afghanistan-177723 [مراجعه: ۲۳/۱۰/1401 ل.].

۳۵- طالبانو په نیمروز کې له ایراني پوله ساتو ځواکونو سره نښته تایید کړه، د بي بي سي پښتو ویبپاڼه د چنگاښ د میاشتې شلمه نېټه د ۱۴۰۱ لمریز کال. لاسرسی https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-62138900 [مراجعه: ۲۵/۱۰/1401 ل.].

٣٦- د هلمند سیند ترون، د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت، د ۲۰۲۲ز کال د فبروري نهمه، لاسرسيhttps://mew.gov.af/en/node/2135 [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۱/۰۱ ل.].

۳۷- ایران وایي د کمال خان بند اوبه سیستان ته رسېدلې؛ طالبان: اوبه یوازې ځایي کروندو ته خوشې شوې، د بي بي سي پښتو ویبپاڼه، د مرغومي د میاشتې ۲۹ نېټه د ۱۴۰۱ لمریز کال، https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-60050978 [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۹ ل.].

۳۸- فاروق اعظم: ایران اوبه غوښتې، پر فشارونو سربېره موږ ورنه کړې، بي بي سي پښتو ویبپاڼه د چنګاښ د میاشتې ۴ نېټه د ۱۴۰۱ لمریز کال. لاسرسی: https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-61937881 [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۸ ل.].

۳۹- تهران: طالبان د هلمند د اوبو هغه کچه نه مني چې سږ کال ایران ته وراوښتې، د بي بي سي پښتو ویبپاڼه، د زمري لومړۍ نېټه د ۱۴۰۱ لمریز کال، لاسرسی: https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-62278334 [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۱/۰۳ ل.].

۴۰- د ایران ولسمشر وایي، هېواد به یې د هلمند سیند په اوبو کې له خپله حقه تېر نه شي، د بي بي سي پښتو ویبپاڼه، د زمري ٦ نېټه د ۱۴۰۱ لمریز کال، https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-62328500 [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۱/۰۴ ل.].

۴۱- تهران: طالبان د هلمند د اوبو هغه کچه نه مني چې سږ کال ایران ته وراوښتې، د بي بي سي پښتو ویبپاڼه، د زمري لومړۍ نېټه د ۱۴۰۱ لمریز کال.لاسرسی: https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-62278334 [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۱/۰۳ ل.].

۴۲- ایران: که د هلمند اوبو کې زموږ حق رانکړل شي له طالبانو سره پر اړیکو به منفي اغېز وکړي، د بي بي سي پښتو ویبپاڼه، د زمري ۷ نېټه د ۱۴۰۱ لمریز کال، https://www.bbc.com/pashto/world-62355627 [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۱/۰۵ ل.].

۴۳- پورتنۍ سرچینه.

44-Iran warns Afghanistan's Taliban rulers not to violate its water rights, over Helmand River, The Associated Press, May 18, 2023, available at https://apnews.com/article/iran-afghanistan-helmand-drought-water-rights-f40ebf4d2927481c110dd3222e1d13e4 [Accessed: June 8, 2023].

45- Fidel Rahmati, Taliban Responds To Iranian President's Remarks On Violating Water Rights From Helmand River, Khaama Press, May 18, 2023, available at https://www.khaama.com/taliban-responds-to-iranian-presidens-remarks-on-violating-water-rights-from-helmand-river/[Accessed: June 8, 2023].

46-Ibid

۴۷- د افغانستان د ګاونډیانو امیرعبداللهیان در نشست همسایگان افغانستان از میزبانی 'پنج میلیون' افغان خبر داد، بي بي سي فارسي ویبپاڼه، د وري ۱۱ نېټه، ۱۴۰۱ لمریز کال، لاسرسی https://www.bbc.com/persian/afghanistan-60937341 [مراجعه: ١٤٠١/١١/٠٦ ل.].

48-UNHCR, Situation Afghanistan, Jun 30, 2022, available at https://data.unhcr.org/en/situations/afghanistan [Accessed: January 30, 2023].

٤٩- افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو له وزیر مولوي امیرخان متقي سره د ایران سفیر ښاغلي بهادر امینیان وکتل، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویبپاڼه، اپریل ۱۰, ۲۰۲۲، لاسرسی https://mfa.gov.af/%d9%86%d9 [مراجعه: 1401/11/0۷ ل.].

۵۰- ایران د افغان کډوالو څورول د مجاهدین خلق سازمان کار ګڼي.، د طلوع نیوز ویبپاڼه د لړم ۲۷ نېټه، ۱۴۰۱ لمریز کال لاسرسی: https://tolonews.com/index.php/pa/afghanistan-177511. [مراجعه: 1401/11/0۹ ل.].

۵۱- مجاهد: ایران له افغان کډوالو سره د بد چلند د بندېدو ډاډ راکړی، د ازادۍ راډیو ویبپاڼه، وری ۲۰, ۱۴۰۱، لاسرسی: https://pa.azadiradio.com/a/31794795.html [مراجعه: 1401/11/۱۰ ل.].

څېړندوی عاشق الله اخلاص یار

# د افغانستان اسلامي امارت او قطر د سياسي اړيکو څېړنه

**لنډيز**

د قطر او اسلامي امارت اړيکې هغه مهال ټېنګې شوې، کله چې د اسلامي امارت لپاره په قطر کې د ۱۳۹۲ل.کال د غبرګولي پر ۲۸ نېټه رسما سياسي دفتر پرانيستل شو، چې د پرانېستې په مراسمو کې يې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت، اسلامي امارت استازو او د قطر چارواکو برخه اخيستې وه، دا د اسلامي امارت او قطر د اړيکو لړۍ سياسي پېل و. اسلامي امارت ته زمينه برابره شوه چې له ۱۲ کلنې مبارزې وروسته د نړېوالو رسنيو پر مخ په قطر کې د افغانستان لپاره خپله پاليسي اعلان کړي. تر ټولو مهم يې دا و چې د اسلامي امارت استازي ملا عبدالغني برادر او د امريکا د متحده ايالاتو استازي زلمي خليلزاد ترمنځ په همدې هېواد کې د دوحې تړون د ۲۰۲۰ د فبروري په ۲۹ لاسليک شو، اسلامي امارت ته يې د واک سپارلو او امريکايانو ته يې له افغانستانه د وتلو لار جوړه کړه.

کله چې اسلامي امارت د ۱۴۰۰ل.کال د اسد پر۲۴ د يکشنبې پر ورځ په افغانستان کې د دويم ځل لپاره خپل واکمنېدل اعلان کړل، دا د قطر منځګړيتوب و چې د اسلامي امارت او امريکا ترمنځ يې وکړ چې له امله يې امريکايان په افغانستان کې له فوځي حضوره په شا شول او خپل ټول سرتيري يې په يوه وخت له افغانستان څخه وويستل. شا وخوا دوه کاله پوره کېږي چې د اسلامي امارت چارواکي د اسلامي امارت د رسيمت پېژندنې غږ پورته کوي، خو لا يې هم پر وړاندې خنډونه موجود دي چې د نړېوالو له لوري په رسميت نه دي پېژندل شوي.

قطر ته د افغانستان په بهرني سياست کې مهم ځای ورکړل شوی، چې يو له هغو څخه، له نړۍ سره د افغانستان له پلوه د اسلامي امارت تعامل دی، په داسې حال کې چې قطر به په راتلونکي کې د افغانستان له مهمو ستراتيژيکو شريکانو څخه ګڼل کېږي چې په ګڼو مواردو کې به له افغانستان سره مرستې کولای شي. د دې با وجود د قطر چارواکو بار، بار په خپلو خبرو کې د اسلامي امارت ملاتړ کړی او پر نړېوالو ستېيجونو يې له اسلامي امارت سره د مرستو غږ پورته کړی دی.

**سریزه**

کله چې پر ۲۰۰۱ز.کال امریکایانو پر افغانستان هوايي بریدونه پیل کړل، د افغاسنتان اسلامي امارت یې ختم او پر ځای یې د حامد کرزي په مشرۍ د موقت حکومت ملاتړ وکړ، د اسلامي امارت مشران او مجاهدین غلي پاتې نه شول او خپلو فکري او جهادي مبارزو ته یې دوام ورکړ چې له همغې ورځې تر ۲۰۱۳ز.کال پورې شدیدې جګړې وشوې.

په دې موده کې کوم لورى له زیان لېدو څخه خوندي پاتې نشو، چې له امله یې اړخونه خبرو کولو او سولې ته اړ شول، د افغانستان اسلامي امارت او امریکا وغوښتل چې نور د جګړې پر ځای یوه بله لار غوره کړي چې هغه سوله او مخامخ مذاکرات وو. د سولې او مذاکراتو لپاره د قطر هېواد انتخاب شو، اسلامي امارت په ۲۰۱۳ز.کال کې د همدې هېواد په مرکز دوحه کې سیاسي دفتر پرانېست چې موخه یې په افغانستان او سیمه کې تلپاتې سوله وه. د دې دفتر په پرانېستو سره اسلامي امارت ته زمینه برابره شوه چې له ۱۲ کلنې مبارزې وروسته د نړېوالو رسنیو پر مخ په قطر کې د افغانستان لپاره خپله پالیسي اعلان کړي.

د اسلامي امارت او قطر خپلمنځي اړیکي د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې هم له جنجاله خالي نه وې. قطر د طالبانو له خوا په ۱۹۹۶ز.کال کې په افغانستان کې اعلان شوی «اسلامي امارت» هم په رسمیت نه و پیژندلی، خو اوس وخت را رسېدلی چې افغانستان له قطر سره ښې اړیکې غواړي او د افغانستان اسلامي امارت له قطر سره د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا تر څنګ په نورو بېلابېلو برخو کې د حسنه اړیکو د پراختیا غوښتونکی دی.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

تر دې دمه د قطر او اسلامي امارت پر اړیکو کوم ځانګړی اثر نه دی لیکل شوی، اړینه ده چې د دې موضوع په څېړنه کار وشي. دواړه هېوادونه په کلتوري، فرهنګي او مذهبي لحاظ سره تړلي دي چې اکثرا وګړي یې مسلمانان دي. دا چې په افغانستان کې د څو لسیزو اوږدو جګړو د مخنیوي په لار کې له افغانستان سره په ګاونډ کې پرتو هېوادونو د زړه له کومې ونه غوښتل چې پدې سیمه کې جګړه پای و مومي او یا یو سوله ییز منځګړیتوب وکړي، نو قطر یواځینی هېواد و چې متقابل اړخونه پرې توافق ته

ورسېدل چې په افغانستان کې به د دايمي سولې لپاره لار پرانیزي، د اسلامي امارت له چارواکو سره به مخامخ خبرې پکې وشي او سیاسي دفتر به یې د همدې هېواد په پلازمېنه دوحه کې وي، په همدې اساس مو لازمه وبلله چې د دې څېړنې په لومړنۍ سپړنه کار وکړو.

**د څېړنې موخې**

۱- دا څېړنه د دې لپاره ترسره کېږي چې د قطر او اسلامي امارت د اړیکو څرنګوالی روښانه کړي.

۲- دا څېړنه د قطر او اسلامي امارت د اړیکو سپړنه کوي.

**د څېړنې پوښتنه:** د قطر او اسلامي امارت اړیکې څه ډول دي؟

**د څېړنې مېتود:** په دې څېړنه کې له تشریحي - تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**د قطر او اسلامي امارت د سیاسي اړیکو پېل**

د قطر او اسلامي امارت د سیاسي اړیکو پېل په دوحه کې د دوی د سیاسي دفتر په پرانېستو سره په ۲۰۱۳ ز.کال کې وشو او تر۲۰۲۲ز.کال پورې له خورا ډېرو پرمختګونو څخه برخمنې وې چې موږ به په دې څېړنه کې پرې بحث وکړو.

په ۲۰۱۳ز.کال کې د امریکا د متحده ایالاتو په مرسته او غوښتنه د قطر په دوحه کې له اسلامي امارت سره د مذاکراتو په موخه سیاسي دفتر پرانېستل شو او لامل یې دا و چې له افغانستان څخه د ځواکونو را ایستلو ته چمتووالی ونیسي- او له اسلامي امارت سره د خبرو لپاره مناسب ځای وټاکي. د قطر او اسلامي امارت په اړیکو کې تر نورو ډېر د دوحې تړون مهم و چې د دوی ترمنځ یې د باور فضا رامنځته کړه او دې نوي فصل ښو اړخیزې اړیکې ورغولې، د دې تړون د پلي کېدو په لړ کې تر بل هر چا د قطر رول ځانګړی و چې د ښه پلي کېدو په لار کې یې تر ډېره مثبت او اغېزناک رول ترسره کړ. دا هم باید یاده کړو چې په قطر کې د اسلامي امارت د دفتر له پرانېستو سره ډېرو هېوادونو مخالفت او ځینو موافقیت هم ښکاره کړی او د دې دوو خواوو اړیکې یې له نیوکو سره مخ کړې وې، په دې اړه د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي وو چې د ګاونډیو هېوادونو په ګډون د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د متقابل احترام په نظر کې نیولو سره ښې اړیکې غواړو او په خپل هېواد کې له امنیت سره سره په نړیواله کچه د امنیت او

عدالت غوښتونکي يوو. نوموړي ويلي وو دوی نه غواړي لـه خپلـې خـاورې نـورو هېوادونـو تـه زيان پېښ کړي او نه هم بل چاته اجازه ورکوي چې د افغانستان له خاورې د نـورو هېوادونـو امنيت وګواښي. مجاهد زياته کړې وه چـې د هېـواد د خپلـواکۍ لپـاره مبـارزه خپلـه وجيبـه ګڼي او د دې کار لپاره له هـرې مشروع لارې څخـه کـار اخـلي. بـل پلـو د اسـلامي امـارت استازو په خپلو خبرو کې بيا بيا ويلي چې د همدې تګلارې د روښانه کولـو لپـاره دوی لازمـه بللې چې په قطر کې د نړۍ له هېوادونو سره د اړيکـو د ښـه کولـو، افهـام او تفهـيم او خـبرو کولو په موخه سياسي دفتر پرانېزي، دوی دا هم ويلي وو چې د يـاد دفـتر لـه لارې بـه د يـوه داسې سياسي او سوله ييز حل ملاتړ وکړي چې په افغانسـتان کـې د واقعـي امنيـت راتلـل يقيني کړي. [۱]

کله چې د ۱۴۰۰ل.کال د اسد پر۲۴ اسلامي امارت په افغانستان کې دولتـي چـارې په واک کې واخېستې او امريکايان له يوې مخې له افغانستان څخـه ووتـل، د پروسـې د ښـه تطبيق له امله د امريکا متحـده ايـالاتو ولسمشر-جوبايـډن د قطـر لـه امیـر تمـيم بـن حمـد الثاني څخه د يوې تليفوني اړيکې له لارې د پراخو مرستو له کبلـه منـنـه کـړې وه. ولسمشر-بايډن دا مننه هم کړې وه چې قطر د بين الافغاني خبرو اترو د زمينـې پـه برابرولـو کـې پـراخ رول لوبولی دی.

**په قطر کې د اسلامي امارت د سياسي دفتر د پرانېستو په وړاندې غبرګونونه**

په قطر کې د اسلامي امارت د دفتر له پرانيسـتلو وروسـته ګـڼ شـمېر هېوادونـو او سياسي مشرانو غبرګونونه څرګند کړي چې له ځينو څخه يې په دې توګه يادونه کوو:

د امريکا د وخت منتخب ولسمشـر بارک اوباما ويلي وو تر هغې په افغانستان کـې سوله نه شي راتلی، چـې افغانـان يـې پخپـل لاس چـارې سـمبال نـه کـړي، نومـوړي د ولسمشر حامد کرزي کړنې د سولې لپاره مېړانه بللې وه، خو ويلي يې وه چـې ژر سـوله راتلـل څـه اسـانه کـار نـه دی. اوبامـا دا څرګنـدونې وروسـته لـه هغـې کـړې وې چـې امريکايي چارواکو ويلي و په قطر کې د اسلامي امـارت لـه اسـتازو سره د مخـامخ خـبرو لپاره چمتو دي.

په قطر کې د اسلامي امـارت د سـياسي دفـتر د پرانېسـتو پـه اړه پاکسـتان د قطـر پـه دوحه کې د طالبانو لپاره په افغانستان کـې د سـولې پـه موخـه د سـياسي دفـتر د جوړېـدو هرکلی کړی و او دغه ګام يې په افغانستان او سيمه کې د سولې لپاره ګټور بللی و.

د اسلام اباد چارواکو ويلي وو چې د افغان شخړې د ختمېدو لپاره د خبرو له لارې د سوله ييز حل غوښتنه، د امريکا او اسلامي امارت ترمنځ د سولې په تړاو د مخامخ خبرو هرکلی هم کوي.

په قطر کې د اسلامي امارت د دفتر په اړه افغان ولسمشر حامد کرزی ويلي و چې حکومت يې قطر ته له طالبانو سره د سولې د خبرو لپاره استازي استوي، نوموړي ويلي وو چې د خبرو لپاره تر ټولو حياتي اړخ د دواړو اړخونو ترمنځ د باور او ډاډمنې فضا رامنځته کېدل دي، نوموړي دا هم ويلي وو چې د سولې خبرې بايد د افغانستان د ننه وشي ځکه چې دا يوه افغاني موضوع ده، يوازې افغانان بايد د خپل هېواد برخليک وټاکي.

د برتانيا لومړي وزير ډېوېډ کاميرون د افغان سولې د وروستيو پرمختګونو په اړه ويلي وو: که څه هم د افغانستان سوله يو پېچلی او ګران کار دی، خو د مخالفو غاړو وروستي ګامونه د ستايلو وړ دي.

د ناروې د بهرنيو چارو وزير هم حکومتي راډيو تلوېزيون ته په وينا کې ويلي و چې د اسلامي امارت چارواکو له تېرو څو مياشتو راهيسې ناروې کې پټې خبرې پيل کړې دي، چې دغو خبرو په قطر کې طالبانو ته د دفتر په پرانيستلو کې مهم رول لوبولی دی.

د قطر په دوحه کې د اسلامي امارت د دفتر پرانېستلو په اړه د قطر د بهرنيو چارو مرستيال وزير علي بن فهد الهاجري ويليو رسنيو ته په خپلو خبرو کې زياته کړې وه چې دغه دفتر په نړۍ کې د سوله ييزو موخو او ښه نيت په موخه جوړ شوی، چې له سوله ييزو لارو شخړې ختمې، خبرې او سوله وشي. د قطر دغه چارواکي د دفتر تر پرانېستل کېدو وروسته خبريالانو ته دا هم ويلي وو چې د دفتر جوړېدو يوازېنۍ موخه په افغانستان کې د سولې مخته وړل دي او له هېڅ پوځي فعاليت سره به مرسته ونه کړي. نوموړي زياته کړې وه چې دغه دفتر به د هېڅ داسې فعاليت اجازه ونه لري، چې د کوربه هېواد له قانون او له نړېوالو قوانينو سره په ټکر کې وي.

اسلامي امارت بيا د قطر له امير شيخ حمد بن خليفه آل ثاني څخه مننه کړې وه چې په خپل هېواد کې يې د اسلامي امارت سياسي دفتر ته ځای ورکړی او ملاتړ يې ترې کړی دی.[۲]

د اسلامي امارت د رسميت پېژندو غوښتنې او په وړاندې يې ستونزې

اروپايي ټولنې او قطر ويلي چې لـه ښځو او نجونـو سره د اسـلامی امـارت چلـن د نړيوالې ټولنې له خوا د هغوی د رسميت پېژندلو په وړاندې خنډ شوی دی، قطر ويـلي چـې اسلامي امارت بايد د رسميت پېژندنې لپاره د نړيوالې ټولنې شرطونه ومني.

لـه ترهګـرۍ سره د مبـارزې لپـاره د قطـر ځـانګړي اسـتازي مطلـق بـن مجيـد آل قحطاني ويلي و: مونږ هيله من يو چې اسلامي امارت ښځې پر کـارونو وګومـاري، ځکـه په ټولنه کې د ښځو رول خـورا مهـم دی، نومـوړي زياتـه کـړې وه چـې قطـر د اسـلامي هېوادونو يو موډل دی او د قطر په دولتي ادارو کې داسې ښـځې شـته چـې لـوی لـوی مسووليتونه پر غاړه لري. قحطاني ټينګار کړی و چې د افغان ښځو او نجونو پـه وړانـدې د اسلامي امارت چلن د نړيوالې ټولنې له خوا د هغـوی د رسـميت پېژنـدلو پـه وړانـدې خنډ دی.

تر دې مخکې د اسـلامي امـارت چـارواکو ويـلي چـې، دوی د اسـلامي ارزښـتونو پـه چوکاټ کې ښځو ته د کار او زده کړو حق ورکوي.[۳] د چارو شـنونکي بيـا پـه دې انـد دي چې نړيوال په ځانګړې توګه امريکا لـه اسـلامي امارتـه غـواړي چـې تـر رسـميت پېژنـدلو وړاندې د دوحې تـړون عمـلي کـولـو، د ټولګډونـه حکومـت جوړولـو، مېرمنـو تـه د حقونـو ورکولو او تر دوه کلونو پورې د ټاکنو ترسره کولـو لپـاره هڅـې وکـړي او د دې چـارو پـه نـه ترسره کېدو سره ښايي د اسلامي امارت حکومت ژر په رسميت ونه پېژندل شي.

ملګري ملتونه هم له اسلامي امارته غواړي چې د مېرمنو حقونه ورکړي، نجونـو تـه د زده‌کړو او لوړو پوستونو کې د کار کولو زمېنه برابره کـړي، د بيـان او رسـنيو ازادۍ تـه درناوی وکړي، سره له دې چـې اسـلامي امـارت هڅـه کـوي د نړيوالـو ځينـې غوښـتنې ومني او په ډېرو برخو کې يې شرايط هم پوره کړي چې بايد پـه رسـميت وپېژنـدل شي، خو لاهم ډېر داسې څه شته چې دوی نه دي ترسره کـړي او نـړۍ يـې هـم پـه رسـميت پېژندلو کې بېړه نه کوي.[۴] د افغانستان د بهرنيو چارو سرپرست وزير اميرخان متقـي د قطر په دوحه کې د افغانستان لپاره د ۱۴ هېوادونو له سفيرانو سره په ګـډه ناسـته کـې ويلي و چې اسلامي امارت د رسميت پېژندلو ټول شرايط پوره کـړي، نـړۍ يـې بايـد پـه رسميت و پېژني.

په دې اړه د بهرنيو چارو وزارت وياند ويلي وو چې په دې لېدنـه کـې د افغانسـتان پر اقتصادي وضعيت، په افغانسـتان د لګېـدليو بنـديزونو او نـورو مسـايلو پـه اړه خـبرې

شوې دي. د بهرنيو چارو سرپرست وزير زياته کړې وه چې نړېواله ټولنه بايد له امريکا وغواړي چې د افغانستان پر ملي شتمنيو بنديزونه لرې کړي او اسلامي امارت ټول هغه شرطونه پوره کړي چې بايد په رسميت وپېژندل شي.(۵) امير خان متقي څرگنده کړې وه چې د دوحې تړون ټولې مادې عملي شوې دي، چې افغان خاوره د هېڅ هېواد په وړاندې نه کارول، څوارلس مياشتو کې د بهرنيو ځواکونو وتل، بين الافغاني خبرو ته ژمنتيا، د ترهگرۍ پر وړاندې جدي مبارزه، ښځو ته د حقونو ورکړه او له نشه‌يي توکو سره مبارزه د دې تړون له اساسي مواردو څخه وو چې اسلامي امارت پلي کړي دي. نوموړي په خپلو خبرو کې دا هم منلې وه چې په ځينو برخو کې د ښځو پر وړاندې محدوديتونه شته، خو ټينگار يې کړی وو چې په حکومت کې د ښځو ونډه ښکاره ده او يوازې پوهنې وزارت کې ۹۲ زره ښځې کارمندانې او ښوونکې دي.

همدارنگه د افغانستان اسلامي امارت ريس الوزراء ملا محمد حسن اخند په يوه کنفرانس کې پر ټولو هېوادونو په ځانگړې ډول پر اسلامي هېوادونو غږ کړی و چې د افغانستان نوی حکومت په رسميت وپېژني. نوموړي زياته کړې وه چې له دومره پرمختگونو سره سره چې دا مهال په افغانستان کې شوي دي نړېوالو نه يوازې دا چې اسلامي امارت تقدير کړي، بلکې بنديزونه يې پرې ولگول او افغان ولس يې له گڼو ستونزو سره مخامخ کړی دی. د هغه په وينا د نړېوالو له خوا د اسلامي امارت د نه رسميت پېژندلو او د افغانستان د شتمنيو په کنگل کولو سره افغان ولس له گڼو ستونزو سره مخامخ دی. ده له نړېوالو دا غوښتنه هم کړې وه چې له افغانستان سره دې د لنډ مهاله مرستو پر ځای اوږدمهاله مرستې او همکاري وکړي چې خلک په خپلو پښو ودرېږي او د نورو له خيرات څخه خلاص شي.(٦)

همدارنگه د اسلامي امارت د سياسي دفتر غړي انس حقاني هم له رسنيو سره په خبرو کې د نړېوالو له خوا د افغانستان د نوي حکومت په رسميت نه پېژندل، د افغانانو په حق کې د نړېوالو بې انصافي بللې وه. نوموړي له رسنيو سره په خبرو کې ويلي وو چې اسلامي امارت د گاونډيانو په گډون لا تر اوسه هېڅ هېواد په رسميت نه دی پيژندلی، چې له امله يې له اقتصادي او ټولنيز ناورين سره د افغانستان د مخامخ کېدو وېره هم زياته شوې ده. له دې ټولو سره نړېوالې ټولنې په افغانستان کې د نوي حکومت د رسميت پېژندلو لپاره شرايط اېښي دي چې په دې شرايطو کې د يوه ټول گډونه حکومت جوړېدل،

ښځو ته زده کړې او د نورو د حقونو ورکړه يې په سر کې دي، خو د اسلامي امارت چارواکي وايي چې د شرايطو وضعه کول د افغانستان ستونزه نه شي حلولی او نړېواله ټولنه بايد له هر بحث مخکې دا نوی حکومت په رسميت وپېژني. په ټوله کې د نوي حکومت چارواکي پر دې باور دي چې ګواکې نړېواله ټولنه دوی ته اړتيا لري چې يو وخت به يې په رسميت وپېژني.[۷] بل لور ته د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې د لړۍ په دوام د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال شېر محمد عباس ستانکزي پکتيا کې يوې ناستې ته د وينا پر مهال ويلي وو چې اسلامي امارت د رسميت پېژندلو لپاره ټول شرايط پوره کړي او هيله لري چې هېوادونه او نړېوال به يې په رسميت وپېژني. ستانکزي د بهرنيو ځواکونو نه موجوديت، داېمن امنيت او د قانون تطبيق او پر ټولو پولو کنټرول د رسميت پېژندلو عمده شرايط بللي وو.[۸] بل ځای د کورنيو چارو سرپرست وزير خليفه سراج‌الدين حقاني په خوست ولايت کې د منبع الجهاد مدرسې د علماوو په فراغت غونډه کې ويلي وو چې اسلامي امارت له نړۍ سره پر کړو ژمنو ولاړ دی او خپله ژمنتيا يې په عمل کې هم ثابته کړې ده. نوموړي زياته کړې وه چې د رسميت پېژندلو لپاره دې پلمې نه لټول کېږي او اسلامي امارت له نړۍ سره مشروع تعامل غواړي او دا تعامل د خپل ولس د ښېرازۍ لپاره غواړي.[۹]

پر دې سربېره د روسيې د بهرنيو چارو وزير رسنيو ته په ډاګه کړې وه چې مسکو دې پرېکړې ته رسېدلی چې نړېواله ټولنه بايد د افغانستان له نوي حکومت سره په فعاله توګه همکاري وکړي. د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرګې لاوروف په خپلو خبرو کې ټينګار کړی و چې ټول‌شموليت بايد د اسلامي امارت په حکومت کې يو مهم عنصر وي. په ورته وخت کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت ويلي وو چې روسيې په مسکو کې د افغانستان په سفارت کې د اسلامي امارت د يوه ډيپلومات له موجوديت سره هوکړه کړې ده. [۱۰] د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت سرپرست اميرخان متقي له سرګې لاوروف سره په کتنه کې د روسيې د دغې پرېکړې هرکلی کړی و او هيله يې څرګنده کړې وه چې په مسکو کې به د افغانستان سفارت په بشپړ ډول فعال شي. د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت د لاوروف له قوله ليکلي وو چې نړېواله ټولنه بايد په افغانستان کې فعاله ونډه ولري او له اسلامي امارت سره دې خپلو همکاريو ته دوام ورکړي ترڅو د دغه حکومت د رسميت پېژندلو موضوع ژر تر ژره حل شي.

د قطر امير شيخ تميم بن حمد آل ثاني د ملګرو ملتونو ۷۶مې عمومي اسمبلې ته د

خبرو پر مهال د اسلامي امارت په اړه ویلي وو چې نړیوال باید په افغانستان کې د دایمي ثبات راوستو لپاره هڅه وکړي. د ده په وینا نړیوالو ته پکار ده چې له اسلامي امارت سره تعامل وکړي او ورسره اړیکو ته ادامه ورکړي څو وکړای شي په افغانستان کې دایمي ثبات ټینګ شي. هغه زیاته کړې وه چې قطر تل په افغانستان کې له سوله ییزو لارو د ستونزو د حل غوښتنه کړې او اوس هم پر همدې دریځ ولاړ دی. نوموړي ویلي وو هڅه کوي په افغانستان کې ځلوېښت کلنه جګړه ختمه شي او نړیوال هم باید په دې برخه کې خپلې همکارۍ ډېرې کړي. شیخ تمیم دغه راز زیاته کړې وه چې افغانستان دمګړۍ په حساسه مرحله کې دی او د نړیوالو مرستو ته اړتیا لري. د ده په وینا نړۍ ته پکار ده چې له افغانستان سره بشري مرستو ته ادامه ورکړي او سیاسي اختلافات دې د مرستو درولو لپاره مانع نه ګرځي. (۱۱)

## د اسلامي امارت او د قطر د چارواکو سیاسي سفرونه ،لیدنې او کتنې

د اسلامي امارت او قطر د اړیکو په لړ کې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت سرپرست امیرخان متقي د یو لوړپوړي پلاوي په مشرۍ قطر ته تللی و او هلته یې د یاد هېواد او یو شمېر نورو هېوادونو له استازو سره کتلي وو. له نوموړي سره په دې پلاوي کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ملا خیرالله خیرخوا، د استخباراتو عمومي رئیس ملا عبدالحق وثیق، د کورنیو چارو وزارت مرستیال مولوي نور جلال، شیخ شهاب الدین دلاور او حاجی محمد ابراهیم شامل وو. د اسلامي امارت د مطبوعاتو د برخې غړي بلال کریمي رسنیو ته ویلي وو چې د دغه سفر هدف د ښو اړیکو او تعاملاتو لپاره د زمینې برابرول وو. کریمي زیاته کړې وه چې دا سفر به د اسلامي امارت د رسمیت پېژندلو او له کنګل شخه د افغانستان شتمنۍ ازادېدو سره مرسته وکړي او یا به هم د نورو مرستو لپاره زمینه برابره کړي. دا له افغانستانه بهر د اسلامي امارت د خارجه وزارت د سرپرست لومړنی سفر دی چې په دغه هېواد کې یې د قدرت له ترلاسه کولو وروسته ترسره کوي. اسلامي امارت له تېرې څه مودې راهیسې له نورو هېوادونو سره د اړیکو د پراخولو او د نړیوالې ټولنې په وسیله په افغانستان کې د دوی د حکومت په رسمیت پیژندنې لپاره خپلې هلې ځلې زیاتې کړې دي.

قطر ته د اسلامي امارت د خارجه وزارت د سرپرست له سفر سره په یو وخت دغه هېواد ته د امریکا پلاوی هم تللی او دغه یو وخت والی ښیي چې د امیر خان متقي د

سفر اصلي موخه، د دوه اړخيزو مسئلو په اړه له امريکايي پلاوي سره کتنې او خبرې اترې دي. دا مهال چې اسلامي امارت په افغانستان کې واکمن دی د خپل پروګرام يوه تر ټولو ستره اندېښنه يې په افغانستان کې د اسلامي امارت په رسميت پېژندنې لپاره د سترو لوېديځي قدرتونو قانع کول دي.(۱۲) همدارنګه د يو بل سفر په لړ کې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت سرپرست د يوه لوړپوړي پلاوي په مشرۍ د قطر پلازمېنې دوحې ته سفر کړی و، مولوي اميرخان متقي د خليجي هېوادونو له استازيو سره په دې ليدنو کې چې پر کومو مسئلو بحث کړی پوره روښانه نه ده، خو د بهرنيو چارو وزارت په يوه خبرپاڼه کې ويل شوي وو چې افغانستان يې د بحث اجنډا وه. د بهرنيو چارو وزارت د وياند مرستيال حافظ ضيا احمد تکل بيا له رسنيو سره په خبرو کې ويلي وو چې په دې ليدنو کې پر افغانستان خبرې شوي دي. له مولوي امير خان متقي دا تمه هم شوې وه چې د خپل سفر په لړ کې پر قطري چارواکو سربېره د اروپايي او هغو هېوادونو له استازيو سره وګوري چې خپل سفارتونه يې له کابله دوحې ته لېږدولي دي.(۱۳) په دې سفر کې د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير مولوي اميرخان متقي په دوحه کې د قطر د کورنيو او نړېوالو چارو له وزيرې مريم المسند سره هم کتلي و. د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت وياند عبدالقهار بلخي په يو خبرليک کې ويلي وو چې سرپرست وزير امير خان متقي اغلې مسند ته بلنه ورکړې چې افغانستان ته سفر وکړي تر څو مرستو ته د اړمنو ښځو او ماشومانو وضعيت وګوري او د خيريه موسسو له لارې ورسره مرستې وکړي. بلخي زياته کړې وه چې د ليدنې په پای کې دواړو لوريو هوکړه وکړه چې افغانستان ته به يو پلاوی سفر وکړي، څو په افغانستان کې د قطري دفترونو او خيريه موسسو د پرانېستلو او له اړمنو کسانو سره د مرستو د پيل بهير ته لاره هواره کړي. د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير د قطر د نړولنيزو چارو وزيرې مريم المسند ته په داسي حال کې د ښځو د وضعيت د ليدنې لپاره بلنه ورکړې وه چې تر شپږم ټولګي پورته نجونې ښوونځيو ته د تګ اجازه نه لري او د اسلامي امارت دغه پرېکړه د ډېرو افغان نارينه او مېرمنو تر نيوکې لاندې راغلې ده.(۱۴)

د اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد په خپلو خبرو کې ويلي وو چې قطر ته د دوی د لوړپوړي پلاوي د سفر په يوه څنډه کې د دې هېواد له ځينو لوړپوړو چارواکو سره کتلي او په يو لړ موضوعاتو يې خبرې کړې دي. نوموړي ويلي وو چې د اسلامي

امارت پلاوي د قطر د صدر اعظم له مرستيال او د بهرنيو چارو وزير محمد بن عبدالرحمن بن جاسم الثاني سره کتلي دي. د مجاهد په خبره په پيل کې ښاغلي محمد الثاني افغان پلاوي ته هرکلی ووايه، د دوستانه اړيکو او په افغانستان کې د اقتصادي پروژو او په يو لړ نورو موضوعاتو يې خبرې کړي دي. د اسلامي امارت وياند زياته کړې وه چې ښاغلي الثاني قطر ته د افغان پلاوي په ورتګ او له نړيوالو سره په ليدو يې خوښي څرګنده کړې او ډاډ يې ورکړی چې قطر له افغانستان سره هر ډول همکاريو ته چمتو دی.

مجاهد يې په دوام ويلي و چې د اسلامي امارت د بهرنيو چارو سرپرست وزير اميرخان متقي د قطر له همکارۍ مننه وکړه او په راتلونکي کې يې پر لا ښو اړيکو ټينګار وکړ، په همدې حال کې هغه ټينګار کړی وو چې اسلامي امارت له نړيوالو سره د اړيکو ښه والی غواړي. دغه راز اميرخان متقي امريکايي پلاوي سره د اسلامي امارت د پلاوي ليدنه مهمه ياده کړې او ويلي يې وو چې د لومړي ځل لپاره د دوی پلاوي په بشپړ صلاحيت له نړيوالې ټولنې سره د افغانستان د مسايلو د حل لپاره خبرو ته دانګلي او په دې اړه پربکړه کوي.(۱۵)

د قطر د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي د اسلامي امارت د بهرنيو چارو له سرپرست امير خان متقی سره په ليدنه کې له افغانستان سره پر سياسي همکاريو، د اړيکو پر پياوړتيا او د بشري مرستو پر دوام ټينګار کړی و. د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت وياند عبدالقهار بلخي يوه خبرپاڼه خپره کړه چې پکې ويلي يې وو، د افغانستان لپاره ځانګړی استازی مطلق بن ماجد القحطانی د قطر د بهرنيو چارو وزير او ورسره پلاوي د بهرنيو چارو وزارت له سرپرست مولوي اميرخان متقی سره په کابل کې کتلي دي. په دې کتنه کې د دواړو لورو د علاقې وړ موضوعاتو تر څنګ د سياسي همکاريو، د اړيکو د پياوړتيا او د بشري مرستو په برخو کې د قطر خيريه بنسټ پر فعاليتونو خبرې شوې وې. په دې کتنه کې دواړو لورو ويلي وو چې شته فرصتونه بايد په ښه توګه مديريت او وکارول شي.(۱٦)

د اسلامي امارت د دفاع وزارت سرپرست مولوي محمد يعقوب مجاهد هم په يوه رسمي سفر قطر ته تللی و، ټاکل شوې وه چې په دې سفر کې به د قطر له امير، دفاع وزير او د دغه هېواد له ځينو نورو جګپوړو چارواکو سره وګوري. قطر ته د مولوي محمد

یعقوب مجاهد دا لومړی رسمي سفر و. په قطر کې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم وردگ پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي وو چې: د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد د یو لوړ پوړي پلاوي په مشری د قطر په رسمي بلنه قطر هېواد ته خپل سفر پیل کړی. همداراز د اسلامي امارت ویاند ذبیح‌الله مجاهد هم ویلي وو چې د دفاع وزارت سرپرست مولوي محمد یعقوب مجاهد په دوحه کې د قطر له امیر محترم تمیم بن حمد ال ثاني سره لیدلي او په دې لېدنه کې یې د دواړو  هېوادونو د دوستانه اړیکو او اړوندو مسایلو په اړه خبرې کړې دي. مولوي محمد یعقوب مجاهد د اسلامي امارت  دویم جگپوړی چارواکی دی چې قطر ته یې سفر کړی. قطر ته د اسلامي امارت د جگپوړو چاراواکو سفرونه به څه پایلې ولري، سیاسي کارپوهان یې په اړه بېلابېل لېدلوري لري.(۱۷)

رییس جمهور چین در نشست کشورهای همسایه افغانستان که با اشتراک وزیران خارجه کشورهای چین، روسیه، پاکستان، ایران،تاجکستان،ترکمنستان و ازبکستان در شهر تونشی چین برگذار شده بود اظهار داشت که أفغان ها آرزوی داشتن یک کشور آرام، با ثبات و توسعه یافته را دارند که در راستای منافع مشترک کشورهای منطقه و جامعه بین المللی می باشد. و همچنان برای حمایت افغانستان گنگ شوانک هادن نماینده دایمی چین در سازمان ملل متحد در رابطه به اعمال تحریم ها بالای دولت افغانستان گفته است که نباید تحریم ها به عنوان ابزار فشار بر علیه دولت آن کشور اعمال گردد. وی باورمند است که جامعه جهانی به صورت عملی باید با طالبان (امارت اسلامی افغانستان) یاری رسانده و یا آنان وارد تعامل شوند. (۳۴) در رابطه به پول های منجمد شده افغانستان نیز چین از دولت و مردم این کشور حمایت نموده و بار ها خواهان آزاد سازی پول های بانک ملی افغانستان شده است. چون ایالات متحده امریکا بعد از به قدرت رسیدن امارت اسلامی افغانستان حدوداً ۱۰ میلیارد پول از ذخایر ارزی بانک مرکزی افغانستان که در بانک‌های آن کشور نگهداری می‌شد را مسدود نموده این اقدام ایالات متحده امریکا روند داد و ستد مالی را به مشکل مواجه نموده و بارها حکومت ایالات متحده امریکا خواست های مردم و کشورهای جهان را در زمینه رفع محدودیت متذکره بی پاسخ گذاشته است. در این زمینه سفیر چین با این که تاکید دارد که کشورش در مسایل داخلی کشورهای دیگر مداخله نمی کند اما در عرصه جهانی وارد موضوعات و مسایل بین المللی شده و خواهان آزاد سازی پول های بلوکه شده افغانستان در بانک های امریکا گردیده است.(۳۵) البته باید گفت که چینایی ها از ایجاد صندوق امانی

افغان در سیویس نیز شاکی اند و در واکنش به ایجاد آن سخنگوی وزارت امور خارجه چین گفته است که: پول های مسدود شده دارایی مردم افغانستان است و باید به آن ها برگردانده و توسط خود آن ها مدیریت گردد.[٣٦] چون پولی که بواسطه دولت امریکا مسدود گردیده است نقشی مهم و ارزنده را در بهبود معیشت مردم و باز سازی کشور دارا می‌باشد. محروم نمودن دولت و ملت افغانستان از دارایی شان؛ مردم را به فقر روز افزون مواجه می‌نماید و این عمل منجر به تضعیف دولت داری نیز می‌گردد.

از طرف دیگر نماینده چین در سازمان ملل متحد از جهان خواست تا با حکومت افغانستان وارد تعامل شوند و به باور او قطع ارتباطات با این کشور کار عاقلانه نخواهد بود وی منزوی ساختن افغانستان را به نفع هیچ طرفی نمی داند.[٣٧] چون افغانستان در حال حاضر یکی از حساس ترین مراحل سیاسی- اقتصادی تحولات اخیر را پشت سر می‌گذارند و نیازمند است تا ارتباطات معنی‌داری میان افغانستان و جهان برای تأمین کمک‌های مورد نیاز به مردم وجود داشته باشد و در صورت قطع ارتباطات فرصت ایجاد وضعیت بهتر این کشور از دست خواهد رفت.

چین به مثابه دولت همسایه؛ حمایت‌های سیاسی را در سطوح مختلف از افغانستان انجام داده است طوری‌که وانگ یو سفیر چین در کابل اظهار داشته است؛ کشورش به عنوان همسایه خوب و همکار افغانستان در مورد گسترش روابط با امارت اسلامی در تلاش است و با توجه به آن همکاری های چند جانبه را روی دست گرفته اند. چیانی ها اظهار داشته اند که در زمینه روند رسمیت شناختن امارت اسلامی افغانستان از راهکار های امریکایی ها پیروی نمی کنند.[٣٨] از سوی هم وانگ یو سفیر چین اطمینان می‌دهد که این کشور در هر شرایط از دولت افغانستان حمایت خواهد نمود و برای تقویت دولت این کشور کار عملی پروژه های را که از طرف چین آغاز شده و پروژه های که از جانب بانک جهانی تامین مالی می‌شود را دوباره آغاز خواهند کرد و آماده همکاری و تقویت روابط دو جانبه با امارت اسلامی در چارچوب تفاهم نامه ها و قرار داد ها می‌باشد.

### کمک های بشر دوستانه

ارائه کمک‌های بشر دوستانه به گونه مواد خوراکی و تدارکات اولیه زندگی برای مردمان نیازمند در یک مقطع زمانی کوتاه مدت در نظر گرفته می‌شود. این گونه کمک‌ها اغلباً برای آوراگان و قربانیان جنگ‌ها، بلایای طبیعی و قطحی زدگان تعلق می‌گیرد. کمک

های بشر دوستانه به گونه رایگان به هدف کاهش درد و رنج بشر و احترام به کرامت و حقوق انسانی برای آن‌ها در نظر گرفته می‌شود.[۳۹] چین در این راستا قطارهای بیش از دوهزار و ۶۰۰ تُن کمک‌های بشردوستانه را به افغانستان منتقل کرده است. و در ادامه ارایه آن قطاری با بیش از یک‌هزار تُن محموله‌ی کمک‌های متذکره که شامل مواد خوراکی و غیرخوراکی از جمله لباس و کفش بود، به أفغانستان رسید و به وزارت امور مهاجرین تسلیم داده شده است.[۴۰] چینایی‌ها این کمک‌ها را بیانگر دوستی عمیق مردم چین با مردم افغانستان دانسته و آن را نشان‌دهنده نقش چین به عنوان یک کشور مهم در کمک رسانی به افغان ها می‌داند که به وعده‌های خود عمل می کند و با همسایگان خود مهربان اند.

چین به ادامه ارایه چنین محموله‌های بشردوستانه برای مردمان آسیب پذیر افغانستان تاکید می‌نمایند. طوری که سفیر آن کشور در دیدار با مقام های وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان به ارزش ۱۵ میلیون دالر کمک های بشری و اهدای سه میلیون دوز واکسین کرونا را تعهد کرد. او تاکید نمود که از این پول به هزینه ۵ میلیون دالر لباس زمستانی و کمپل و به ارزش ۱۰ میلیون دالر مواد غذایی خریداری خواهد شد.[۴۱] چین با ارایه کمک‌های مذکور نشان می‌دهد که در زمینه همکاری با افغانستان متعهد است. دولت چین و افغانستان به منظور ادامه روند کمک رسانی، باز سازی اقتصادی و ارایه کمک‌ها برای افغان‌های نیازمند دیدارها و جلسات را تدویر نموده اند طوری‌که ژائو لیجیان، سخنگوی وزارت امور خارجه چین اظهار داشت؛ مقام‌های این کشور و ذاکر جلالی نماینده‌ای از وزارت خارجه افغانستان روی موضوعاتی، از جمله ارایه کمک‌های بشردوستانه و بازسازی اقتصادی این کشور گفت‌وگو کرده‌اند و طرف چینایی به ادامه ارایه کمک های بشردوستانه به افغان ها آمادگی دارد.[۴۲] بناءً با توجه به فعالیت‌های کشور چین در راستای ارائه کمک‌های بشر دوستانه برای افغان‌ها می‌توان گفت، چینایی‌ها در کنار این که فعالیت های اقتصادی دارند و دنبال کسب منافع اقتصادی اند، در بخش کمک‌های بشر دوستانه نیز با امارت اسلامی افغانستان همکاری نموده اند.

**نتیجه**

دولت چین بعد از به قدرت رسیدن دنگ شیائوپنگ با آغاز اصلاحات اقتصادی در عرصهٔ روابط خارجی و تأمین مناسبات با دول دیگر در منطقه و جهان؛ حدوداً چندین دهه است که از مدل سیاست خارجی اقتصاد محور

استفاده نموده و با کاربرد راهکار متذکره اکنون این کشور توانسته به مثابهٔ یک قدرت اقتصادی در سطح جهان از جایگاه با اهمیتی برخوردار گردد. از سوی دیگر کارگزاران سیاست خارجی امارت اسلامی افغانستان نیز بعد از روی کار آمدن مجدد تاکید بالای توسعه اقتصادی داشته و در روابط خارجی بیشتر توجه به تقویت مناسبات اقتصادی- تجاری با دول دیگر دارند. از سوی دیگر افغانستان و چین به عنوان کشورهای همسایه برعلاوه داشتن روابطی با سابقه تاریخی از مناسبات با اهمیتی در ابعاد مختلف اجتماعی- فرهنگی و اقتصادی- سیاسی نیز برخوردار اند. مناسبات دو کشور بنابر اتخاذ سیاست خارجی اقتصاد محور از جانب دولت چین و امارت اسلامی افغانستان و در کنار آن ضرورت طرفین به توسعهٔ منافع اقتصادی وارد فاز جدید شده است. طرف افغانستان با دولت چین روابط و تعاملات سیاست خارجی خود را بر بنیاد مسایل اقتصادی ترتیب و تنظیم نموده و تلاش‌های جدی را در چارچوب انعقاد قرار داد ها و پیمان‌های دو طرفه برای جذب سرمایه گذاری های خارجی، توسعه تجارت و تقویت بنیاد های اقتصادی انجام میدهند. چین برعلاوه انعقاد قرار داد های اقتصادی با امارت اسلامی افغانستان به ادامه روابط دیپلوماتیک با این کشور پرداخته و در مجامع بین المللی از افغانستان حمایت های را انجام داده است.

نهایتاً نتیجه می‌گیریم که دو دولت با در نظر داشت اهمیت موضوعات اقتصادی در روابط خارجی شان تعاملاتی را مبتنی بر رویکردهای اقتصادی انجام میدهند.

امارت اسلامی افغانستان با اتخاد مناسبات دیپلوماتیک در چارچوب موضوعات اقتصادی شاهد دست آوردهای بوده است که قسمت اعظم آن را می‌توان در چارچوب انعقاد قرار داد های دوجانبه با طرف چینایی ارزیابی نمود. تفاهم نامه‌ها میان افغانستان و چین در سکتور معادن چون آغاز مجدد فعالیت‌ها بالای استخراج معدن مس در لوگر، استخراج نفت حوزه آمو دریا، نفت شبرغان، تولید برق با استفاده از انرژی ذغال سنگ، احتمال پیوستن افغانستان به پروژه فرامنطقه‌یی BRI،اتصال افغانستان به کریدور اقتصادی چین- پاکستان و غیره نشان دهنده فعالیت های دیپلوماتیک طرفین به محور منافع اقتصادی می باشد.

از سوی هم طرف چینایی با توجه به اهمیت و جایگاه افغانستان در منطقه و این که امنیت و ثبات این کشور می‌تواند در تامین امنیت و ثبات منطقه مهم واقع گردد، در مجامع بین المللی و نشست‌های منطقه‌یی حمایت‌های را از دولت افغانستان اعلام داشته که می‌توان از آن به عنوان دست آورد های مثبت فعالیت‌های دیپلوماتیک امارت اسلامی جهت کسب نظر مثبت و موافق چین نسبت به مسایل افغانستان یادآوری کرد.

**پیشنهادات**

باتوجه به این که برخی از اندیشمندان باورمند اند؛ سیاست خارجی در ادامه سیاست داخلی در محیط خارجی می باشد و یک رابطه مستقیم میان سیاست داخلی و سیاست خارجی وجود دارد. بناءً پیشنهاد می گردد که امارت اسلامی باید سیاست داخلی را به گونه تنظیم و تدوین نماید که خلای در اجرای سیاست خارجی ایجاد نگردد و در کنار آن باید دکترین مدون سیاست خارجی با توجه به ژیواکنومیک و بر گرفته شده از اهداف اقتصادی نیز وجود داشته باشد. در کنار آن پیشنهاد می گردد که امارت اسلامی با تطبیق سیاست خارجی اقتصاد محور اعتماد سازی منطقه‌یی را نیز ایجاد نماید و ثابت بسازد که خاک افغانستان تهدیدی را برای کشورهای دیگر ایجاد نمی نماید.

**مآخذ**


۱ - گریگوریان، وارتان، ظهور افغانستان نوین، مترجم علی عالمی کرمانی، ابراهیم شریعتی نیا: تهران، ۱۳۸۸، ص ۴۶۱.

۲ - وفایی زاده، قاسم و دیگران، «بررسی گفتگوهای صلح افغانستان در چهار دهه»، انستیتوت مطالعات ستراتیژیک افغانستان: کابل، ۱۳۹۵، ص ۴۰.

۳ - سجادی،عبدالقیوم. جامعه شناسی سیاسی افغانستان،چاپ اول،بوستان کتاب قم: قم چهارراه شهید ،سال ۱۳۸۰، ص ۲۸۱.

٤ - اندیشمند، محمد اکرام، امریکا در افغانستان،چاپ اول، انتشارات میوند: کابل،۱۳۸۴،صص ٦۴-٦٥.

٥ - یوسفی، محمد عقیل. «بازبینی سیاست خارجی افغانستان در دوره امارت اسلامی افغانستان»، ویب سایت:.nunn.asia، تاریخ نشر:١٦ / ۴ / ۲۰۲۲، دسترسی: https://www.nunn.asia/202862/%d8% [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱].

٦ - Mashrrq News ، «وزیرخارجه طالبان: افغانستان با کشورهای همسایه روابط حسنه دارد»،سایت مشرق نیوز، تاریخ نشر:۱۵/ ۳/ ۱۴۰۱،دسترسی: https://mashrqnews.ir/news/1383559، [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۷- هشت صبح،« طالبان: سیاست خارجی مثبت و سازنده را در پیش گرفته ایم»، ویب سایت ۸صبح، تاریخ نشر: ۱۱ / ۱۰/ ۱۴۰۰، دسترسی: https://8am.media/taliban-we-have-a-pasitive-and-constructive-foreign-policy، [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱].
۸ - تسنیم نیوز، »امیر خان متقی سیاست خارجی طالبان بی طرفانه و اقتصاد محور است»، ویب سایت ۸صبح،تاریخ نشر:۲۱/ ۱۰/ ۱۴۰۰، دسترسی: https://www.tasnimnews.com/fa/news/ [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱].
۹- مهر نیوز،«امیرخان متقی: در حال تدوین سیاست خارجی اقتصاد محور هستیم»، ویب سایت مهر،تاریخ نشر: ۱۲/ مهرداد/ ۱۴۰۱،دسترسی: https://www.mehrnews.com/news،[مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۱۰ - گروهی از نویسندگان. سیاست خارجی کنونی چین، ترجمه مرکز مطالعات سورین،انتشارات مرکز مطالعات سورین: تهران،سال ۱۳۸۹ ص ۳-۴.
۱۱ - طالبی آرا،روح الله. «تاملی بر سیاست خارجی اقتصاد محور چین در آغاز سده بیست و یکم»، معاونت پژوهش های سیاسی- اقتصادی و حقوقی،سال ۱۳۹۵، دفتر مطالعات سیاسی،ماه اردیبهشت، شماره مسلسل ۱۴۸۲۷،مرکز پژوهش های مجلس شورای اسلامی،صص ۴- ۱۵.
۱۲- کامل، عبدالرحیم. «نگاهی متفاوت به روابط و آینده طالبان و چین»، ویب سایت.iess.ir ، تاریخ نشر:
۲۰/ ۹/ ۱۴۰۰ https://www.iess.ir/fa/analiys/2893 [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۱۳-swn.af ،« مقام های امارت اسلامی دهلیز هوایی میان افغانستان و چین را افتتاح کردند»، ویب سایت /swn.af، تاریخ نشر، ۲۰۲۱/۱۰/۳۱ دسترسی:
https://swn.af/islamic-emirate-officials-open-air-corridor-between-afghanistan-and-china/ ، [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]

١٤ - آریانا نیوز،«واگذاری سفارت افغانستان در چین به امارت اسلامی»، ویب سایت آریانا نیوز،تاریخ نشر ۹/ ۲/ ۱۴۰۱،دسترسی :
https://www.ariananews.af/fa [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۱۵ - همشهری آن لاین،«روابط چین و طالبان؛ نگرانی های امنیتی یا سود اقتصادی»، ویب ساست کوکچه نیوز، تاریخ نشر ۲۰۲۲/۳/۲۱، دسترسی:
https://www.hamshahrionline.ir/news/ [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
١٦ - یورونیوز،«وزیر خارجه چین در سفر غیر منتظره به کابل با مقام های طالبان دیدار کرد»، ویب سایت یوروینوز، تاریخ نشر ۲۰۲۲/۳/۲۴،دسترسی:
https://parsi.euronews.com/2022/03/24/china-foreign-minister-surprise-stop-kabul-to-meet-afghanistan-s-taliban-rulers [مراجعه:۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۱۷- طلوع نیوز، » تعهد چین به تقویت روابط دیپلوماتیک و همکاری اقتصادی با افغانستان»، ویب سایت: طلوع نیوز،تاریخ نشر: [۴ / ۸/ ۱۴۰۰، دسترسی:
https://tolonews.com/fa/afghanistan-175188 مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱].
۱۸- یورونیوز،«وزیر خارجه چین در سفر غیر منتظره به کابل با مقام های طالبان دیدار کرد»، ویب سایت یوروینوز، تاریخ نشر ۲۰۲۲/۳/۲۴،دسترسی:
https://parsi.euronews.com/2022/03/24/china-foreign-minister-surprise-stop-kabul-to-meet-afghanistan-s-taliban-rulers [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۱۹- طلوع نیوز، » تعهد چین به تقویت روابط دیپلوماتیک و همکاری اقتصادی با افغانستان»، ویب سایت: طلوع نیوز،تاریخ نشر:۴ / ۸/ ۱۴۰۰، دسترسی:
https://tolonews.com/fa/afghanistan-175188 ، [مراجعه:
۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۲۰ - اطلاعات روز،«گفتگوی افغانستان و چین روی احیای مجدد اقتصاد افغانستان»،ویب سایت اطلاعات روز ،تاریخ نشر: ۱۱/ ۱۰/ ۱۴۰۰ دسترسی:
https://www.etilaatroz.com/134221/taliban-china-talks-on-reviving-afghanistans-economy/، [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۲۱- بی.بی.سی، «طالبان: شرکت ملی نفت چین در افغانستان سرمایه گذاری می کند»، ویب سایت بی.بی.سی، تاریخ نشر: ۱۷/ ۱/ ۱۴۰۱، دسترسی:

https://www.bbc.com/persian/afghanistan-61009657[مراجعه:
۱۴۰۱/۱۰/۲۱]

۲۲ - اطلاعات روز،« سفیر چین در کابل: در صدور ویزا برای تاجران افغان سهولت فراهم می کنیم»، ویب سایت اطلاعات روز، تاریخ نشر ۱٦/ ۸/ ۱۴۰۰، دسترسی:
https://www.tasnimnews.com/fa/news/[مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]

۲۳- اطلاعات روز،«سفیر چین: امریکا با تحریم های اقتصادی می خواهد انتقام شکست اش را ار مردم افغانستان بیگیرد»، ویب سایت اطلاعات روز،تاریخ نشر: ۲۵/ ۱۰/ ۱۴۰۰ دسترسی:
https://www.etilaatroz.com/134906/chinese-ambassador-says-us-wants-to-avenge-its-defeat-on-afghan-people-with-economic-sanctio/ ،[مراجعه:
۱۴۰۱/۱۰/۲۱]

۲۴- تسنیم نیوز، «دیدار نماینده ویژه چین با وزیران خارجه و دفاع دولت موقت طالبان»، ویب سایت تسنیم نیوز،تاربخ نشر، ۱۹/ مرداد/ ۱۴۰۱ دسترسی: https://www.tasnimnews.com/fa/news/ [مراجعه:
۱۴۰۱/۱۰/۲۱]

۲۵- رضایی، محمد مهدی. «واکنش ها به امضای قرار داد استخراج نفت حوزه دریایی آمو میان امارت اسلامی و چین»، ویب سایت خامه، تاریخ نشر ۷/ ژانویه/ ۲۰۲۳،دسترسی:
https://www.khaama.com/persian/archives/108717 ،[مراجعه:
۱۴۰۱/۱۰/۲۱]

۲٦ - حکیمی، آمنه، «چین بخش های اقتصادی افغانستان را کمک می کند»،ویب سایت طلوع نیوز،تاریخ نشر: ۱۴۰۱/۵/۱٦، دسترسی: https://tolonews.com/fa/business-179159 ،[مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]

۲۷ - تسنیم، «نخستین محموله تجاری چین از مسیر راه آهن به افغانستان رسید»،ویب ساست تسنیم نیوز، تاریخ نشر: ۳۱ /۱۴۰۱/٦ ، دسترسی:
https://www.tasnimnews.com/fa/news/ [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]

۲۸- بی.بی.سی، «طالبان: شرکت ملی نفت چین در افغانستان سرمایه گذاری می کند»، ویب سایت بی.بی.سی، تاریخ نشر: ۱۷/ ۱/ ۱۴۰۱، دسترسی:

https://www.bbc.com/persian/afghanistan-61009657[مراجعه:
۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۲۹- تسنیم، «توافق پاکستان و چین برای حضور افغانستان در سی پک»، ویب سایت تسنیم ، تاریخ نشر ۸/۱۳/ ۱۴۰۱، دسترسی:
https://www.tasnimnews.com/fa/news/ [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۳۰- شاهی، مریم.« فصل جدید روابط چین با طالبان: آیا نظم نوین منطقه ای در راه است؟ »، ویب سایت parsi.euronews ، تاریخ نشر ۲۰۲۲/۱/۱۰، دسترسی:
https://parsi.euronews.com/2022/01/10/afghanistan-china-new-policy-us-whitdrawl-army-politics-exclusive-interview-report [مراجعه:
۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۳۱- تسنیم نیوز، «حضور افغانستان در نمایشگاه بین المللی چین»، ویب سایت تسنیم نیوز، تاریخ نشر: ۲۹/ ۸/ ۱۴۰۰ ،دسترسی:
https://www.tasnimnews.com/fa/news/ [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۳۲- swn.af ،« مقام های امارت اسلامی دهلیز هوایی میان افغانستان و چین را افتتاح کردند»، ویب سایت /swn.af، تاریخ نشر، ۲۰۲۱/۱۰/۳۱ دسترسی:
https://swn.af/islamic-emirate-officials-open-air-corridor-between-afghanistan-and-china/ ، [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۳۳- اسپوتیک، «یک کمربند و یک جاده: چین خواست طالبان را خواهد پذیرفت؟»، ویب سایت اسپوتیک، تاریخ نشر: ۲۰۲۲/۱۰/۲۷ دسترسی:
https://sputnik.af/ [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۳٤- بی.بی.سی، «طالبان: شرکت ملی نفت چین در افغانستان سرمایه گذاری می کند» ویب سایت بی.بی.سی، تاریخ نشر: ۱۷/ ۱/ ۱۴۰۱،
دسترسی:https://www.bbc.com/persian/afghanistan-61009657 [مراجعه:
۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۳۵- اطلاعات روز،«سفیر چین: امریکا با تحریم های اقتصادی می خواهد انتقام شکست اش را ار مردم افغانستان بیگیرد»، ویب سایت اطلاعات روز،تاریخ نشر: ۲۵/ ۱۰/ ۱۴۰۰ دسترسی:

https://www.etilaatroz.com/134906/chinese-ambassador-says-us-wants-to-avenge-its-defeat-on-afghan-people-with-economic-sanctio
[مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۳٦- تسنیم نیوز، «امریکایی ها دارایی های افغانستان را آزاد و تحریم های یکجانبه را لغو کنند»، ویب ساست تسنیم نیوز، تاریخ نشر، ۲٦/ ٦/ ۱۴۰۱، دسترسی:
https://www.tasnimnews.com/fa/news/ [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۲۱]
۳۷- تسنیم نیوز، «چین: قطع کردن ارتباطات افغانستان با جامعه بین المللی عاقلانه نیست»، ویب سایت تسنیم نیوز، تاریخ نشر:٦/۴/ ۱۴۰۱، دسترسی:
https://www.tasnimnews.com/fa/news/ [مراجعه: ۱۴۰۱/ ۱۰/۲۰]
۳۸- تسنیم نیوز، «چین: در صدد گسترش روابط با افغانستان هستیم»، ویب سایت تسنیم، تاریخ نشر: ٦/۲۸/ ۱۴۰۱ دسترسی:
https://www.tasnimnews.com/fa/news/،[مراجعه: ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۰۱].
۳۹- Bonyaddanesh ، «مجله بنیاد دانش،کمک های بشردوستانه چیست؟» ، ویب سایت bonyaddanesh، تاریخ نشر: ۲۰ /۱۰/ ۱۴۰۰، https://www.mog.bonyaddanesh.org ، [مراجعه: ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۰۱].
۴۰- اطلاعات روز، «کمک‌های بشردوستانه‌ی چین به أفغانستان: محموله‌ی هزار تُنی کمک‌های بشردوستانه‌ی چین به مقصد افغانستان حرکت کرد»، ویب سایت etilaatroz.com ، تاریخ نشر: ۳۰ عقرب ۱۴۰۰، دسترسی:
https://www.etilaatroz.com/132975/shipment-of-1000-tons-of-chinese-humanitarian-aid-headed-for-afghanistan/ ،[مراجعه: ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۰۱].
۴۱- آژانس اطلاعاتی باختر، «اعمال فشار بر امارت اسلامی أفغانستان نمی تواند راهکار مناسب باشد»، ویب سایت باختر، تاریخ ۲۹ اسد، ۱۴۰۱، دسترسی : https://bakharnews.af/dr، [مراجعه:۱۴۰۱/۱۲/۴]

ابراهیم خیل،شکیلا.«نخستین محموله کمک‌های بشردوستانه چین به کابل رسید»، ویب سایت dw.com، ۸ /۷ /۱۴۰۰-https://www.dw.com/fa مراجعه: ۳۰/ ۱۰/ ۱۴۰۱]

۴۲- صدیق، فیروز، «کابل: وزارت امور خارجه چین می‌گوید که یک نشست اقتصادی میان آن کشور و طالبان برگزار شده است»، ویب سایت خامه نیوز، تاریخ نشر: ۱۱ /۱۰/ ۱۴۰۰،دسترسی :
https://www.khaama.com/persian/archives/95891،[مراجعه:
۳۰/ ۱۰/ ۱۴۰۱].

څېړندوی معصوم جان معصومي

# د اسلامي امارت بیا ځلي واک ته رسېدو سره د افغانستان په اړه د هند ډیپلوماټیک تعامل


**لنډیز**

دغه مقاله واک ته د اسلامي امارت له بیا ځلي رسېدو سره د افغانستان په تړاو د هند ډیپلوماټیک تعامل او د هند هغه امنیتي اندېښنې چې د افغانستان خاوره باید د هند پر خلاف ونه کارول شي او نه هم افغانستان د ترهګرو ډلو پر خوندي ځای بدل شي؛ څېړي. په دې مقاله کې دا څېړل شوې چې هند په افغانستان کې د سولې، ثبات او پرمختګ پلوی دی. واک ته د اسلامي امارت له رسېدو راهیسې له افغانستان سره د هند د غذایي او طبي موادو مرستې او د افغانستان په اړه د هند سیمه‌ییزه ستراتیژي په ډاګه کوي چې په افغانستان کې شخړه او ناامني د افغانانو او د سیمې د هېوادونو په زیان ده. همدارنګه په دې مقاله کې له هند سره د دوه اړخیزو سیاسي او ډیپلوماټیکو مناسباتو د ټینګولو لپاره د اسلامي امارت د حکومت تمایل هم څېړل شوی ترڅو اسلامي امارت د افغانستان په بیا جوړونه کې د هند له اقتصادي ظرفیت څخه ګټه واخلي او له نوموړي هېواد سره اوږد مهاله دوه اړخیزو اړیکو ته دوام ورکړي.


**سریزه**

د افغانستان او هند تاریخي او کلتوري اړیکې له اندوس تمدن څخه سرچینه اخلي چې دواړو هېوادونو د پېړیو په اوږدو کې د هند په نیمه لویه وچه کې د ګډو مشترکو تشبهاتو په لرلو سره دوه اړخیز تعامل ته دوام ورکړ. په سیاسي حوزه کې هند تل د افغانستان د ثبات او پرمختګ پلوي کړې او د افغانستان ثبات او پرمختګ یې د افغانستان د ګاونډیانو او د سیمې په ګټه بللی دی. هند په ۱۹۴۷ز کال کې له برتانیې څخه د خپلواکۍ له اخیستلو او په همدې کال د پاکستان په منځته راتګ سره، له افغانستان سره د سیاسي اړیکو د ټینګښت په موخه په ۱۹۵۰ز کال کې د ((ملګرتیا تړون)) لاسلیک کړ او له یو شپېته کلونو وروسته افغانستان او هند د دویم ځل لپاره په ۲۰۱۱ ز کال کې د ((ستراتیژیک شراکت هوکړه لیک)) لاسلیک کړ.[1]

د دې ترون د چوکاټ پـه اصـولو کـې دواړو هېوادونـو موافقـه وکـړه چـې پـه سـیاسي، امنیتي، سوداګریزو، اقتصادي، ظرفیت لوړونې، تعلیمي پرمختګ، ټولنیزو، فرهنګـي، مـدني ټولنو او د دواړو هېوادونو د ولسونو ترمنځ د اړیکو په برخه کې به همکارۍ ته دوام ورکوي.[۲]

د سپټمبر د یوولسمې له پېښې وروسته پر افغانستان د امریکا متحده ایالاتو د برید پـه پایله کې د اسلامي امارت نظام ړنګ شو او د نړیوالې ټـولنې پـه مشرۍ پـه افغانسـتان کـې ډیموکراټیک نظام جوړ شو؛ چې ورسره په سیمه کې هند یو له مهمو او مرستندویه هېوادونـو څخه و چې د افغانستان په بیارغونه کې یې فعال رول ولوباوه. هند لـه افغانسـتان سره د دوه اړخیزو اړیکو او متقابل احـترام پـه چوکـاټ کـې اړیکـې وپـاللې. د افغانسـتان لپـاره د هنـد تګلاره د نرم قدرت پر پالیسۍ ولاړه وه چې له شک پرتـه د هنـد دې پالیسـۍ پـه افغانسـتان کې عامه ذهنیت اغېزمن کړ. د امریکا د هارواړډ پوهنتون پروفیسور جوسیف نـۍ چـې د نـرم قدرت پالیسي تیوري یې په ۱۹۸۰ لسیزه کې معرفي کړې، وایي: ((نرم قدرت پالیسي- د یـو هېواد هغه وړتیا ته وایي چې په بل هېواد کې د زور او پیسـو پـه پرتلـه د جـذب او ترغیـب پـه وسیله د پام وړ او غوره پایلې تر لاسه کړي.)) [۳] په دې توګه هند په تېرو شـلو کلونـو کـې پـه افغانستان کې نږدې درې میلیارده ډالـر پـه پرمختیـایي او د ظرفیـت لـوړونې پـه پـروژو کـې لګولي دي[۴] د افغانستان په بیارغونه کې د هند د ونډې موخه په افغانستان کـې د سـولې، ثبات او پرمختګ ترڅنګ په سیمه کې د ثبات راوستلو، د سـیمه ییـزې اقتصـادي همکـارۍ پیاوړتیا او د پاکستان او چین د سیمه ییز نفـوس مخنیـوی و ترڅـو هنـد پـه سـیمه کـې د را ټوکېدونکي قدرت په توګه رول ولوبوي او خپلې سیمه ییزې ګټې خونـدي کـړي. لـه همـدې امله په سیمه کې د هند په بهرنۍ پالیسۍ کې افغانسـتان د مهـم او سـتراتیژیک هېـواد پـه توګـه ځـای لـري او د دواړو هېوادونـو دوه اړخیـزه اړیکـې د ۲۰۱۱ ز کـال د ((سـتراتیژیک شراکت هوکړه لیک)) په لاسلیک کولو سره لا غښتلې شوې چې له لارې یـې د هنـد رول پـه پرمختیایي، اقتصادي او فرهنګي ډګر کې نور هم روښانه شو.

هند په بهرنۍ پالیسۍ کې تل لـه افغانسـتان سره دولـت پـه دولـت اړیکـو تـه ارزښـت ورکړی، خو په نویمه لسیزه کې په افغانستان کـې د مجاهـدینو تـرمنځ د کـورنۍ جګـړې لـه امله له هند سره اړیکې ټکنۍ شوې او پر ۱۹۹۶ز کال په افغانسـتان کـې د اسـلامي امـارت واک ته په رسېدو سره په کابل کې نـوي ډیـلي خپـل ډیپلوماټیـک حضـور د همدغـه کـال د سپټمبر په میاشت کې پای ته ورسوه، ځکه چې هغه مهال اسلامي امـارت د هنـد پـه فکـر د

پاکستان له ملاتړ څخه برخمنه ډله ګڼل کېده او په دې توګه هند د اسلامي امارت حکومت په رسمیت ونه پېژانده. هند په افغانستان کې د پاکستان د نفوذ د مخنیوي لپاره د اسلامي امارت پر خلاف له ایران، روسیې او تاجکستان سره یو ځای لـه شـمالي ټـلوالې څخه ملاتړ پیل کړ او په مرکزي اسیا کې یې د شمالي ټلوالې د روزنې لپاره وسلې، پیسې، مرستې او روغتیایي امکانات چمتو کول ترڅو د اسلامي امارت پر وړاندې وجنګېږي.(۵) د ګاونډیانو په شمول د سیمې هېوادونو عملاً په افغانستان کې د نیابتي پالیسیو تعقیب ته دوام ورکړ چې د اسلامي امارت په لومړني نظام کې افغانستان د سولې او ثبات پر ځای په شخړه کې وساتل شو. د اسلامي امارت په تېره پنځه کلنه دوره کې د هند او اسلامي امارت ترمنځ یوازې یو ځل هغه مهال مذاکرات وشول، چې کله د پاکستان جیش محمد ډلې له خوا د ۱۹۹۹ز کال د ډیسمبر پر ۲۴مه نېټه د هندي شرکت FC 18 Flight (India Airline) الوتکه وتښتول شوه او په کندهار ولایت کې ښکته کړل شوه، نو د الوتکې او مسافرو د خلاصون لپاره له دواړو لورو څخه لنډ تماسونه ونیول شول.(٦) په دې ترتیب د هند او اسلامي امارت اړیکې نږدې دوه لسیزې په ترینګلي حالت کې پاتې شوې. اکثره وخت هند؛ طالبان په سیمه کې د افراطیت په خپرولو کې، د پاکستان تر نفوذ لاندې ډله ګڼې او طالبانو؛ هند د افغانستان په کورنیو چارو کې په لاسوهنې تورناوه. که څه هم د افغان سولې په پروسه کې د پاکستان، روسیې، چین او ایران په پرتله د هند رول کم رنګه او څنډې ته شو، خو له طالبانو سره د افغان حکومت د سولې په اړه د نورو هېوادونو په نسبت د هند موقف ډېر واضح او روښانه و؛ چې په افغانستان کې یې د افغانانو په مشرۍ، د افغانانو خپلمنځي خبرې او د افغانانو تر واک لاندې د سولې له بهیر څخه ملاتړ کاوه.(۷) د اسلامي امارت په بیا ځلي واک ته رسېدو سره هند په یوه نوي رول کې راڅرګند شوی ترڅو د افغانستان په اړه سیمه ییز بلاک تشکیل کړي او له اسلامي امارت سره په محتاطانه ډول د سیاسي اړیکو جوړولو تدریجي څېرکی پرانیزي.

**د څېړنې مبرمیت:** د اسلامي امارت په بیا ځلي واک ته رسېدو سره افغانستان یوې بلې مرحلې ته دننه شوی چې په دې مرحله کې د افغانستان دوه اړخیزې سیاسي اړیکې د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره بیا ځلي کتل او تعریفیږي؛ نو دا چې د هند او اسلامي امارت تعامل څنګه دی او د دوی ترمنځ اړیکې څه ډول دي، اړتیا ده چې وڅېړل شي.

**د څېړنې موخه:** په افغانستان کې اوسنيو شرايطو ته په کتو هند نه شي کولای د افغانستان د حالاتو په اړه غلی پاتې شي او نه هم په افغانستان کې د اسلامي امارت اوسنی نظام کولای شي چې له هند سره د ټيټې کچې اړيکې وپالي يا ترې انکار وکړي. د همدې واقعيت په رڼا کې د اسلامي امارت بيا ځلي واک ته رسېدو سره د افغانستان او اسلامي امارت پر وړاندې د هند ډيپلوماتيک تعامل مشاهده او څېړل د دې څېړنې اصلي موخه ده.

**د څېړنې مېتودولوژي:** د دې مقالې د څېړنې مېتودولوژي په سيستماتيکه توګه تشريحي او تحليلي څېړنه ده چې له دويم لاس سرچينو څخه په کې ګټه اخيستل شوې ده.

**د اسلامي امارت بيا ځلي واک ته رسېدل او د افغانستان په اړه د هند ستراتيژي**

د امريکا متحده ايالاتو، پخواني نظام او اسلامي امارت ترمنځ د سولې خبرې چې د قطر په دوحه کې رواني وې په دوو مهمو تحولاتو سره پای ته ورسېدې؛ لومړی د امريکا متحده ايالاتو او اسلامي امارت ترمنځ د سولې تړون و چې د ۲۰۲۰ ز کال د فبرورۍ پر ۲۹مه نېټه د نړيوالې ټولنې او نورو بېلا بېلو هېوادونو د استازو په موجوديت کې لاسليک شو چې موخه يې افغانستان ته د سولې راوستل نه وو، بلکې له افغانستان څخه د امريکا او ناټو ځواکونو وتل و. دويم د ۲۰۲۱ ز کال د اګست پر ۱۵مه نېټه د نظامي زور له لارې د اسلامي امارت واک ته رسېدل و چې په لسو ورځو کې دننه يې ټول هېواد تر خپل واک لاندې راوست. د امريکا متحده ايالاتو د اګست پر ۳۱مه خپل ټول ځواکونه له افغانستان څخه وويستل او هند په افغانستان کې د دا ډول حالاتو له راتګ سره له پيله مخالف و.[۸] د سپټمبر د يوولسمې نېټې له پېښې وروسته د امريکا متحده ايالاتو له خوا په افغانستان کې د اسلامي امارت د حکومت له ړنګولو وروسته؛ هند له پخواني نظام سره مثبتې اړيکې رامنځته کړې، دا ځکه چې د افغانستان په ديموکراتيکه پروسه کې د امريکا متحده ايالاتو او هند يو ډول پاليسي- درلوده، همدا لامل و چې د هند او افغانستان اړيکې ټينګې او پراخې شوې. له تېر نظام سره د هند د اړيکو د ټينګښت له امله د هند او اسلامي امارت اړيکې لا پسې خرابې شوې، هندي پاليسي- جوړوونکي او د بهرني سياست څېړونکي په دې اند دي چې د اړيکو له دې ترينګلتيا څخه پاکستان ګټه واخيسته او د اسلامي امارت واک ته په راتګ سره هند هم د يو شمېر نورو هېوادونو په څېر خپل ډيپلوماتيک موجوديت پای ته ورسوه او په افغانستان کې يې لاسرسی محدود شو. هند په کابل کې خپل سفارت

او په بلخ، هرات، کندهار او ننگرهار ولايتونو کې کونسلي خدمات او د بيارغونې پروژې ودرولې، چې هندي څېړونکي او کارپوهان يې په بهرني سياست کې د هند پر وړاندې د پاکستان بريا او د هند شا تگ بولي. له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو په وتلو او د اسلامي امارت په بيا ځلي واک ته رسېدو سره؛ هند په افغانستان او سيمه کې د احتمالي امنيتي گواښونو له موجوديت او په سيمه کې د هند د ستراتيژيکو گټو او د هند له خوا په افغانستان کې د تطبيق شويو زېربنايي پروژو د برخليک په تړاو اندېښنې لري چې په دې توگه په افغانستان او سيمه کې د هند تر لاسه شوی نفوذ ټکنی کوي.[9] دې تحولاتو ته په کتو هند د اسلامي امارت په بيا ځلي واک ته راتگ سره د څار او انتظار پاليسي- (Watch and Wait Policy) غوره کړې او د سيمې هېوادونو لکه پاکستان، چين، روسيې، ايران، ازبکستان او ترکمنستان په څېر يې په افغانستان کې له واکمن نظام (اسلامي امارت) سره تعامل ته دوام ورنه کړ. دا پاليسي چې د ستراتيژيک صبر موخه تړې اخيستل کېږي، په اصل کې د هند پر وړاندې د اسلامي امارت د چلند څار او معلومول دي.[10]

**افغانستان ته د هند د بشري مرستو پيل**

د ۲۰۲۱ز کال د اگست پر ۱۵مه د اسلامي امارت له خوا د تېر نظام په سقوط سره افغانستان له ستر اقتصادي بحران سره مخامخ شو. د يادونې وړ ده چې په تېرو دوو لسيزو کې په افغانستان کې د ټولنيز او اقتصادي پرمختگ په برخه کې د اساسي او بنسټيزو کارونو لکه: د زېربنا نه جوړول، د صنعت او توليد د ودې او پراختيا نشتوالی، د دوامداره پراختيايي پروژو نه تطبيق، د کورنۍ او بهرنۍ پانگونې له جذب او ملاتړ سره نه لېوالتيا، د فساد پر وړاندې د جدي مبارزې نشتون، په مساوي ډول د قانون نه تطبيق او د ټولنيز عدالت په نظر کې نه نيول د رامنځته شوي لوی اقتصادي بحران له مهمو دلايلو څخه گڼل کېږي، د دې ستر اقتصادي بحران بل ستر دليل په افغانستان کې د څلورو لسيزو دوامداره شخړه ده چې د هېواد پر ټولنيز او اقتصادي پرمختگ يې مستقيم منفي اغېز کړی. د همدې واقعيت په رڼا کې د اسلامي امارت په بيا ځلي واک ته راتگ سره نړيوالې ټولنې پرېکړه وکړه چې په افغانستان کې خلکو ته د بشري مرستو لړۍ پيل کړي ترڅو په افغانستان کې د پېښېدونکي بشري ناورين مخنيوی وکړي، هماغه و چې د پخواني نظام له سقوط نږدې يوه مياشت وروسته يوناما د ملگرو ملتونو په چوکاټ کې خپل ماموريت بيا پيل کړ.[11] د دې لپاره چې هند په افغانستان کې خپل محبوبيت وساتي او د افغانستان په چارو کې د سيمه ييز قدرت

په توگه داخل شي، نو د افغان ولس لپاره يې پنځوس زره میټريک ټنه غنم د بشري مرستې په توگه اعلان کړل چې د پاکستان له لارې يې افغانستان ته ولېږي او د ملگرو ملتونو د خوړو نړیوال پروگرام په وسيله يې توزيع کړي. دغه راز يې د ۲۰۲۱ز کال د ډيسمبر په مياشت کې په کابل کې د اندراگاندي د ماشومانو روغتون (د ماشومانو لپاره د اندراگاندي روغتون د هند له خوا جوړ شوی) لپاره د ۱،٦ ټنه په اندازه درمل د الوتکې له لارې کابل ته ولېږل او د همدې الوتکې په وسيله يې لس هندي اتباع او ۹۴ تنه افغانان له کابل څخه هند ته انتقال کړل. په دويم ځل هند په افغانستان کې د کرونا د مخنيوي په موخه پنځه سوه زره ډوز (کوواکسين (covaxin)) واکسين کابل ته او يو ميليون ډوز يې په ايران کې د افغان مهاجرينو لپاره ولېږل، په کابل کې اسلامي امارت د هند له دې بشردوستانه مرستو څخه مننه وکړه.[۱۲] په دې ترتيب هند له افغانستان سره د بشردوستانه مرستو په توگه تر اوسه نږدې څلوېښت زره ميټريک ټنه غنم افغانستان ته لېږلي او د روغتيا نړيوال سازمان په مرسته يې په افغانستان کې توزيع کړي دي. هند په ټوله کې ۳۲ ټنه د روغتيايي درملو بېلابېل ډولونه هم افغانستان ته لېږلي دي.[۱۳]

کله چې د ۲۰۲۲ز کال د جون په مياشت کې په پکتيکا ولايت کې د سختې زلزلې له امله نږدې ۱۰۰۰ تنه مړه شول، هند په سيمه کې له لومړنيو هېوادونو څخه و چې په دوو هوايي الوتکو کې يې ۲۷ ټنه بېړنۍ مرسته چې خېمې او کمپلې په کې شاملې وې، د زلزله ځپلو لپاره افغانستان ته ولېږله. هند پر دې پېښه باندې د خواشينۍ تر څنگ له افغانانو سره د هند د دولت او خلکو يووالی وښود. د هند بهرنيو چارو وزارت دا اقدام د سم او لومړني غبرگون (True First Responder) په توگه ياد کړ.[۱۴] په دې معنا چې هند د افغانستان له بل هر گاونډي مخکې بيړنی اقدام وکړ ترڅو په اضطراري حالت کې د افغانانو ترڅنگ ودرېږي. په دې ترتيب ويلای شو چې د اسلامي امارت تر حاکميت لاندې د هند د بشري مرستو ډيپلوماسي اغېزناکه ثابته شوې ده، دې کار د اسلامي امارت تمايل له هند سره د دوه اړخيزو اړيکو په بيا جوړولو کې ډېر کړی دی.

**۱- د هند او اسلامي امارت اړيکې او هيلې**

دپخواني نظام له سقوط وروسته په قطر کې؛ د قطر لپاره د هند سفير ديپاک ميتال او په دوحه کې د اسلامي امارت د سياسي دفتر مرستيال شېر محمد عباس ستانکزي ترمنځ د هند او طالبانو لومړۍ رسمي ناسته وشوه، په دې ناسته کې له کابل څخه د هندي اتباعو په

خوندي وېستلو خبرې وشوې او هندي استازي خپلې اندېښنې لـه مقابـل لـوري سره شريکـې کړې تر څو د افغانستان خاوره د هنـد پـر خـلاف ونـه کـارول شي. د هنـد دغـو اندېښـنو تـه د ستانکزي له خوا مثبت ځواب ورکړل شو چې د افغانسـتان خـاوره بـه د هنـد پـه گـډون د هـېڅ هېواد پر خلاف نه کارول کېږي. سره له دې چې د اسلامي امـارت د غوښـتنې خـلاف هنـد پـه کابـل كـې سـفارت او پـه بلـخ، ننگرهـار، هـرات او كنـدهار ولايتونـو كـې خپلـې كونسـلگرۍ وتړلې.[١٥] خو د دوحې ناسته په اصل کې د دواړو لورو لپـاره د راتلونكـو سـياسي تعـاملاتو، بـاور جوړونې او کابل تـه د نـوي ډيـلي د ماموريـت د بېرتـه راگرځولـو لپـاره يـو مهـم پيـل و، د ځينـو ناتاييد شويو راپورونو له مخې هندي هيئت د ۲۰۲۲ز کال د فبرورۍ په مياشت کـې کابـل تـه په پټ سفر كې د اسلامي امارت له چارواكو سره ليدلي وو ترڅو پـه افغانسـتان كـې حـالات لـه نږدې مشاهده کړي. په همدې اساس د ۲۰۲۲ز کال په نيمايي کـې هنـد د پکتيكـا لـه زلزلـه ځپلو سره د مرستو او په افغانستان كـې د خپلـو نـورو بشري مرسـتو د همغږۍ او توزيـع كولـو لپاره په كابل كې خپل سفارت ته يو تخنيكي پلاوى واستاوه.[١٦] د هند دا اقـدام پـه افغانسـتان كـې لـه اسـلامي امـارت سره پـه سـفارتي كچـه د ابتـدايي اړيكـو د پيـل او پـه احتيـاط سره د وړاندې تگ په معنا دى، دا پرمختگ كابل ته د هند د بهرنيو چارو وزارت د لـوړ رتبـه ډيپلومـاټ جي پي سينگ له سفر څخه په ښه توگه جوتيږي چـې پـه كابـل كـې يـې د بهرنيـو چـارو وزيـر مولوي اميرخان متقي سره د هند او افغانستان د دوه اړخيزو اړيكـو، د افغانسـتان پـر وړانـدې د هند د دريځ او په افغانستان كـې د هنـد د امنيتـي اندېښـنو پـه اړه خـبرې درلـودې، متقـي دا ليدنه د دواړو هېوادونـو لپـاره «ښـه پيـل» وبالـه.[١٧] د يـادونې وړ ده چـې پـه افغانسـتان كـې د اسلامي امارت سرپرست حكومت له هند سره د نږدې ډيپلوماتيكو اړيكو د جوړولـو هيلـه لـري، آن تر دې چې د اسلامي امارت سرپرست حكومت دفاع وزير مولوي محمـد يعقـوب مجاهـد لـه هندي تلويزيوني چينل سره په مركه كې وويل چې هند ته د خپلو نظـامي سرتېـرو د روزنـې پـه موخه كومه ستونزه نه لـري.[١٨] لـه دې ځرگنـدېږي چـې د اسـلامي امـارت تـر مشرۍ لانـدې اوسنى نظـام لـه هنـد سره د ډېـرو نـږدې اړيكـو د جوړولـو پـه لټـه كـې دى چـې پـه دې توگـه اسلامي امارت د هند او پاكستان ترمنځ په سياسي اړيكو كې توازن رامنځته كـړي. بلـه دا چـې د اسلامي امارت سرپرست حكومت تر اوسه د هېڅ هېـواد لـه خـوا پـه رسـميت نـه دى پېژنـدل شوى، چې د سياسي او صـميمانه اړيكـو جوړولـو يـو اړخ د هنـد لـه خـوا د اسـلامي امـارت پـه رسميت پېژندنه هم ده.

## د افغانستان په اړه د هند سیمه‌ییزه تګلاره

د ۲۰۲۱ز کال د اګسټ په میاشت کې د اسلامي امارت بیا ځلي واک ته په رسېدو، هند په افغانستان کې د ډیپلوماټیک ماموریت په تړلو سره په افغانستان کې له سیاسي شا تګ سره مخامخ شو، د څېړونکو په وینا دا د پاکستان لپاره ستره بریا وه چې د هند اړیکې له افغانانو سره محدودې شوې. له هند پرته د سیمې هېوادونو روسیې، چین، ایران، پاکستان، ازبکستان، ترکمنستان او قزاقستان د خپلو سفارتونو په بیا خلاصولو له اسلامي امارت سره د خپلو اندېښنو د شریکولو لپاره مستقیم تعامل ته لومړیتوب ورکړ او هند د «انتظار او څار» پالیسي او افغانستان ته د بشري مرستو د شروع کولو ترڅنګ د افغانستان په اړه سیمه ییزه تګلاره وټاکله ترڅو په افغانستان کې د خراب شوي وضعیت، له افغانستان څخه د احتمالي امنیتي ګواښ د راپورته کېدو او د افغانستان خاوره د نورو پر ضد د نه استعمال په اړه خپلې اندېښنې له خپلو سیمه ییزو او نړیوالو شریکانو سره شریکې او دوامداره کار پرې وکړي. په همدې اړه د پخواني نظام له سقوط وروسته د ۲۰۲۱ز کال د نومبر پر لسمه-یوولسمه هند د لومړي ځل لپاره د درېیم سیمه ییز امنیتي ډیالوګ (د سیمه ییز امنیت دوه غونډې په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو کې د ایران په کوربتوب شوې وې) کوربتوب وکړ. په دې ډیالوګ کې له پاکستان او چین پرته د سیمې او افغانستان د ګاونډیو هېوادونو ، لکه روسیې، قزاقستان، قرغیزستان، ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ایران د ملي امنیت سلاکارانو ګډون وکړ. هند د دې غونډې په مشرۍ سره د افغانستان په اړه خپل دریځ واضح کړ او د سیمې هېوادونو د افغانستان د راتلونکې لپاره ګډه اعلامیه (چې د نوي ډیلي اعلامیې په نوم مشهوره ده) خپره کړه، د سیمې هېوادونو د ملي امنیت استازو په افغانستان کې د داسې ټول شموله نظام چې د افغاني ټولنې د ټولو اړخونو استازیتوب وکړي او همداشان په افغانستان کې د بشر حقونو ته په درناوي، له افغانستان څخه د ترهګرۍ د ګواښ، د افغانستان خاوره د نورو پر خلاف د نه استعمال او په افغانستان او سیمه کې د افراطیت په نه خپراوي ټینګار وکړ.[۱۹] د افغانستان په اړه د سیمه ییز امنیت ډیالوګ څلورمه غونډه د ۲۰۲۲ز په مۍ میاشت کې د تاجکستان په کوربتوب وشوه چې د هند په شمول اړوندو هېوادونو په کې ګډون وکړ، هند په دې ناسته کې د افغانستان پر امنیتي ننګونو او د افغانستان په سوله‌ییز حل او ثبات بیا ټینګار وکړ، چې په سیمه کې د هند له تګلارې سره مرسته کوي.[۲۰]

دغه راز هند د روسيې په کوربتوب د افغانستان په تړاو په پنځمه څو اړخيزه امنيتي غونډه کې چې د ۲۰۲۳ز کال په فبروري مياشت کې په مسکو کې وشوه، د افغانستان په اړه په خپله پاليسي (د ډيلي اعلاميې په اساس) تاکيد وکړ. د هند استازي وويل چې هند؛ د خوندي، باثباته او سوله‌ييز افغانستان غوښتونکی دی او د سيمې هېوادونه بايد له افغانستان او سيمې څخه د داعش په څېر راپورته کېدونکو ترهګرو ډلو پر وړاندې امنيتي او استخباراتي همکاري رامنځته کړي.[۲۱] د هند دې پاليسي ته په کتو؛ هند په دوامداره توګه هڅه کوي چې په مرکزي اسيا کې ستراتيژيک نفوذ زيات کړي او د اتصال، انرژۍ د لېږد، پانګونې او سوداګريزو اړيکو د پياوړتيا لپاره مرکزي اسيا ته د افغانستان له لارې لاسرسی ومومي، د همدې موخې لپاره هند په خپله مشرۍ د هند او مرکزي اسيا د بهرنيو چارو وزيرانو ډيالوګ او د هند او مرکزي اسيا د ملي امنيت د مشاورينو ډيالوګ نوښتونه رامنځته کړي دي چې په کال کې يو ځل دايرېږي. په دې بحث کې د افغانستان ثبات، امنيت او اقتصادي همکارۍ د اجنډا مهم ټکي دي. بيا ځلي واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره هند او د مرکزي اسيا پنځو هېوادونو د همدې ډيالوګونو له لارې د افغانستان په تړاو واحد دريځ روښانه کړی چې په افغانستان کې د ټول شموله نظام جوړښت، د ښځو حقوقو ته درناوی، د افغانستان له خاورې څخه نورو هېوادونو ته د ګواښ نه پيدا کېدل، افغانستان د ترهګرۍ پر پټنځای نه بدلېدل، په افغانستان کې امنيت، ثبات او پرمختګ ته زمينه برابرول او د انرژۍ د لېږد او سوداګرۍ د پراختيا لپاره په سيمه کې د افغانستان له جيوستراژيک او سيمه ييز ظرفيت څخه ګټه اخيستل دي.[۲۲] همدارنګه هند د شانګهای کنفرانس او د ملګرو ملتونو د سازمان په بېلابېلو غونډو کې د افغانستان په تړاو د نورو هېوادونو په کوربتوب ناستو کې د افغانستان د مسالې د سوله‌ييز حل غوښتنه کړې‌ده. له بله اړخه يې په افغانستان کې اسلامي امارت ته څرګنده کړې ده چې هند په هېڅ صورت په افغانستان کې د جنګي، وسله‌وال مقاومت او ډلو ملاتړ نه کوي، بلکې هند په افغانستان کې دايمي سوله، ثبات او د افغانانو اقتصادي پرمختګ غواړي.[۲۳] په دې ترتيب د افغانستان په اړه د هند اوسنۍ ستراتيژي د دې سبب کېدای شي چې هند او اسلامي امارت په راتلونکې کې مثبت او صميمانه سياسي اړيکې ولري.

## پایله

سره له دې چې د اسلامي امارت بیا ځلي واک ته په رسېدو سره په افغانستان کې د هند نفوذ کم شوی، خو د افغانستان په اړه د هند له مرستندویې ډيپلوماسي او سيمه ییزې تګلارې څخه څرګندېږي چې هند غواړي په افغانستان کې نوی رول پیدا کړي، ځکه خو هند په افغانستان کې د امنیت، ثبات او پرمختګ غوښتونکی دی چې دا د اسلامي امارت د اوسني نظام لپاره مثبت پرمختګ دی او پکار ده چې اسلامي امارت له هند سره، د هند او افغانستان دوه اړخیزو اړیکو ته د تاریخي ــ دوستانه اړیکو له زاویې وګوري ترڅو د افغانستان په بیارغونه، بشري روزنه، ټولنیزه او اقتصادي پرمختیا او سیمه ییز اتصال کې د هند له اوسني ظرفیت څخه اغېزمنه ګټه واخلي.

## وړاندیزونه

۱ – د اسلامي امارت حکومت ته پکار ده چې له هند سره دولت په دولت د مثبتو دوه اړخیزه اړیکو رامنځته کولو ته ترجیح ورکړي.

۲ – د اسلامي امارت حکومت باید راتلونکې کې د افغانستان په اقتصادي او بشري پرمختیا کې د هند له اقتصادي ظرفیت څخه ګټه واخلي.

## مأخذونه

1- Krishnamurthy, R. (2019). India's Afghanistan policy and perceptions. In: Ranjan, A. (ed.), *India in South Asia [online]*, (pp. 3-17).

2- Ministry of External Affairs, (2011). *Text of agreement on strategic partnership between the republic of India and islamic republic of Afghanistan*. Available at:
https://mea.gov.in/bilateral-documents.htm?dtl/5383/Text+of+Agreement+on+Strategic+Partnership+between+the+Republic+of+India+and+the+Islamic+Republic+of+Afghanistan (Accessed 10 January 2023).

3- Nye, J. (2017) 'Soft power: the origins and political progress of a concept', *Palgrave Communications, 3 (17008).* doi: 10.1057/palcomms.2017.8.

4- Saxena, C. (2021) *India's developmental partnership in Afghanistan: here to stay or to go?*. Available at: https://www.orfonline.org/expert-speak/indias-developmental-partnership-in-afghanistan-here-to-stay-or-to-go/ (Accessed 11 January 2023).

5- Ashraf, F. (2007) 'INDIA-AFGHANISTAN RELATIONS: POST-9/11'*, Strategic Studies*, *27*(2), pp. 90–102. http://www.jstor.org/stable/45242397

6- Tufail Ahmad, P. (2021) 'A study of India's policy in Afghanistan since 2001', *Kardan Journal of Social Sciences and Humanities,* 4 (1), pp. 34-43.

7- The Hindu. (2021). Enter the peace process: On India's role in Afghanistan. Available from: https://www.thehindu.com/opinion/editorial/enter-the-peace-process-the-hindu-editorial-on-indias-role-in-afghanistan/article34209331.ece [Accessed 12 January 2023].

8- Saxena, C. (2021). 'The American Exit, the Fall of Afghanistan and the Indian Dilemmas. Counter Terrorist Trends and Analyses', 13(4), 8-13. https://www.jstor.org/stable/48618777

9- Ibid.

10- Kuchay, (2021). Taliban takeover a 'body blow' to Indian interests in Afghanistan. *Aljazeera* [online], January 29 2021. Available from: https://www.aljazeera.com/news/2021/8/29/what-

does-the-talibans-takeover-of-afghanistan-mean-for-india [Accessed 20 January 2023].

11- Lynch, C., Gramer, R. Weber, A. (2021). Afghanistan: 'This is completely insane'. *Foreign Folicy* [Online], September 03, 2021. Available From: https://foreignpolicy.com/2021/09/03/afghanistan-taliban-united-nations-ngo-aid-humanitarian-crisis/ [Accessed 24 March 2023].

12- Laskar, R. H. (2022). India sends 500,000 vaccines to Afghanistan. *Hindustan Times* [online], January 01 2022. Available from: https://www.hindustantimes.com/india-news/india-sends-500-000-covid-19-vaccines-to-afghanistan-101641034260142- [Accessed 25 January 2023].

13- Business Standard. (2022). Over 40,000 mt of wheat dispatched to Afghanistan so far: India at UN. Available from: https://www.business-standard.com/article/current-affairs/over-40-000-mt-of-wheat-dispatched-to-afghanistan-so-far-india-at-un-122083000084_1.html [Accessed 07 March 2022].

14- The Indian Express. (2022). Earthquake relief: India stands in solidarity with Afghan people, says MEA. Available from: https://indianexpress.com/article/india/afghan-quake-india-sends-relief-material-7988479/ [Accessed 07 March 2023].

15-Ministry of External Affairs, (2021). *Meeting in Doha*. Available at: https://mea.gov.in/press-releases.htm?dtl/34208/Meeting_in_Doha [Accessed 19 March 2023].

16- Business Standard. (2022). Over 40,000 mt of wheat dispatched to Afghanistan so far: India at UN.

17- Masomy, M, J. (2022). India's diplomatic presence in Kabul to strengthen relation between two countries. *Financial Express*. [online], September 03 2022. Available from: https://www.financialexpress.com/defence/indias-diplomatic-presence-in-kabul-to-strengthen-relation-between-two-countries/2654274/ [Accessed 27 March 23 2023].

18- Gupta, M. (2022). Great expectations of India, Gave crucial help in past: Afghan defence minister to News18. *Nwes18* [Online], June 02 2022. Available from: https://www.news18.com/amp/news/world/great-expectations-of-india-gave-crucial-help-in-past-afghan-defence-minister-to-news18-global-exclusive-5292811.html [Accessed 27 March 2023].

19- Kaura, V. (2021). *Indai's search for a new role in Afghanistan*. Available at: https://www.mei.edu/publications/indias-search-new-role-afghanistan [Accessed 29 March 2023].

20- The Hindu. (2022). Regional security dialogue NSA Ajit Doval calls for enhancing Afghanistan capability to counter terrorism. Available from: https://www.thehindu.com/news/national/at-regional-security-dialogue-nsa-ajit-doval-calls-for-enhancing-afghanistan-capability-to-counter-terrorism/article65466232.ece/amp/ [Accessed 30 March 2023].

21- Wani, A. (2023). *Regional multilateral consultations on Afghanistan.* Available at: https://www.orfonline.org/expert-

speak/regional-multilateral-consultations-on-afghanistan/
[Accessed 30 March 2023].

22- Wani, A. (2023). *India and Central Asia need more coherence on Afghanistan*. Available at: https://www.orfonline.org/expert-speak/india-and-central-asia-need-more-coherence-on-afghanistan/?amp [Accessed 01 April 2023].

23- Masomy, M, J. (2022). India's diplomatic presence in Kabul to strengthen relation between two countries.

څېړندوی محمد طاهر شرر

# له اسلامي امارت سره د خليجي هېوادونو(قطر، سعودي عربستان او متحده عربي امارات) اړيکې

**لنډيز**

په دې مقاله کې بيا ځلي واک ته له رسېدو وررسته له اسلامي امارت سره د (قطر، سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو) اړيکې څېړل شوي دي، د خليجي هېوادونو له ډلې پورتني درې دولتونه له اسلامي امارت سره په عملي توګه تعامل کوي، سعودي عربستان يو له هغو دريو هېوادونو څخه و چې د طالبانو پخوانی نظام يې په رسميت پېژندلی و او د سپټمبر د يولسمې له پېښې وروسته د طالبانو پر ضد له امريکا سره ودرېد. بيا ځلي واک ته له رسېدو سره سم سعودي عربستان له اسلامي امارت سره ځينې چينلونه خلاص پرېښودل او د ځار او انتظار تګلاره يې غوره کړه، په اسلامي نړۍ کې د سعودي عربستان مقام ته په کتو دغه هېواد اړ دی چې له اسلامي امارت سره خپلې اړيکې بېرته ورغوي، خو دا اړيکې به د تېر په څېر پراخې نه وي، ځکه سعودي له سيمه ييزو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی او په کور دننه هم له ځينو ننګونو سره مخامخ دی، خو هېڅکله به ونه غواړي چې د خبرو دا کړکۍ دې وتړل شي.

قطر يو له هغو مهمو سيمه ييزو لوبغاړو څخه دی چې طالبانو ته يې په سختو شرايطو کې په دوحه کې سياسي دفتر ورکړ چې په نتيجه کې يې د دوحې مهم تړون رامنځ ته شو چې پر بنسټ يې امريکايي ځواکونه په ۱۴ مياشتو کې له افغانستان څخه ووتل، په خليجي هېوادونو کې قطر له اسلامي امارت سره ښې او ژورې اړيکې لري او ښايي په راتلونکي کې به دا اړيکې نورې هم پراخې شي.

متحده عربي امارات هم يو له هغو هېوادونو څخه و چې د طالبانو تېر نظام يې په رسميت پېژندلی و، امارتو هم د سعودي عربستان په څېر د سپتمبر د يولسمې له پېښې وروسته د طالبانو پر ضد د امريکا متحده ايالتونو سره ژغ يوړه او خپله يوه عسکري

فرقه يې د ناټو تر پاملرنې لاندې افغانستان ته راولېږله. بيا ځلي واک ته له رسېدو وروسته متحده عربي اماراتو له اسلامي امارت سره د بيا ځلي اړيکو د احيا لپاره هڅې وکړې او د افغانستان د هوايي ډګرونو د فعالولو دنده يې پر غاړه واخيسته، نو متحده عربي امارات هم غواړي چې له اسلامي امارت سره ښې اړيکې ولري.

**سريزه**

که څه هم افغانستان له جغرافيايي پلوه له عربي ټاپووزمې جلا دی، خو په دغه هېواد کې سياسي کړکېچ او بې ثباتي د عربي خليج پر ګاونډيو هېوادونو ايران او پاکستان مستقيم اغېز کوي.

د امريکا په ملاتړ رامنځ ته شوي جمهوري نظام د طالبانو په لاس نسکور شو او په رسمي توګه اشغال پای ته ورسېده، د دوو کلونو په تېرېدو سره هېڅ خليجي هېواد اسلامي امارت په رسميت نه دی پېژندلی، خو د خليج د همکارۍ په شورا کې درې هېوادونو له اسلامي امارت سره د تعامل عملي تګلاره غوره کړه، دا درې هېوادونه قطر، متحده عربي امارات او سعودي عربستان دي. له ۱۹۹۶م څخه تر ۲۰۰۱ م پورې يوازې سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او پاکستان د طالبانو حکومت په رسميت پېژندلی و، په داسې حال کې چې قطر هغه مهال له افغانستان سره يوازې "دوستانه" اړيکې ټينګې کړې[۱].

د ۲۰۱۰م کال په پيل کې د طالبانو ځينې لوړپوړي مشران په دوحه کې اوسېدل. په قطر کې د دوی د اوسېدو اصلي موخه د سياسي دفتر پرانيستل و چې د افغانستان له حکومت او امريکا سره سياسي روغې جوړې ته لار هواره کړي. په ۲۰۱۳م کال کې په دوحه کې د طالبانو د دفتر له پرانيستلو وروسته د سولې خبرې اترې د پخواني افغان حکومت د نيوکو له امله وځنډېدې، خو د قطر حکومت طالبانو ته په قطر کې په مشروط ډول د پاتې کېدو اجازه ورکړه چې طالبان به دغه دفتر د عامه کارونو لپاره نه کاروي[۲].

په ۲۰۱۷ م کې متحده ایالاتو استدلال وکړ چې په قطر کې د طالبانو دفتر په افغانستان کې د سولې د ودې لپاره هېڅ نه دي کړي او له قطر څخه يې وغوښتل چې هغه وتړي. په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر د تړلو له ګواښ څخه د امريکا يوازينی هدف دا و  چې طالبان له خپل موقف څخه تنازل وکړي، خو د ۲۰۲۰ م کال په فبروري مياشت کې قطر د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې ته د رسېدو زمينه برابره کړه[۳].

دا چې قطر د طالبانو د سياسي دفتر کوربه و، نو له افغانستان څخه يې د امريکايي ديپلوماتانو په خوندي ويستلو کې مهم رول ولوباوه، له همدغه امله امريکا د خپل متحد په توګه اعلان کړ[۴].

سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو، قطر  له خپلو مهمو مستقيمو سيالانو څخه ګڼه چې د طالبانو منځګړيتوب يې کاوه.  سعودي عربستان په وار وار هڅه وکړه چې طالبان په خپله خاوره کې خبرو اترو ته وهڅوي، همدارنګه متحده عربي اماراتو هم د طالبانو د سياسي دفتر  چوکۍ لپاره له قطر سره سيالي وکړه، خو بخت ورسره ياري نه کوله، که څه هم په ۲۰۱۸م کال کې ابوظبي د طالبانو او امريکايي چارواکو ترمنځ د خبرو اترو کوربه و.  کله چې اسلامي امارت پر کابل بيا ځلي واکمن شو، نو متحده عربي اماراتو د سلګونو افغان کډوالو کوربتوب وکړ او له ۱۰۰ ټنه څخه زياتې بشري مرستې يې افغانستان ته ولېږلې. له يوه پلوه متحده عربي امارات په فارس خليج کې له قطر سره سيالي کوي، او له بل پلوه  متحده عربي امارات له روسيې او چين سره نسبتا نږدې اړيکې لري، ممکن په افغانستان کې د پاکستان د نفوذ ملاتړ وکړي[۵] په دې کې شک نشته چې متحده عربي امارات له پاکستان سره غښتلې اړيکې لري، شاوخوا يو نيم مليون پاکستاني وګړي په متحده عربي اماراتو کې مېشت دي، متحده عربي اماراتو هميشه له پاکستان سره د اقتصادي او طبيعي پېښو په وړاندې مرسته کړې او دا لړۍ لا روانه ده، پر دې سربېره پاکستان او عربي متحده امارات نږدې

سوداګریز شریکان دي، همدارنګه چین له پاکستان سره غښتلې اړیکې لري، نو دا امکان شته چې په افغانستان کې د پاکستان د نفوذ ملاتړ وکړي.

د افغانستان اسلامي امارت له دیني پلوه له خلیجي هېوادونو سره ګڼ مشترکات لري او له همدې پلوه اړینه ده چې له خلیجي هېوادونو سره د اسلامي امارت اړیکې روښانه او په پرتو ننګونو او فرصتونو یې رڼا واچول شي.

د دې څېړنې بسنټیزه موخه د خلیجي هېوادونو او د اسلامي امارت د اړیکو څېړل دي

د څېړنې اساسي پوښتنې دا دی:

۱. بیا ځلي واک ته له رسېدو وروسته د اسلامي امارت او خلیجي هېوادونو اړیکې څه ډول دي؟

په دې څېړنه کې له تشریحي – تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

**د افغانستان اسلامي امارت او د قطر اړیکې**

کله چې دوه کاله وړاندې امریکایي او ناټو ځواکونه له افغانستانه ووتل او د افغانستان اشغال په رسمي توګه پای ته ورسېد، قطر او متحده عربي اماراتو د غربي ډیپلوماټانو او ژورنالستانو په خوندي ویستلو کې بې سارې مرسته وکړه، نو همدا لامل شو چې د امریکا اوسني ولسمشر جوبایډن قطر د ۲۰۲۲ م په پیل کې د ناټو له چوکاټ څخه د باندې د خپل اساسي متحد په توګه معرفي کړ. دا پرېکړه وروسته له هغه وشوه چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن په افغانستان کې د خپلو ګټو لپاره د خپل ماموریت مشري قطر ته وسپارله[٦].

د خلیج د همکارۍ شورا له ټولو هېوادونو څخه قطر له اسلامي امارت سره ډېرې نږدې اړیکې لري، ځکه چې د طالبانو ځیني شخصیتونه په دوحه کې دي او د قطر له مشرتابه سره ښې شخصي اړیکې لري،که څه هم د طالبانو استازي په قطر کې میشت

دي خو  په کابل واک نه لري،  دا هغه عامل دی چې په افغانستان کې د قطر نفوذ محدودوي[۷].

د ۲۰۲۳م کال  د مې میاشتې پر ۱۲مه نېټه د قطر لومړی وزیر او د بهرنیو چارو وزیر شیخ محمد بن عبدالرحمن آل ثاني لومړنی بهرنی چارواکی و چې د اسلامي امارت له امیر هبت الله اخندزاده سره یې په ښکاره وکتل او په کندهار کې د دوی ملاقات په ډاګه کړه چې څنګه د افغانستان اسلامي امارت له دوحې سره خپلې اړیکې د امارت د نړیوالې انزوا د کمولو په هڅو کې مهمې ګڼي[۸].

په متحده عربي اماراتو کې د افغانستان پخوانی سفیر جاوېد احمد وایي: ((په داسې حال کې چې دا ستونزمنه ده معلومه شي چې قطر خپله اوسنۍ ښکېلتیا په بشپړه توګه له خطر څخه پاکه ګڼي، خو  د خلیجي عربي هېوادونو په منځ کې داسې ښکاري چې قطر د افغانستان اسلامي امارت ته د ډیپلوماټیک رسمیت ورکولو لپاره "ډېر لیواله" دی، سره له دې چې دا ډول اقدام ممکن له ننګونو سره مخامخ شي)). په دې برخه کې چې څوک لومړی اقدام کوي، نو د تېروتنې پرمهال به لومړي عواقب هم د هغه پر غاړه وي[۹].

د قطر دولت څو ځلې د خپل د بهرنیو چارو وزارت له لارې ویلي چې د طالبانو د حکومت په رسمیت پېژندلو کې بېړه نه کوي او دا به په مناسب وخت کې ترسره شي، په ټولیزه توګه د طالبانو د حکومت په رسمیت پېژندل د څو دلایلو له امله ځنډول شوي دي، اوسمهال زیات هېوادونه په نړۍ کې د امریکا دریځ او نفوذ ته ګوري او ځینې خو نېغ په نېغه د امریکا په اخور څرېږي، نو همدا لامل دی چې ډېر هېوادونه امریکا له طالبانو سره په تعامل کې د خپلو ځانونو لپاره  یوه بېلګه ګڼي[۱۰].

### د اسلامي امارت او متحده عربي اماراتو اړیکې

د متحده عربي اماراتو په اووه ولایتونو کې شاوخوا  ۳۰۰ زره افغانان اوسېږي چې دې شمېرې د دواړو هېوادونو ترمنځ ولسي او مالي اړیکې رامنځ ته کړي دي.  متحده عربي امارات یو له هغو دریو هېوادونو څخه و چې د طالبانو تېر نظام یې په رسمیت

پېژندلی و، د سپتمبر د یوولسمې له پېښې سره سم متحده عربي امارات له طالبانو خپل رسمیت بېرته واخیست او امریکا پر افغانستان برید وکړ، نو متحده عربي اماراتو هم د سعودي عربستان په څېر د امریکا پله ونیوله، تر دې چې په ۲۰۰۳ م کال کې یې خپله یوه عسکري فرقه د ناټو تر پاملرنې لاندې افغانستان ته راولېږله(۱۱).

له افغانستان څخه د امریکا له وتلو وروسته ابوظبي په کابل کې له نوي حکومت سره محتاطانه دریځ ونیو، له هغه وروسته چې طالبانو د ۲۰۲۱م د اگست پر ۱۵مه پخوانی جمهور رئیس د قدرت له واکه وشاړه، نو متحده عربي اماراتو اشرف غني او د هغه ملگرو ته په خپله خاوره کې ځای ورکړ او له افغانستان سره یې تر سل ټنه زیاته بشري مرسته اعلان کړه.

که څه هم محمد اشرف غني او ملگرو ته یې متحده عربي اماراتو په خپله خاوره کې پناه ورکړه، خو د پخوانیو چارواکو پر سیاسي فعالیتونو یې بندیز ولگاوه. دې اقدام طالبانو ته ډاډ ورکړ چې متحده عربي امارات به اجازه ورنکړي د دوی ځمکه د افغانستان پر ضد د فعالیت لپاره وکاروي. له بلې خوا متحده عربي امارات د افغانستان د اسلامي امارت پر هغو فرمانونو نیوکه کړې چې د ښځو اساسي حقوق محدودوي(۱۲).

د ۲۰۲۲م کال د ډسمبر په میاشت کې د افغانستان اسلامي امارت د دفاع سرپرست وزیر ملا محمد یعقوب مجاهد متحده عربي اماراتو ته سفر وکړ او محمد بن زاید آل نهیان یې گرم استقبال وکړ، دې سفر ثابته کړه چې متحده عربي امارات له اسلامي امارت سره د عملي چلند په اړه د خپل هېواد پر هوډ ټینگار لري. که څه هم د امریکایي اشغال پر مهال متحده عربي اماراتو د طالبانو ضد دریځ نیولی و(۱۳).

اسلامي امارت هڅه وکړه چې د سیمه ییزو اړخونو تر منځ انډول وساتي، د دې ترڅنگ یې د هېواد سیاسي حاکمیت او خپلواکي له پامه ونه غورځوله، همدا دوه لامله وو چې د کابل هوایي ډگر د فعالولو دنده یې د ترکیې پر ځای متحده عربي اماراتو ته وسپارله.

د امریکا له وتلو سره سم نړیوالو کوښښ وکړ چې افغانستان ته بشري مرستې ولیږي، خو دا کار له هوایي لارې پرته نه ترسره کېده، نو اسلامي امارت په لومړي سر کې له ترکیې سره د کابل د هوایي ډګر د فعالیت په اړه خبرې اترې وکړې، قطر هم په دې خبرو کې ورګډ شو، د اسلامي امارت او ترکیې ترمنځ پرې ناندرۍ راپورته شوې چې اصلي لامل یې د ترکیې لخوا پر دې ټینګار و چې د دوی امنیتي زونونو ته یوازې د ترکیې له قراردادیانو پرته څوک نه شي ورننوتلی، نو اسلامي امارت باور درلود چې دا کار به د افغانستان سیاسي حاکمیت ته زیان ورسوي. د هوایي ډګرونو د فعالولو لپاره یوه بله داوطلبي هم پر میز پرته وه، دا داو طلبي په ابو ظبي کې د میشت Solutions GAAC شرکت وه، دغه شرکت په ۲۰۲۰م کال کې له پخواني حکومت سره د ۴۷ ملیونو ډالرو په ارزښت د هوایي ډګرونو قرارداد تر لاسه کړی و، نو اسلامي امارت دا ښه وګڼله چې دا قرارد د ابوظبۍ له شرکت سره امضاء کړي[۱۴]. اسلامي امارت په دې کار له یوې خوا د سیمه ییزو لوبغاړو اندېول او له بل لورې د افغانستان سیاسي حاکمیت وساته.

متحده عربي امارات په منځنۍ اسیا کې په سلګونو بېلا بېلې اقتصادي پروژې لري، نو په سیمه کې د ابوظبي تلپاتې ښکېلتیا له افغانستان سره په همکارۍ پورې تړلې ده[۱۵]. او دا هغه څه دي چې متحده عربي امارات اړ باسي چې له اسلامي امارت سره ښې او دوستانه اړیکې ولري.

متحده عربي امارات غواړي له طالبانو سره د اړیکو چینلونه پرانېستي وساتي او خپل نفوذ ته وده ورکړي، په ځانګړې توګه د اسلامي امارت له ځوانو غړو سره. څرنګه چې ملا محمد یعقوب مجاهد او په طالبانو کې د سراج الدین حقاني ډله تر ډېره بریده په جګړه ځپلي هېواد کې د امنیت مسئولیت لري، له دوی سره بهرنۍ ښکېلتیا د اماراتي ګټو پر بنسټ محاسبه کېږي. د طالبانو له نظره، له اماراتي چارواکو سره د باور رامنځته کول به له طالبانو سره نه یوازې د یوه حقیقت په توګه، بلکې د هېواد د مشروع واکمنانو په توګه د معاملې لپاره نوره هم لار هواره کړي، ځکه چې د اسلامي امارت

اساسي موخه د واقعیت په توګه د دوی منل دي  او همدارنګه حاکم نظام کولای شي په متحده عربي اماراتو کې مېشت افغان کډوال او سوداګر قانع کړي چې بېرته په افغانستان کې پانګونه وکړي. په متحده عربي اماراتو کې شاوخوا ۳۰۰ زره افغانان ژوند کوي او تر ۵۰۰ ډېرو افغان سوداګرو په متحده عربي اماراتو کې ۴ میلیارده ډالره پانګونه کړې ده. داسې ښکاري چې په افغانستان کې پانګونې ته د دغو شتمنو افغانانو جذبول له افغان مهاجرینو سره د ملامحمد یعقوب مجاهد او انس حقاني د ناستې اصلي موخه وه[۱۵].

متحده عربي امارات  او اسلامي امارت دواړه هغه هېوادونه دي چې له پېښو سره په عملي توګه تعامل کوي، پرته له دې چې کومه بهرنۍ پالیسي ورته ولري او دا هغه څه دي چې د دواړه هېوادونو ترمنځ د ملګرتیا لامل ګرځي، متحده عربي امارات دا وړتیا لري چې د اسلامي امارت د بېلا بېلو مسئولینو نبض ونیسي، له هغې سره سم عملي ګام پورته کړي او همدارنګه په متحده اماراتو کې د مېشتو سوداګرو له شتمنیو څخه د ځان په ګټه کار واخلي، متحده عربي امارات باور لري چې دا یوازینی او ځانګړی نفوذ دی چې دوی یې لري او قطریان ورسره په کې  شریک نه دي[۱۶].

**د سعودي عربستان او اسلامي امارت اړیکي**

د دواړو هېوادونو ترمنځ سیاسي او فرهنګي اړیکي لرغونې دي، دا اړیکي هله پراخې شوې کله چې سردارد محمد داود خان خپله روسي پلوه پالیسي بدله کړه او د اسلامي هېوادونو او لوېدیځ لوري ته یې مخه کړه؛ خو دا اړیکي هغه مهال لا پسې غښتلې شوې کله چې شوروي ځواکونو پر افغانستان یرغل وکړ او خلیجي هېوادونه په مستقیمه توګه د شوروي تر ګواښ لاندې شول. هماغه وو چې سعودي عربستان  د مجاهدینو ملاتړ ته متې راونغښتې،  خو له افغان جهاد وروسته سعودي عربستان ټوله ستراتیژي د ایران د نفوذ په مخنیوي متمرکزه کړه[۱۷].

په تېرو دوو لسيزو کې، په ځانګړې توګه د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په مياشت کې د طالبانو د نظام له ړنګېدو او د ۲۰۲۱م کال په دوبي کې د نړيوالو ايتلافي ځواکونو له وتلو وروسته د طالبانو د چټکې واکمنۍ تر منځ په افغانستان کې سعودي او ايران نامنظمه لار تعقيب کړه. دواړو هېوادونو د افغانستان په اړه خپلو تګلارو ته دوام ورکړ او هڅه يې کوله چې د ډېرو پيسو له لارې د سيمه ييزو لوبغاړو وفاداري واخلي، خو د لسيزو پرلپسې سياليو په هېواد کې د دې ستراتيژۍ ناکامي روښانه کړه. سعودي عربستان او ايران اکثره د ژبنيو، کلتوري او مذهبي اړيکو پر بنسټ خپل ملګري ټاکي، خو سيمه ييز لوبغاړي تل په سياسي اتحاد کې د ګډون لپاره د دوی دا انتخاب تر ټولو مهم عامل نه ګڼي.دې ته په پام سره، رياض او تهران د خپلو افغان پراکسيانو د څارنې په وړتيا کې تېروتل (۱۸) .

په دې موده کې د افغانستان په کورنيو چارو کې د رياض مداخله يوازې د يوې محدودې او ګرانې بريا لامل شوه، ځکه يې په افغانستان کې د ايران د نفوذ مخه ونيوله، خو ونه توانېده چې د خپل سياسي نفوذ ساحه پراخه کړي. د وخت په تېرېدو سره، په افغانستان کې د سعودي د عمل تمرکز په تدريجي ډول د شوروي له ګواښ او د ايران له نفوذ څخه د سخت دريځو پر ضد مبارزې ته واوښت، په ځانګړې توګه وروسته له هغه چې القاعدې د ۱۹۹۰م او ۲۰۰۰م کلونو په منځ کې د سعودي پر خاوره بې ساري بريدونه وکړل(۱۹).

کله چې القاعدې په ۱۹۹۸م کې په تانزانيا او کينيا کې د امريکا پر سفارتونو بريد وکړ، امريکا د سعودي او طالبانو اړيکې تر پوښتنې لاندې راوستلې چې د دغو بريدونو په مخنيوي کې پاتې راغلې. د سعودي عربستان او طالبانو ترمنځ اړيکې د سپټمبر د يوولسمې له بريدونو وروسته ترينګلې شوې، رياض له کابل سره ډيپلوماټيکې اړيکې پرې کړې او د ولسمشر جورج ډبليو بوش په مشرۍ د القاعدې او د هغې د ملاتړو او په ځانګړې توګه د دې غورځنګ پر ضد د ترهګرۍ ضد جګړه کې يې ګډون وکړ(۲۰).

سعودي عربستان هڅه وکړه د ملیاردونو ډالرو په ارزښت د بېلا بېلو زیربنایي، ښوونې او روزنې او بشري پروژو له لارې په افغانستان کې ښکاره حضور او له افغانانو سره مستقیمې اړیکې وساتي، خو دا څرګنده وه چې د افغانستان د سیاسي قشر لویه برخه پر سعودي باندې بې باوره شوې وه. هغه مهال د افغانستان ولسمشر حامد کرزي په وار وار له ریاض څخه وغوښتل چې د دوی او طالبانو ترمنځ منځګړیتوب وکړي، خو خبرو کومه نتیجه ورنکړه، ځکه چې سعودي خپل نفوذ له لاسه ورکړی و[۲۱].

**د ابن سلمان دوره**

په ۲۰۱۷ م کې محمد بن سلمان د سعودي عربستان د ولیعهد په توګه وټاکل شو، د سعودي په اداري چوکاټ کې یې پر مهمو پوستونو ځوانان وګومارل او هڅه یې وکړه چې سعودي ټولنه نړۍ ته یوه معتدله ټولنه معرفي کړي، په دې شرایطو کې سعودي عربستان د طالبانو ضد پالیسي تعقیب کړه او خپل" معتدل اسلام" یې د دوی له اسلام سره پرتله کړ[۲۲]. د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۷م کال په جولای کې سعودي په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه د اسلامي همکاریو د سازمان د یوه نړیوال کنفرانس کوربه و، چې د څه باندې ۴۰ هېوادونو له ۱۰۰ څخه زیاتو دیني عالمانو په کې برخه اخیستې وه او د یوې اعلامیې په پای کې یې د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي مذهبي مشروعیت وغانده[۲۴]. د سعودي ولیعهد له دا ډول پلاټفورمونو څخه په استفادې هڅه کوي د سعودي په اړه د نړیوالو هغه تصور بدل کړي چې سعودي عربستان ته د محافظه کارې ټولنې په سترګه ګوري او هڅه کوي د اسلام سوله ییز او زغم لرونکی تعبیر وړاندې کړي.

د افغانستان په اړه د سعودي عربستان وروستۍ پالیسي او په ځانګړې توګه د طالبانو په اړه په وروستیو کلونو کې د سعودي د مشرتابه له خوا د بهرنۍ پانګونې د راجلبولو لپاره په نړیواله کچه د دغه هېواد د دریځ د بیا رغولو د پراخو هڅو یوه برخه ګڼل کېږي. د ۲۰۲۱م کال د اګست په نیمایي کې د طالبانو د واک په ترلاسه کولو سره، د افغانستان د مرکزي بانک

د شتمنيو کنګل او دغه هېواد ته د بهرنيو مرستو په جريان کې د پام وړ کموالی سره بشري وضعيت په چټکۍ مخ په خرابېدو شو، نو سعودي عربستان له خپل رهبري وړتيا څخه په استفادې د اسلامي همکاريو د سازمان د غړو په جلبولو کې مهم رول ولوباوه، ترڅو افغانانو ته د بشردوستانه مرستو د رسولو هڅې ګړندۍ کړي[٢٥].

د ٢٠٢٢م کال په مارچ مياشت کې په کابل کې د OIC دفتر نوی عمومي رئيس وټاکل شو او د ٢٠٢٢م کال په نومبر کې د OIC ماموريت په رسمي ډول پرانستل شو[٢٤] .همدارنګه سعودي عربستان په پلازمېنه کابل کې د سفارت په چوکاټ کې کونسلګري بيا پرانسته. د (واس) رسمي خبري سرچيني ليکلي چې سعودي عربستان د خپلې ليوالتيا پر بنسټ په پلازمېنه کابل کې د سفارت په چوکاټ کې کونسلګري پرانسته[٢٥].

سعودي عربستان په دې برخه کې له اسلامي امارت سره د اړيکو د بنه کولو په اړه کوم جزئيات نه دي خپاره کړي، خو ځينې سعودي سياسي شنونکي په دې باور دي چې په افغانستان کې د حاکم نظام په رسميت پېژندل امکان لري، خو که اسلامي امارت خپلې پخوانۍ تګلارې ته بدلون ورکړي. په کابل کې اسلامي امارت د سعودي عربستان د کونسلګرۍ د پرانستو استقبال کړی او دا يې د نويو اړيکو پيل بللی دی. د بهرنيو چارو وزارت وياند عبدالقهار بلخي وايي: ((موږ ورته ښه راغلاست وايو، د دې نيک اقدام درناوی کوو او د نويو اړيکو پيل يې ګڼو)).د نړيوالو اړيکو مشاور او څېړونکی سالم اليامي په دې باور دی چې له طالبانو سره د اړيکو عادي کول يوه طبيعي خبره ده چې د هغه په وينا د دې غورځنګ په اړه د نړيوالې ټولنې نظر د ١٩٩٠م کلونو په پرتله توپير لري[٢٦]

خو له بل پلوه سياسي شنونکی مبارك آل عاتي جلا نظر لري، هغه وايي((سعودي عربستان لا هم په کابل کې د واکمن نظام چلند ځاري او د سعودي عربستان او افغان طالبانو ترمنځ اړيکې د نوي اداري له چلند سره تړلې دي)). خو د اګست په نيمايي کې واک ته له رسېدو وروسته اسلامي امارت هڅه کړې چې د دوحې تړون ته ژمن پاتې شي او د اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد وار، وار ياده کړې چې دوی د دوحې تړون ته ژمن دي، خو مقابل لوری د دوحې له تړون څخه سرغړونه کوي. آل عاتي له "الحرة" چينل سره

په خبرو کې وویل، له کابل څخه د سعودي عربستان د ډیپلوماټیک ماموریت د ویستلو لامل سیاسي نه، بلکې امنیتي و او دا له افغانانو سره د اړیکو د پرېکون په معنی نه و. الیامي وايي زما په اند سعودي عربستان باور لري چې له طالبانو سره د اړیکو ټینګول یو مهم کار دی[۲۷]. خو د خلیج د شننو اجراییوي رییس جیورجیو کیفیرو د سعودي عربستان او د اسلامي امارات اړیکو ته په خپله یوه لیکنه کې په ریاض کې د پاچا فیصل د څیړنو او اسلامي مطالعاتو مرکز د غړي عمر کریم په حواله لیکلي چې سعودي عربستان تر ډېره د طالبانو په وړاندې د "انتظار او څار" تګلاره غوره کړې او یادونه یې کړې چې له اسلامي امارت سره د ریاض لومړنی تعامل د پاکستان له لارې شوی دی. د طالبانو او اسلام آباد ترمنځ زیاتیدونکی تاوتریخوالی د پاکستان-سعودي چینل د ګډوډۍ لامل شوی، کفیرو د نړیوال کړکېچ ګروپ د شنونکي ابراهیم بحیص په حواله لیکلي:(( د پاکستان له خوا له طالبانو سره د اړیکو له خرابېدو سره سم سعودي عربستان هم د [طالبانو سره] په تعامل کې دوه زړی شوی دی))."[۲۸]

که د شنونکي ابراهیم بحیص خبره سمه وي، نو سعودي عربستان باید پر خپلې پالیسۍ له سره غور وکړي، ځکه چې په تېرو څلوېښتو کلونو کې د سعودي عربستان د ناسمو پالیسیو او تګلارو په پایله کې د افغانستان زیات وګړي پر سعودي عربستان بې باوره شول او که اوس هم د اسلامي امارت پر وړاندې خپل موقف د پاکستان په موقف پورې منحصر وګڼي، نو پر ځان به د افغان ولس د باور ګراف صفر ته راټیټ کړي.

په افغانستان کې د سعودي تاریخي رول ته په کتو د افغان مسئلې په اړه د سعودي خواخوږي شته ، سعودي نه غواړي چې خپلې اړیکې له اسلامي امارت سره پراخې کړي او دا دوه لاملونه لري، لومړی دا چې سعودي عربستان له سیمه ییزو ستونزو او په کور دننه له ننګونو سره لاس او ګرېوان دی او د تېلو د بیو د راټیټیدو له امله له خراب مالي وضعیت سره مخامخ دی، له همدې امله په افغانستان کې هر ډول بنکېلتیا د سعودي د بهرنۍ پالیسۍ پر اوږو یو نوی بار دی، دویم دا چې سعودي پوهیږي پر قطریانو د افغانانو باور زیات دی،

قطر په افغانستان کې دوه لسيزې د منځګړي رول لوبولی او تل يې هڅه کړې چې کوم لوری زيانمن نه شي، خو سعودي عربستان د افغانستان په قضيه کې د ناپيلتوب مخينه نه لري او دا تمه نشته چې د افغانستان په قضيه کې دې د قطر په څېر ناپېيلی پاتې شي.

**پايله**

د خليجي هېوادونو له ډلې درې هېوادونه( قطر، سعودي عربستان او متحده عربي امارات) له اسلامي امارت سره په عملي توګه تعامل کوي او په افغانستان کې خپلې ګټې او غوښتنې لري، سعودي عربستان غواړي په افغانستان کې د ايران د نفوذ مخه ونيسي، همداراز په سيمه کې د داعش او القاعدې تحرکات وڅاري، د دې ترڅنګ سعودي عربستان د خپل اسلامي مقام او ارزښت له مخې اړ دی چې له اسلامي امارت سره اړيکې ونيسي، خو د دغه اړيکو د پراخېدو تمه نه کيږي، ځکه سعودي په خپلو خولو کې ډوب دی، خو ترڅنګ يې مجبور دی چې له اسلامي امارت سره ځينې چينلونه پرانيستي وساتي.

په ۲۰۱۰م کې په قطر کې د طالبانو ځينو لوړپوړو چارواکو ته د اوسېدو زمينه برابره شوه او له همدې ورځې راهيسې د قطر او طالبانو اړيکې غښتلې شوې، متحده عربي اماراتو هڅه وکړه چې د طالبانو سياسي دفتر له قطر نه وباسي، خو په دې ځکه ونه توانېدل چې طالبانو پر قطر باور لاره، د همدغه باور پايله وه چې د دوحې په مهم ترون پای ته ورسېده، اوس هم د قطر او اسلامي امارت اړيکې د نورو هېوادونو په پرتله غښتلې دي او تمه شته چې په راتلونکي کې به نورې هم غښتلې شي.

متحده عربي امارات هم هڅه کوي چې د اسلامي امارت له ځوان کهول سره ښې اړيکې ولري، په سيمه کې د متحده عربي اماراتو د اقتصادي ګټو د خونديتوب لپاره اړ دی چې له اسلامي امارت سره خپل چينلونه پرانيستي وساتي، همدارنګه اسلامي امارت اړ دی چې له عربي متحده اماراتو سره خپلې اړيکې غښتلې کړي، ځو هغه افغاني سوداګر په

افغانستان کې پانګونې ته وهڅوي چې په متحده عربي اماراتو کې یې په  ملیاردونو ډالرو پانګونه کړې ده.

**وړاندیزونه**

۱- د افغانستان اسلامي امارت دې سعودي عربستان سره خپلې اړیکې لا پسې غښتلي کړي او سعودي عربستان ته دې دا فرصت نه ورکوي چې د افغانستان مسایلو ته د نورو له نظره وګوري.

۲- اسلامي امارت دې سعودي عربستان په دې پوهه کړي چې په افغانستان کې ناپیلي او بې پرې سیاست ولوبوي او له خپلو تېرو تېروتنو څخه عبرت واخلي.

۳ـ د افغانستان اسلامي امارت دې له خلیجي هېوادونو سره خپلې اړیکې پراخه کړي او هغه ګډ او مشترک ټکي دې پیدا کړي چې پر بنسټ یې اړیکې ځواکمنې کیږي.

۴. اسلامي امارت دې له خلیجي هېوادونو سره د اسلامي ورورولۍ سربېره د ملي ګټو پر بنسټ عملي تعامل وکړي.

**مأخذونه**


۱- اعترفت بنظام طالبان سابقا ما موقف السعودیة من تطورات أفغانستان، ۱۰/۹/۱۴۰۲.

https://www.trtarabi.com/now

2-Taliban close Qatar office in ۱۵/۹/۱۴۰۲ ،https://web.archive.org/web

protest at flag removal

3-US and Taliban sign deal to withdraw American troops from Afghanistan .

۱٦/۹/۱۴۰۲https://web.archive.org/web

۴ـ مقاربة الإمارات تجاه طالبان, ۱۷/۹/۱۴۰۲، https://carnegieendowment.org

۵ - بایدن-یصنف-قطر-حلیفا-رئیسیا-للولایات، ۱۰ /۸/۱۴۰۲.

https://www.aljazeera.net/politics/2022/3/1

6-https://new.thecradle.co/articles/persian-gulf-leaders-engage-taliban-ruled-afghanistan Persian Gulf leaders engage Taliban-ruled Afghanistan

٧- هذه محددات مستوى العلاقات الخليجية مع إمارة أفغانستان الإسلامية،١٣/٨/١۴٠٢،
https://thenewkhalij.news/article/301613

٨- رئيس مجلس الوزراء القطري أجرى محادثات سرية مع زعيم حركة طالبان هذا الشهر،
https://www.aljazeera.ne. ٢٠./٨/١۴٠٢

٩- حُكام الخليج وطالبان: علاقات حذرة دون الاعتراف الكامل، ١٨/٩/١۴٠٢.
https://new.thecradle.co/

١٠- لماذا تأخر الاعتراف الدولي بحكومة طالبان؟ ولماذا تحرص عليه الحركة؟
١٨/٩/١۴٠٢، https://www.aljazeera.net،

١١- محمد بن زايد يستقبل وزير الدفاع الأفغاني بالإنابة، ٢۵/٨/١۴٠٢.
https://wam.ae/ar/details/1395303108108

١٢- طالبان: هل ستغير دول الخليج موقفها من الحركة بعد اكتساحها أفغانستان،
١٩/٩/١۴٠٢، https://www.bbc.com/arabic/world

١٣- البراجماتية تدفع نحو الانخراط بين طالبان والإمارات، ٢٣/٩/١۴٠٢ .
https://translate.google.com

١۴- مستوى العلاقات الخليجية مع إمارة أفغانستان الإسلامية، ٢۵/٩/١۴٢٠
https://thenewkhalij

١۵- انخراط الخليج في الساحة السياسية الأفغانية، ٢٣/٩/١۴٠٢. https://agsiw.org

١٦- العلاقات الأفغانية السعودية ومحاولة جديدة للسلام، ٢۵/٩/١۴٠٢
/https://csrskabul.com/ar

١٧- السعودية تفتتح القسم القنصلي في سفارتها في كابول لخدمة الأفغان والحكومة ترحب,
۴/٩/١۴٠٢. https://sputnikarabic.ae/

۱۸- العودة-كابل-تعترف-السعودية-بحكم-طالبان-مجددا، ۲۷/۸/۱۴۰۲.
https://www.alhurra.com/saudi-arabia/2021/12/01

۱۹- تفجير سفارتي الولايات المتحدة (كينيا وتنزانيا بتاريخ ۰۷ أغسطس/آب ۱۹۹۸)، https://rewardsforjustice.net ۲۷/۹/۱۴۰۲

۲۰- سياسة السعودية في أفغانستان.. من دبلوماسية الكعبة إلى دعم الاستقرار، https://thenewkhalij.news .۲۵/۹/۱۴۰۲

۲۱- الثمن الفادح للتغيير، ۲۷/۹/۱۴۰۲ر https://www.hrw.org

۲۲- مصالح السعودية وقطر في أفغانستان.. تعاون مع طالبان برؤيتين مختلفتين، https://thenewkhalij.new .۲۸/۹/۱۴۰۲

۲۳- تحليل: هذه محددات مستوى العلاقات الخليجية مع إمارة أفغانستان الإسلامية، ۳۰/۹/۱۴۰۲، https://thenewkhalij.new ،

۲۴- افتتاح المقر الجديد لبعثة منظمة التعاون الإسلامي في كابل، ۳۰/۹/۱۴۰۲.
https://www.oic-oci.org

۲۵- السعودية تعلن فتح القسم القنصلي في سفارتها لدى أفغانستان، ۱/۱۰/۱۴۰۲.
https://arabic.rt.com

۲٦- اسلامي امارت د سعودي او ايران ترمنځ د ډيپلوماتيکو اړيکو د بيا پيل هرکلی وکړ، پژواک، ۱۴۰۲ ليندی ۴، https://pajhwok.com/ps/2023/03/1

۲۷- تنافس خليجي على النفوذ في "أفغانستان طالبان" ، ۳۰/۹/۱۴۰۲.
https://www.alhurra.com

۲۸- حُكام الخليج وطالبان: علاقات حذرة دون الاعتراف الكامل، ۱/۱۰/۱۴۰۲.
https://new.thecradle.co/arabic

څېړندوی عبدالصبور مبارز

# د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي او اقتصادي اړیکو څېړنه

## لنډیز

پاکستان یو له هغو درېو هېوادونو څخه و چې د اسلامي امارت لومړنۍ واکمني یې په رسمیت پېژندلې وه او نږدې اړیکې یې ورسره درلودې، له همدې امله تمه کېده چې د اسلامي امارت د بیاځلي واکمنۍ پرمهال به هم د دواړو هېوادونو دوه اړخیزې اړیکې ښې وي، خو په دې وروستیو کې د بېلابېلو لاملونو پر بنسټ دوه اړخیزې سیاسي اړیکې خرابې شوي. همدارنګه پاکستان د افغانستان پر وړاندې د ستراتیژیکې ژورتیا پالیسۍ(Strategic Depth Policy) څخه ګټه اخلي، خو داسې معلومېږي چې د اسلامي امارت په اوسنۍ واکمنۍ کې یې دا پالیسي بریالۍ نه ده.

البته په اقتصادي برخه کې دوه اړخیزې اړیکې پیاوړې شوې دي. د جمهوریت په وروستي کال کې د افغانستان او پاکستان دوه اړخیزه سوداګري نږدې ۹۵۰ نهه سوه پنځوس میلیونه ډالره وه چې د اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال په ۱۴۰۱هـ.ل. کال کې دغه سوداګري نږدې دوه نیم میلیارده ډالرو ته ورسېده. په دې برخه کې بله د پام وړ خبره دا ده چې د اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال په صادراتو او وارداتو کې هم توازن رامنځته شوی چې له امله یې د افغانۍ ثبات هم ساتل شوی. د سیاسي اړیکو خرابوالی ځینې وخت پر اقتصادي اړیکو منفي اغېزه کوي او له امله یې د ډیورنډ پر فرضي کرښه ځینې ستونزې رامنځته کېږي، خو هڅه باید وشي چې اقتصادي اړیکې د سیاسي اړیکو قرباني نشي.

## سریزه

پاکستان پر ۱۹۴۷ز. کال د اګست پر ۱۴مه نېټه رامنځته شو او له همدغې نېټې څخه تر اوسمهال پورې له دغه هېواد سره د افغانستان اړیکو لوړې او ژورې درلودې. د افغانستان او پاکستان اړیکو د تاریخ په اوږدو کې بېلابېل پړاوونه تېر کړي، ځینې وخت دغه اړیکې خرابې او ځینې وخت بیا سره نږدې شوي دي. له ۱۹۴۷ز. کال څخه تر ۱۹۷۹ز. کال پورې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې د ډیورنډ فرضي کرښې پر سر خرابې وې.

له ۱۹۷۹ز. کال څخه تر ۱۹۹۲ز. کال پورې د دواړو هېوادونو اړیکې خرابې وې او لامل یې په سیمه کې د دوو لویو قدرتونو، د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد سیالي وه، پاکستان په دغه سیالۍ کې د امریکا متحده ایالاتو او افغان حکومت د شوروي اتحاد پلوي کوله. د مجاهدینو د حکومت په اوایلو او د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې د دواړو هېوادونو اړیکې ښې وې.(۱)

له ۲۰۰۱ز. کال وروسته د حامد کرزي په لومړۍ دوره کې د دواړو هېوادونو اړیکې تر ډېره ښې وې، خو له هغې وروسته اړیکو لوړې او ژورې درلودې او ستر لامل یې دا و چې افغان حکومت د افغانستان د ناامنۍ ستر لامل پاکستان ګاڼه او دواړه د یو او بل د ملامتولو له لوبې کار اخیسته چې پر دوه اړخیزو اړیکو یې منفي اغېزه کوله.

د ۲۰۲۱ز. کال د اګست په میاشت کې اسلامي امارت پر افغانستان بیا واکمن شو چې په دې مقاله کې به د دغه حکومت او پاکستان ترمنځ دوه اړخیزې اړیکې وڅېړو.

له پاکستان سره د یو مهم ګاونډي په توګه د افغانستان د اړیکو څېړل د **اهمیت** وړ دي ځکه د پاکستان سیاستونو تل پر افغانستان اغېزې کړې دي. په دې وروستیو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په دوه اړخیزو اړیکو کې ځینې ستونزې رامنځته شوي دي، نو د دغو ستونزو پر لاملونو او د دوه اړخیزو اړیکو په پراختیا د پوهېدو لپاره **اړتیا** ده چې دغه اړیکې وڅېړل شي.

د دې څېړنې موخه په سیاسي او اقتصادي برخو کې د افغانستان اسلامي امارت او د پاکستان د اړیکو څېړل دي. د څېړنې بنسټیزه پوښتنه دا ده چې د افغاستان اسلامي امارت په بیا واکمنۍ سره د افغانستان او پاکستان سیاسي او اقتصادي اړیکو پرمختګ کړی او که خرابې شوې دي؟

د **فرضیې** په ډول ویلای شو چې په اقتصادي برخه کې د دواړو هېوادونو اړیکې ښې شوې، خو په سیاسي برخه کې خرابې شوې دي. په دې څېړنه کې د څېړنې له تحلیلي – تشریحي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## سیاسي اړیکې

پاکستان د افغانستان هغه ګاونډی هېواد دی چې تل یې په سیاسي اړیکو کې درزونه او ستونزې موجودې دي او د دغو خرابو اړیکو اصلي لامل د ډیورنډ کرښه ده چې د برتانیې له خوا د برتانوي هند او افغانستان ترمنځ د سرحدي کرښې په توګه په

۱۸۹۳ز. کال کې رابښکل شوې ده[۲] کله چې برتانوي هند په دوه لويو برخو (هند او پاکستان) وويشل شو، نو د ډيورنډ له فرضي کرښې وراخوا د افغانستان سيمې د برتانويانو په زور د افغانستان له وجود څخه جلا او په پاکستان پورې وتړل شوې اوس همدغه فرضي کرښه ده چې د افغانستان په اړه د پاکستان د بهرني سیاست ستره برخه جوړوي او د خپلو ملي ګټو له جملې څخه يې ګڼي.

کله چې پاکستان رامنځته شو، نو په اوايلو کې يې بهرنی سیاست د لويو قدرتونو ترمنځ د بې طرفی پر اصل تنظيم کړ، خو پر دې ډول بهرني سیاست سربېره يې د امريکا له متحدو ايالتونو سره د يو متحد په توګه په ۱۹۵۴ز. کال کې د دوه اړخيزو دفاعي همکاريو تړون* لاسليک کړ او پر همدې کال يې د سيټو** تړون غړيتوب هم ترلاسه کړ.[۳] په ۲۰۰۱ز. کال کې امريکا متحده ايالاتو د مسلمانانو د ځپلو او د افغانستان د اشغال جګړه د ترهګرۍ خلاف جګړې په نوم پيل کړه چې په دغه جګړه کې پاکستان د دوی د لومړۍ کرښې متحد و او له دغه هېواد سره يې په ګډه په افغانستان کې د اسلامي امارت حکومت له منځه يوړ او د اسلامي امارت ځينې مشران يې له نيولو وروسته امريکا متحده ايالاتو ته وسپارل، همدا د اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړيکو د خرابوالي يو لامل ګڼل کېږي.

کله چې د ۲۰۲۱ز.کال د اګست په مياشت کې اسلامي امارت بياځلي پر افغانستان واکمن شو، نو ځينو پاکستاني پاليسي جوړوونکو فکر کاوه چې په افغانستان کې د اسلامي امارت بريا په دغه هېواد کې د پاکستان بريا ده. د پاکستان لومړي وزير عمران خان وويل: د افغانستان خلکو د غلامۍ زولنې ماتې کړې. همدارنګه په افغانستان کې د اسلامي امارت راتګ يې بريا وګڼله.[۴]

پاکستان د افغانستان پر وړاندې د ستراتيژيکې ژورتيا پاليسۍ( Strategic Depth Policy) څخه ګټه اخلي. د دې پاليسۍ له لارې پاکستان غواړي پر افغانستان سياسي کنټرول ولري، په دغه هېواد کې د هند د نفوذ مخنيوی وکړي، د ډيورنډ کرښه د رسمي کرښې په توګه پر افغان حکومت ومني او مرکزي اسيا ته په اسانۍ لاسرسی ولري.[۵] په

* Mutual Defense Assistance Agreement (MDAA).
** The Southeast Asia Treaty Organization (SEATO) .

دي وروستيو کې د اسلامي امارت او پاکستان سياسي اړيکې خرابې شوې دي او د دې یو لامل دا دی چې پاکستان خپلې ستراتيژيکې ژورتيا پاليسۍ کې بريالی شوی نه دی. د موډرن ډيپلوماسۍ مرکز پاکستاني څېړونکي محمد عماد عباس «له ستراتيژيک ژورتيا څخه تر ستراتيژيک ګواښ (From Strategic depth to Strategic Threat)» تر سرليک لاندې يوه مقاله ليکلې ده، په دې مقاله کې نوموړی خپل حکومت ته وړانديز کوي چې  بايد د اسلامي امارت پر وړاندې په ستراتيژيک ژورتيا پاليسۍ کې بدلون راولي ځکه اسلامي امارت د خپلې تېرې دورې په پرتله په بشپړ ډول بدلون موندلی، دوی په خپلو پاليسيو کې خپلواک دي او له اقتصادي پلوه په داخلي عوايدو تکيه کوي او خپلو ګټو ته په کتو له هېوادونو سره اړيکې ټېنګوي، نو د دوی پر وړاندې بايد نوې  پاليسي ترتيب شي او هڅه دې وشي چې د ښو اړيکو له لارې دوی قانع کړای شي.[٦]

**د اسلامي امارت او پاکستان د سياسي اړيکو د خرابوالي لاملونه**

د ۲۰۲۱ز. کال د اګست په مياشت کې د اسلامي امارت په بيا واکمنېدو سره د دواړو هېوادونو سياسي اړيکې ښې وې او دواړو لوريو غوښتل چې له يو او بل سره نږدې همکاري وکړي، خو د وخت په تېرېدو، په ځانګړي ډول په ۲۰۲۳ز. کال کې د اسلامي امارت او پاکستان سياسي اړيکې مخ په خرابېدو شوې، اوسمهال دا اړيکې په ډېر خراب حالت کې دي، دا ځينې لاملونه لري چې دلته پرې بحث کوو:

**لومړی: د ډيورنډ قضيه او سرحدي شخړې**

د ډيورنډ فرضي کرښه اسلامي امارت په رسميت نه پېژني، خو دا قضيه د پاکستان د ستراتيژيکې ژورتيا پاليسۍ تر ټولو مهمه برخه ده ځکه که دا قضيه پاکستان د خپلې خمکنۍ بشپړتيا لپاره ګواښ ګڼي. د همدې لپاره د اسلامي امارت پر وړاندې د پاکستان د بهرني سياست يوه برخه دا ده چې د ډيورنډ کرښه پر اسلامي امارت په رسميت وپېژني، خو اسلامي امارت د ډيورنډ کرښه په رسميت نه پېژني او په څرګندو ټکو د اسلامي امارت د دفاع وزير د دې کرښې په رسميت پېژندل رد کړي دي. مولوي محمد يعقوب مجاهد له طلوع نيوز سره په مرکه کې په څرګندو ټکو وويل: «د ډيورنډ کرښه يوه فرضي کرښه ده او کله هم چې افغانانو غوښتنه وکړه موږ به دا موضوع له اسلام اباد سره راپورته کړو، خو تر هغې وړاندې بايد خپلې داخلي ستونزې حل کړو.»[٧]

پاکستانی لیکوال او څېړونکی احمد رشید وايي: پاکستان فکر کاوه چې له سیاسي او پوځي اړخه د طالبانو ملاتړ به دې ته لاره هواره کړي چې د ډیورنډ کرښه ورسره د رسمي سرحد په توگه ومني، خو د پاکستان دا فکر غلط ثابت شو، بلکې برعکس طالبانو په ډېر جدي ډول د ډیورنډ کرښې د رسمي کېدو مخالفت وکړ.(۸)

د ډیورنډ کرښې په اړه د اسلامي امارت د لوړو پوړو چارواکو دا ډول څرگندونې د دواړو هېوادونو پر سیاسي اړیکو منفي اغېزې کړې دي. همدارنگه د افغاني پوځیانو له لوري د ۲۰۲۱ ز. کال ډسمبر او د ۲۰۲۲ ز. کال جنورۍ په میاشت کې د پاکستان له لوري د ډیورنډ پر فرضي کرښه د اغزن تار د تېرولو مخنیوی شوی چې له امله یې د دواړو لوریو ترمنځ نښتې رامنځته شوي(۹) همدارنگه څو ځله د سپین بولدک او تورخم دروازه د افغاني او پاکستاني پوځیانو ترمنځ د ځینو اختلافاتو له امله تړل شوې چې له امله یې دواړو لوریو ته اقتصادي زیانونه اوښتي. د دې ډول نښتو او ستونزو رامنځته کېدو هم د دواړو هېوادونو پر سیاسي اړیکو منفي اغېزې کړې دي.

**دویم: د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحریک قضیه**

په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته په پاکستان کې د پاکستان د طالبانو له اسلامي تحریک سره هم هیله پیدا شوه چې په پاکستان کې هم اسلامي نظام حاکم کړي، له همدې امله یې بریدونه زیات کړل. د رسمي شمېرو له مخې یوازې په ۲۰۲۳ز. کال کې په خیبرپختونخواه کې ۳۰۰ حملې شوي چې اکثره یې د پاکستان د طالبانو اسلامي تحریک پر غاړه اخیستې دي.(۱۰) د اسلامي امارت په اړه د پاکستان د بهرني سیاست بله برخه دا ده چې د اسلامي امارت په منځگړیتوب په پاکستان کې د پاکستان د طالبانو له اسلامي تحریک سره روغه وکړي او دغه قضیه حل کړي، په همدې موخه یې د مولوي تقي عثماني په مشرۍ د علماوو یوه ډله کابل ته راولېږله تر څو د اسلامي امارت له مشرانو سره په دې اړه خبرې وکړي، تر دې چې اسلامي امارت مشران حاضر شول چې د دواړو لوریو ترمنځ منځگړیتوب وکړي، خو دا چاره بریالۍ نه شوه. پاکستان نه یوازې دا چې په دې موخه کې بریالی نه شو، بلکې برعکس دوی فکر کوي چې اسلامي امارت د پاکستان د طالبانو له اسلامي تحریک سره همکاري کوي او په افغانستان کې پټنځایونه ورکوي.

د ۲۰۲۳ز. کال د جولای په میاشت کې په باجوړ کې پر یوه غونډه برید وشو چې له امله یې له ۵۴ څخه زیات کسان مړه شول. پاکستاني حکومت، په ځانګړي ډول د پوځ مشر جنرال عاصم منیر دعوه وکړه چې په دې پېښه کې افغاني تابعیت لرونکو لاس درلود او دوی له افغانستان څخه راغلي وو. د پاکستان لوړ پوړو چارواکو د دې پېښې پړه د اسلامي امارت پر حکومت واچوله او دغه حکومت یې تورن کړ چې دوی نشي کولای وسلوال خلک کنټرول کړي تر څو د ډیورنډ له فرضي کرښې راتېر نشي.[۱۱] له دې ډول بریدونو وروسته پاکستان له اسلامي امارت څخه غوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحریک یا TTP په مقابل کې په افغانستان کې پراخ عملیات وکړي[۱۲] او که اسلامي امارت دا کار ونکړي دوی اړ دي چې د نړیوالو حقوقو پر بنسټ له ځان څخه دفاع وکړي او د افغانستان په خاوره کې دننه عملیات وکړي. [۱۳] اسلامي امارت دغه تورونه رد کړل او ذبیح الله مجاهد د ټویټر پر پاڼه ولیکل: د وروستۍ امنیتي پېښې له امله پاکستان د دې پرځای چې خپل امنیت ټېنګ کړي یو ځل بیا یې افغانستان تورن کړ. اسلامي امارت تاکید کوي چې دوی د دې ډول پېښو حمایت نه کوي، بلکې غندي یې، خو دا د اسلامي امارت مسؤلیت نه دی چې په پاکستان کې د حملو مخنیوی وکړي، بلکې پاکستان باید خپل امنیت پخپله ټینګ کړي. [۱۴] د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحریک له امله هم د دواړو هېوادونو ترمنځ ژور اختلافات رامنځته شول، ځکه پاکستان پر اسلامي امارت تور لګوي چې د پاکستان د طالبانو له اسلامي تحریک څخه ملاتړ کوي او په افغانستان کې پټنځای ورکوي، خو اسلامي امارت د پاکستان د طالبانو له اسلامي تحریک څخه د ملاتړ او په افغانستان کې د هغوی د موجودیت اړوند تورونه رد کړي، چې دغو اختلافاتو او بې باوریو د دواړو هېوادونو ترمنځ پر سیاسي اړیکو منفي اغېزې کړې دي.

**درېیم: د پاکستان له لوري د افغان کډوالو په زوره ویستل**

د پاکستان حکومت د معلوماتو پر بنسټ په دغه هېواد کې ۴ میلیونه افغان کډوال اوسېږي چې له ډلې یې ۲٫۳ میلیونه کډوال د حکومت له خوا تائید شوي اسناد لري او پاتې ۱٫۷ میلیونه کډوال اسناد نه لري او ناقانونه اوسېږي. د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر پر درېیمه نېټه د پاکستان حکومت اعلان وکړ چې ټول

ناقانونه افغان کډوال به د اکتوبر مياشتې تر پای پورې خپل هېواد ته ستنوي.[۱۵] د ۲۰۲۳ز. کال د جولای په مياشت کې د مهاجرينو نړيوالې کمېټې د يو راپور پر بنسټ په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي امارت له بيا واکمنۍ راهيسې له شپږ سوه زرو زيات افغانان پاکستان ته کډوال شوي چې ټول يې بې اسنادو دي.[۱٦] د اسلامي امارت د وياند ذبيح الله مجاهد په وينا نږدې يوه نيمه مياشت کې يعنې د نومبر مياشتې تر شلمې نېټې پورې څلور سوه زره افغان کډوال د تورخم او سپين بولدک له لارې بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي.[۱۷]

**په زوره د افغان کډوالو د ويستلو لاملونه**

**۱- په پاکستان کې د تاوتريخوالي زياتوالی:** د پاکستان حکومت وايي چې د ناقانونه افغان کډوالو په زياتېدو سره په پاکستان کې د تاوتريخوالي پېښې زياتې شوي، له همدې امله بايد ناقانونه افغان کډوال له پاکستان څخه وويستل شي تر څو د پاکستان امنيتي وضعيت بېرته عادي شي. د پاکستاني چارواکو په وينا يوازې په ۲۰۲۳ز. کال کې ۲۴ ځانمرگي بريدونه شوي چې په ۱۴ بريدونو کې يې افغان تابعيت لرونکي دخيل وو. د جنوبي اسيا د ترهگرۍ بنسټ وايي: په ۲۰۲۳ز. کال کې په پاکستان کې ۴۱۸ بريدونه شوي، چې دا شمېره په ۲۰۲۲ز. کال کې ۳٦۵ وه[۱۸] پاکستاني چارواکي د بريدونو د زياتوالي يو لامل په پاکستان کې ناقانونه افغان کډوال گڼي، له همدې امله دوی افغان کډوال له خپلې خاورې په زوره شړي.

**۲- پر اسلامي امارت د فشار وسيله:** دويم لامل يې دا دی چې پر اسلامي امارت فشار راوړي تر څو د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحريک پر خلاف په داخل د افغانستان کې عمليات وکړي او يا هم له هغوی سره د اړيکو له لارې هغوی پاکستاني حکومت سره خبرو ته کېنوي. موږ مخکې يادونه وکړه چې د پاکستان حکومت، اسلامي امارت تورنوي چې دوی په افغانستان کې د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحريک غړو ته پناه ورکړې[۱۹]، دا چې اسلامي امارت دغه تورونه رد کړي او په پاکستان کې د طالبانو له اسلامي تحريک سره همکاري هم ردوي، نو د پاکستان حکومت غواړي د مهاجرينو د شړلو له لارې اسلامي امارت تر فشار لاندې راولي تر څو هغوی د پاکستان د طالبانو د اسلامي تحريک په اړه د پاکستان له حکومت سره همکاري وکړي.[۲۰]

**۳- د اقتصادي وضعیت خرابوالی:** دربیم لامل چې خپله پاکستانیان یې یادوي هغه دا دی چې دوی فکر کوي د دوی د دندو او کاروبار ځای افغانانو نیولی، که دوی وشړل شي، نو دوی ته به دندې او د کاروبار زمینه برابره شي،[۲۱] خو دا یوازې یوه پلمه ښکاري ځکه ۱,۷ میلیونه کډوال څنګه د دومره زیات نفوس لرونکي هېواد پر اقتصادي وضعیت منفي اغېزه کولای شي. بله دا چې د پاکستان حکومت په پاکستان کې د افغان کډوالو ځمکې، په بانک کې پرتې پیسې، ان په کورونو کې سره زر او نغدې پیسې هم له دوی څخه اخیستې او له دې لارې دوی غواړي چې یو څه اقتصادي ګټه وکړي. د دې ډول کړنو په غبرګون کې د اسلامي امارت رئیس الوزراء په یو ویډیوي پیغام کې د پاکستان د حکومت دا کړنې په سختو ټکو وغندلې. همدارنګه د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین شېر محمد عباس ستانکزي هم د پاکستان حکومت له لوري د مهاجرینو د ویستلو پر پالیسۍ سختې نیوکې وکړې او په دې اړه یې د پاکستان حکومت ته ګوتڅنډنه وکړه چې له دې ډول پالیسیو څخه دې لاس واخلي.[۲۲]

لنډه دا چې د پاکستان حکومت له لوري د ژمي په موسم کې د افغان کډوالو د راشړلو له امله هم د اسلامي امارت او پاکستان سیاسي اړیکې خرابې شوې دي.

## اقتصادي اړیکې

افغانستان په وچه کې راایسار هېواد دی او خپلو ګاونډیو هېوادونو (پاکستان او ایران) ته اړتیا لري تر څو سمندر ته لاسرسی ولري. د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړیکې تر ډېره د سیاسي اړیکو قرباني شوې دي.

د پاکستان او افغانستان اقتصادي اړیکې په درېو برخو کې تر څېړنې لاندې نیسو: دوه اړخیزه سوداګري، ټرانزیټ او سیمه ییزې ګډې پروژې.

### ۱- دوه اړخیزه سوداګري

د اسلامي امارت د تېرې دورې په پیل کې د پاکستان او افغانستان ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري ۲۵ میلیونه ډالره وه، چې د دغې دورې تر پای پورې ۱۷۰ میلیونه ډالرو ته ورسېده، خو د جمهوریت په لومړۍ لسیزه کې د پاکستان او افغانستان ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري دوه نیم میلیارده ډالرو ته ورسېده[۲۳] د جمهوریت د سقوط پرمهال یعنې په ۱۳۹۹ هـ.ل. کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري نهه سوه درې څلوېښت میلیونه، شپږ لکه اوه اتیا زره او نهه سوه پنځه اویا

(۹۴۳۶۸۷۹۷۵) ډالره وه چې په دې کې د اووه سوه دوه دېرش میلیونه، یو لک اته شپېته زره او شپږ سوه شپږپنځوس (۷۳۲۱٦۸٦۵٦) ډالرو په ارزښت توکي افغانستان ته وارد شوي او دوه سوه یوولس میلیونه، پنځه لکه نولس زره او درې سوه نولس (۲۱۱۵۱۹۳۱۹) ډالرو په ارزښت توکي پاکستان ته صادر شوي دي.[۲۴] د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته له یوې خوا د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري د جمهوریت په پرتله ښه شوې او له بلې خوا د صادراتو او وارداتو ترمنځ توازن هم رامنځته شوی چې ستر لامل یې د اسلامي امارت له لوري د معدنونو او په ځانګړي ډول د ډبرو سکرو کېندنه او پاکستان ته د هغې صادرول دي.

پر ۱۴۰۱ هـ.ل. کال د اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري دوه میلیارده، درې سوه درې څلوېښت میلیونه، شپږ لکه شپېته زره او شپږ سوه شپږ اویا (۲۳۴۳٦٦۰٦۷۰) ډالرو ته لوړه شوه چې په دې کې یو میلیارد، یو سل او پنځه شپېته میلیونه، پنځه لکه درې نوي زره او نهه سوه اته پنځوس (۱۱٦۵۵۹۳۹۵۸) ډالرو په ارزښت توکي افغانستان ته وارد شوي او یو میلیارد، یو سلو اته اویا میلیونه، شپږ شپېته زره او اووه سوه دوولس (۱۱۷۸۰٦٦۷۱۲) ډالرو په ارزښت توکي پاکستان ته صادر شوي دي.[۲۵]

د ۱۴۰۲ هـ.ل. کال په لومړیو اوو میاشتو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري یو میلیارد، درې سوه اته اویا میلیونه، اوه لکه دوه ویشت زره او اته سوه پنځه اویا (۱۳۷۸۷۲۲۸۷۵) ډالره وه چې په دې کې اته سوه شپږ شپېته میلیونه، نهه لکه څلور دېرش زره او څلور سوه څلور (۸٦٦۹۳۴۴۰۴) ډالرو په ارزښت توکي افغانستان ته وارد شوي او پنځه سوه یوولس میلیونه، اووه لکه اته اتیا زره او څلور سوه یو اویا (۵۱۱۷۸۸۴۷۱) ډالرو په ارزښت توکي پاکستان ته صادر شوي دي.[۲٦]

د پاکستان له لوري افغانستان ته طبي مواد، وریژې، نباتي غوړي، پلاستیک، غذایي مواد، سیمنټ، ژاولې، المونیم، تازه مېوه او سبزي په لوړه کچه صادرېږي او د افغانستان له لوري پاکستان ته د ډبرو سکاره، انګور، ځمکني توت، مڼې، نورې تازه مېوې، پنبه، رومیان، پیاز، اوسپنه، بادرنګ، وچه مېوه او نور توکي صادرېږي.[۲۷]

**۲- ټرانزیټ**

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټرانزیټ په برخه کې د همکارۍ د پراختیا لپاره د یو تړون د لاسلیک په موخه پر ۲۰۰۸ز. کال خبرې اترې پیل شوې چې بیا په ۲۰۱۰ز. کال کې د اپټا ( Afghanistan-Pakistan Transit Trade Agreement(APTTA)) تړون د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ وزیرانو لاسلیک کړ. دغه تړون چې ۵۸ مادې لري د اسلامي امارت د اوسنۍ واکمنۍ پرمهال هم نافذ دی. سره له دې چې د دې تړون د ځینو موادو د تطبیق په برخه کې ځینې خنډونه شته، خو په کل کې دغه تړون نافذ او دواړه لوري پرې استناد کولای شي.

د دې تړون پر بنسټ دواړه هېوادونه کولای شي چې د یو او بل خاورې ته لاسرسی ولري او د ټرانزیټي سوداګرۍ په موخه ترې ګټه واخلي، د دې تړون پر بنسټ افغانستان د پاکستان دریو لویو بندرونو (کراچۍ، ګوادر او قاسم) او دوو هېوادونو، چین ته د سوسټ/تاشقرغان له لارې او هند ته د واګه پولې له لارې ټرانزیټي لاسرسی پیداکوي. البته یوه یادونه باید وکړو چې افغاني لارۍ (لوی ګاډي) به پر واګه پوله خالي کېږي او هندي کانتینرونو او لاریو کې به هند ته انتقالېږي او افغاني لارۍ نشي کولای چې له هغې خوا هندي مالونه راانتقال کړي، بلکې له هغې خوا به تش راځي.

همدارنګه پاکستان کولای شي چې د افغانستان د اسلام قلعه او زرنج له لارې له ایران سره، د حیرتان له لارې ازبکستان سره، د شېرخان له لارې تاجکستان سره او د اقینه او تورغونډۍ له لارې ترکمنستان سره وصل شي او ټرانزیټ ترسره کړي.[۲۸]

د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانزیټي سوداګرۍ په مخ کې ځینې خنډونه پراته دي چې دلته یې لنډه یادونه کوو:

**۱- د پاکستان او اسلامي امارت ترمنځ د دروازو تړل کېدل:** د ۲۰۲۱ز. کال د اګست په میاشت کې د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته څو ځلې د پاکستان او اسلامي امارت ترمنځ په تورخم او یا هم سپین بولدک کې ستونزې رامنځته شوې او د خلکو د تګ او راتګ په ګډون د سوداګرۍ په موخه هم څو ځلې دروازې تړل شوې، چې د دواړو لوریو سوداګرو ته یې مالي زیان اړولی دی. د ۲۰۲۳ز. کال د فبرورۍ په میاشت کې د اسلامي امارت له لوري د تورخم دروازه د هر ډول تګ-راتګ او سوداګرۍ لپاره وتړل شوه، دغه دروازه درې ورځې بنده وه او د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګري ورسره

په ټپه ولاړه وه او د دواړو هېوادونو ترمنځ پر اقتصادي اړیکو یې هم منفي اغېزه وکړه. د پاکستان او افغانستان د ګډې سوداګرۍ او صنعت خونې مشر سید ضیاالحق سرحدي په وینا د تورخم د دروازې تړلو له امله دواړه لوریو ته ۶۰۰۰ ټېلرې او لوی ګاډي بند پاتې وو چې دواړو لوریو ته یې میلیونونه ډالر زیان اړولی دی. د اسلامي امارت د چارواکو په وینا دروازه یې له دې امله تړلې چې پاکستاني لوري د ټرانزیت او ناروغانو د پرېښودو په برخه کې په خپلو وعدو وفا نه کوله.[۲۹] د همدغو سرحدي او سوداګریزو شخړو د حل په موخه د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بلاول بهټو زرداري د ۲۰۲۳ز. کال د مې په میاشت کې په اسلام اباد کې سره وکتل او دواړه لوري دې هوکړې ته ورسېدل چې دوه اړخیزې سوداګرۍ ته به پراختیا ورکوي، د ترهګرۍ په خلاف به سره جګړه کې همکاري کوي او سرحدي اندېښنې به پای ته رسوي.[۳۰]

د دروازو د بندېدو تازه پېښه د ۱۴۰۲هـ.ل. کال د عقرب پر ۳۰مه نېټه شوې، پاکستاني لوري د تورخم دروازه د ټرانزیټ پرمخ له دې امله وتړله چې د موټرو له چلوونکو څخه یې د ویزې او پاسپورټ غوښتنه کوله،[۳۱] نو په بېلابېلو پلمو د دروازو تړل هم د دواړه هېوادونو ترمنځ د ټرانزیټ په برخه کې یو خنډ دی.

**۲- له هند سره د ټرانزیټي سوداګرۍ پر وړاندې خنډونه:** لومړی خنډ خپله په اټیا تړون کې دی چې افغاني کانتینرونه او لارۍ له واګه پولې اخوا نه پرېږدي چې هند ته تېرې شي، بلکې لارۍ به په واګه پوله کې خالي کېږي او بېرته به خالي افغانستان ته راځي چې دا ډول چاره افغاني سوداګرو ته لوی زیان دی او دویم خنډ په اوس وخت کې د هند او اسلامي امارت ناسمې اړیکې دي، څکه هند تر اوسه په ډیلي کې افغان سفارت اسلامي امارت ته نه دی سپارلی او په تېرو دوو کلونو کې یې افغان محصلینو، ناروغانو او عادي افغانانو ته د هر ډول ویزو ورکړه بنده کړې، نو طبعي خبره ده چې دغه عمل د پاکستان له لارې له هند سره پر ټرانزیټي سوداګرۍ منفي اغېزه کوي.

**۳- په کراچۍ او ګوادر بندرونو کې د افغاني کانتینرونو ځنډول او د ځنډ ناعادلانه فیس:** افغان سوداګر باید په ۱۲ ورځو کې په کراچۍ او ګوادر بندرونو کې ټکس او نور کاغذي کارونه خلاص کړي او خپل مال ترلاسه کړي، که له ۱۲ ورځو دا کار وځنډېده، نو د پاکستان حکومت له افغاني سوداګرو څخه هر ورځ ۶۰ ډالر او

وروسته ۸۰ ډالر اضافه اخلي او د هرو شلو ورځو په تېرېدو سره د جريمې پيسې هم زياتېږي. پاکستان د دغو پيسو د ترلاسه کولو په موخه ځينې خنډونه جوړوي تر څو افغاني کانتينرې وځنډېږي او دوی ډېرې پېسې لاسته راوړي چې دا خپله د دواړو هېوادونو د ټرانزيټ په مخ کې خنډ دی. تازه پېښه د ۱۴۰۲هـ.ل. کال د عقرب په مياشت کې شوې چې پاکستاني چارواکو په کراچۍ بندر کې د افغان سوداګرو نږدې ۴۰۰۰ کانتينرې ايسارې کړې وې، چې بيا د دغې ستونزې د حل لپاره د اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزير الحاج نورالدين عزيزي اسلام اباد ته سفر وکړ او د عقرب پر ۲۳مه نېټه يې د پاکستان د بهرنيو چارو وزير جليل عباس جيلاني او ورسره مل پلاوي سره وکتل. په دې ناسته کې هوکړه وشوه چې د پاکستان حکومت به په کراچۍ بندر کې د افغان سوداګرو ايسار مالونه پرېږدي او په راتلونکي کې به د نورو خنډونو د پېداکېدو مخنيوی کوي.(۳۲)

**۳- سيمه ييزې اقتصادي پروژې**

د پاکستان او اسلامي امارت په اقتصادي اړيکو کې بله مهمه موضوع ځينې مهمې سيمه ييزې پروژې دي چې دواړه هېوادونه يې برخه دي، پر دغو پروژو دلته لنډ بحث کوو:

**۱- تاپي پروژه:** دغه پروژه د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۵ز. کال د اسلامي امارت په تېره دوره کې لاسليک شوه، خو د سياسي بې ثباتۍ له امله يې کارونه پيل نشول،(۳۳) وروسته بيا په ۲۰۱۵ز. کال د ډسمبر مياشتې پر ۱۳مه نېټه د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ترمنځ د دغې پروژې د کارونو د پيل په اړه يو هوکړه ليک لاسليک شو. د دې پروژې له لارې به ۳۳ ميليارده کيوبيک متره ګاز هر کال غړو هېوادونو ته انتقالېږي. د دې پروژې پر بنسټ به ګاز د ترکمنستان له دولت اباد څخه پيلېږي او د ۱۸۰۰ کيلو متره سړک پرمټ به د افغانستان د هرات - کندهار له لارې د پاکستان کويټې او ملتان ته او له هغه ځايه د هند فېضلکه (Fazilka) ته رسېږي.(۳۴)

**۲- کاسا -۱۰۰۰:** د برېښنا دغه پروژه په ۲۰۱٦ز. کال کې د قرغېزستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان ترمنځ لاسليک شوه. د دې پروژې ټوله بوديجه ۱,۲ ميليارده ډالر اټکل شوې او تمه وه چې د ۲۰۱۹ز. کال تر پای د برېښنا انتقال پيل شي. د دې پروژې له لارې به له قرغيزستان څخه برېښنا تاجکستان، له تاجکستان څخه افغانستان او د

افغانستان له لارې به د پاکستان پېښور ته انتقالېږي. د دې پروژې له لارې به افغانستان ۳۰۰ میگا واټه او پاکستان ۱۰۰۰ میگاواټه برېښنا ترلاسه کړي، خو کارونه یې تر دې دمه هم بشپړ شوي نه دي.[۳۵]

**۳- تاپ- ۵۰۰:** د ۲۰۱۵ز. کال په ډسمبر میاشت کې ترکمنستان، افغانستان او پاکستان د برېښنا دغه پروژه لاسلیک کړه، چې له دې لارې به ۲۰۰۰ میگا واټه برېښنا له ترکمنستان څخه افغانستان او له افغانستان څخه پاکستان ته انتقال شي. پر دې پروژه ۱۵۰ میلیونه ډالره لگښت راځي چې د اسیا پراختیایي بانک یې د پور په ډول د ورکړې ژمنه کړې ده. تمه وه چې د ۲۰۱۸ز. کال په لومړۍ ربعه کې د پروژې کار پیل شي، خو لا هم نیمگړې پاتې ده.[۳۶]

بله مهمه موضوع د پاکستان او چین اقتصادي دهلیز یا CPEC (China-Pakistan Economic Corridor) دی. چین غواړي چې افغانستان هم د دې دهلیز برخه کړي او د همدې موضوع لپاره یې څو ځلې له پاکستاني لوریو سره خبرې اترې هم کړې دي. چین غواړي چې په افغانستان کې د پاکستان له اقتصادي او ډیپلوماتیکي نفوذ څخه ملاتړ وکړي او له دې لارې غواړي چې له پاکستان سره دوه اړخیز اقتصادي دهلیز (CPEC) په څو اړخیز اقتصادي دهلیز CAICAP ( China, Afghanistan, Iran, Central Asia and Pakistan) باندې بدل کړي.[۳۷] د چین له دې پلان څخه په ښکاره څرگندېږي چې دوی غواړي افغانستان د یو کمربند یوې لارې پروژې برخه کړي او سیپیک د دې پروژې برخه ده، نو که افغانستان د سیپیک برخه کېږي دا په دې معنی چې د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړیکې به هم له دې لارې قوي شي او د دوی ترمنځ به سوداگري لا پیاوړې شي.

د ۲۰۲۳ز. کال په می میاشت کې د چین د بهرنیو چارو وزیر قېن گېنگ پاکستان ته سفر وکړ او د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر بلاول بهټو زرداري، جمهور رئیس عارف علوي او د پوځ له مشر جنرال اصف منیر سره یې وکتل او د سیپیک په اړه یې ورسره تفصیلي خبرې وکړې چې په دې خبرو کې د چین د بهرنیو چارو وزیر له پاکستاني لوریو څخه د امنیت ټینگولو غوښتنه وکړه ځکه پرته له امنیت څخه د سیپیک او دې ورته پروژو تطبیقول ناشوني دي، همدارنگه د چین د بهرنیو چارو وزیر له پاکستاني لوریو څخه د هغو چینایانو د امنیت خوندي کولو غوښتنه هم وکړه چې په

پاکستان کې په چینايي شرکتونو کې کار کوي او د پاکستان له اقتصادي رغونې سره همکاري کوي.[۳۸] لنډه دا چې د اسلامي امارت او پاکستان د اقتصادي اړیکو په پراختیا کې سیمه ییزې پروژې مهم رول لري او دواړه هېوادونه باید د دغو پروژو د دتطبیق په برخه کې له یو بل سره همکاري وکړي.

**د اقتصادي اړیکو پر وړاندې خنډونه**

د اسلامي امارت او پاکستان ترمنځ د دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو د پراختیا او پرمختګ په مخ کې ځینې خنډونه موجود دي او دواړه لوري باید هڅې وکړي چې دغه خنډونه له منځه یوسي، دغه خنډونه په لاندې ډول دي.

**۱- د نړۍ د هېوادونو له لوري د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندل:** د ټرانزیټي، سیمه ییزې او دوه اړخیزې سوداګرۍ په مخ کې د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندل یو لوی خنډ دی چې دغه سوداګري لا پراختیا ته نه پرېږدي.

**۲- د امریکا متحده ایالاتو او د هغوی د متحدینو له لوري پر اسلامي امارت اقتصادي بندیزونه:** د هر ډول سوداګرۍ په مخ کې اقتصادي بندیزونه یو لوی خنډ دی. د اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې په افغانستان کې ځینې بانکي فعالیتونه تر بندیزونو لاندې دي او سوداګر نشي کولای چې د دې بندیزونو له امله په خلاص مټ سوداګري وکړي.

**۳- د سیاسي اړیکو خرابوالی:** د پاکستان او اسلامي امارت ترمنځ د سیاسي اړیکو خرابوالی چې مخکې مو پرې تفصیلي بحث وکړ د دواړو هېوادونو پر اقتصادي اړیکو منفي اغېزه لري او د دغو اړیکو د پراخوالي په مخ کې یو خنډ دی.

**پایله**

د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره سم له پاکستان سره د افغانستان سیاسي اړیکې ښې وې او دواړو لوریو هڅې کولې چې دغه اړیکې همداسې نږدې پاتې شي تر څو دواړه ګاونډي هېوادونه په ثبات او ارامۍ کې ژوند وکړي، خو د پاکستان د طالبانو اسلامي تحریک، د ډیورنډ قضیې او د مهاجرینو پر سر د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې اوسمهال خرابې دي.

په اقتصادي برخه کې د دواړو هېوادونو اړیکې ښې دي. د تېر جمهوري نظام په پرتله په دوه اړخیزه سوداګرۍ کې په لوړه کچه زیاتوالی راغلی او د دې ترڅنګ د

صادراتو او وارداتو ترمنځ توازن هم رامنځته شوی چې د نورو لاملونو ترڅنګ د افغانی د ثبات یو لامل شوی. د ټرانزیټ او سیمه ییز اتصال په برخه کې هم دواړو هېوادونو ته فرصتونه موجود دي تر څو له لارې یې دوه اړخیزې اقتصادي اړیکې لا پراخې کړي.

**وړاندیزونه**

۱- له پاکستان سره دې د افغانستان د یو مهم ګاونډي په توګه د افغانستان د ملي ګټو په پام کې نیولو سره سیاسي اړیکې ورغول شي څکه د دواړو هېوادونو امنیت او ثبات د دوی په ښو او نږدې سیاسي اړیکو پورې اړه لري. له بل پلوه د سیاسي اړیکو خرابوالی پر اقتصادي اړیکو هم منفي اغېزه کوي.

۲- د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانزیټ په برخه کې د اپټا تړون یو ښه فرصت دی او دواړه لوري دې هڅه وکړي چې د دې تړون پر وړاندې پراته خنډونه له منځه یوسي او د هر اړخیز تطبیق لپاره یې هڅه وکړي.

۳- اسلامي امارت دې د لاسلیک شویو سیمه ییزو پروژو د تطبیق په برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي څکه اوس په ټول افغانستان کې امن دی او د دې پروژو د تطبیق لپاره تر بل هر وخت ښه فرصت برابر دی.

**مأخذونه**

1- L.A. Times Archives. 2 Slain in Attack on Pakistani Embassy, Los Angles Times, Sep 7, 1995, Access link: https://www.latimes.com/archives/la-xpm-1995-09-07-mn-43249-story.html

2- Larry Hanauer and Peter Chalk, India's and Pakistan's Strategies in Afghanistan: Implications for the United States and the Region, RAND Corporation, 2012, P. 27. Access Date: 28/DEC/2020, Available at: https://www.jstor.org/stable/10.7249/j.ctt1q6105.10

3- Ahmed Awais Khaver, Muhammad Awais Umar and Shafqat MunirAhmad,

Evaluating Foreign Policy of Pakistan in the context of Strategic Coercion,

Sustainable Development Policy Institute, 2019, P.1, Access Date:28/DEC/2020, Available at: https://www.jstor.org/stable/resrep24380.3

4 Stephanie Findlay, 'A win for Pakistan': Imran Khan gambles on Taliban ties, Financial Times, Sep 30 2021, Access link: https://www.ft.com/content/257853d9-acb6-432b-92d4-a1b45335a388

5- Brigadier MS Chowdhury. Pakistan's Strategic Depth, Journal of United Service Institution of India, July- September 2009, Access link: https://www.usiofindia.org/publication-journal/pakistans-strategic-depth-2.html and Larry Hanauer and Peter Chalk, India's and Pakistan's Strategies in Afghanistan: Implications for the United States and the Region, RAND Corporation, 2012, Access link:
https://www.jstor.org/stable/10.7249/j.ctt1q6105.10

6- Muhammad Imad Abbas, From Strategic depth to Strategic Threat, Modern Diplomacy, May 25, 2023, Access link: https://moderndiplomacy.eu/2023/05/25/from-strategic-depth-to-strategic-threat/

۷- له مولوي يعقوب سره ځانګړې مرکه، طلوع نيوز يوټيوب چېنل، ۵۷مه دقيقه، د لاسرسي وړ لینک: https://youtu.be/uwgBK0Uc7hs?si=qanPh-CHj3f_4i6t

8- Larry Hanauer and Peter Chalk, Op. Cit., P. 27.

9- Asfandyar Mir, Richard Olson and Andrew Watkins, Afghanistan-Pakistan Border Dispute Heats Up, United States Institute of Peace, 2022, Access link: https://www.usip.org/publications/2022/01/afghanistan-pakistan-border-dispute-heats

10- Abid Hussain, Taliban's ties with Pakistan fraying amid mounting security concerns, ALJAZEERA, 17 Aug 2023, Access link:

https://www.aljazeera.com/news/2023/8/17/talibans-ties-with-pakistan-fraying-amid-mounting-security-concerns

11- Ibid.

12- Arsalan Bilal, Pakistan and the Afghan Taliban: Friends Becoming Foes, THE DIPLOMAT, April 28, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/04/pakistan-and-the-afghan-taliban-friends-becoming-foes/

13- Abid Hussain, Taliban's ties with Pakistan fraying amid mounting security concerns, Op. Cit.

14- Ibid.

15- Abid Hussain, 'Why am I being sent back?' Hurt, anger for Afghans pushed out by Pakistan, Aljazeera, 3 Nov, 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/features/2023/11/3/why-am-i-being-sent-back-hurt-anger-for-afghans-pushed-out-by-pakistan

16- Abid Hussain, Why is Pakistan planning to deport undocumented Afghans?, Aljazeera, 6 OCT, 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/10/6/why-is-pakistan-deporting-undocumented-afghans

17- MUNIR AHMED, more than 400,000 Afghans have returned home from Pakistan following crackdown on migrants, The Associated Press, 20 NOV, 2023, Access link: https://apnews.com/article/pakistan-afghanistan-migrat-crackdown-df89dc612fcf8ee9aa138414ff2034ec

18- Sneha Swaminathan, Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory?, WIONEWS, 2 NOV, 2023, Access

link: https://www.wionews.com/south-asia/explained-why-is-pakistan-asking-17-million-afghan-nationals-to-leave-its-territory-654025.

19-Arsalan Bilal, Pakistan and the Afghan Taliban: Friends Becoming Foes, THE DIPLOMAT, April 28, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/04/pakistan-and-the-afghan-taliban-friends-becoming-foes/

20- Sneha Swaminathan, Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory?, Op. Cit.

21- Ibid.

22- Bibi Amina Hakimi, Stanikzai Warns Pakistan Not to 'Force Afghans to React', TOLO News, 06 NOVEMBER 2023, Access link: https://tolonews.com/afghanistan-185907

23- Shoaib Ahmad Rahim. Afghanistan's Dependence of Pakistan: Trade, Transit and the cost of Being Landlocked, Kardan Journal of Economic and Management science, Access link: https://kardan.edu.af/data/public/files/KJEMS-4th-3.pdf

۲۴- د احصايې او معلوماتو ملي اداره، د ۱۳۹۹ هـ.ل. کال د سوداګرۍ احصايې کالنۍ، ثور ۱۴۰۰هـ.ل. کال، د لاسرسي وړ لېنک: http://nsia.gov.af/library

۲۵- د احصايې او معلوماتو ملي اداره، د ۱۴۰۱ هـ.ل. کال د سوداګرۍ احصايې کالنۍ، حمل ۱۴۰۲هـ.ل. کال، د لاسرسي وړ لېنک: http://nsia.gov.af:8080/wp-content/uploads/2023/08/thrade-statics-pashtow.pdf

۲٦- د احصايې او معلوماتو ملي اداره، د ۱۴۰۲ هـ.ل. کال د سوداګرۍ احصايې کالنۍ، ۱۴۰۲ هـ.ل. کال، د لاسرسي وړ لېنک: http://nsia.gov.af/library

27-Shahzad Paracha, Pakistan, Afghanistan bilateral trade increases 66 percent since Taliban rule, October 12, 2022, Access link:

https://www.pakistantoday.com.pk/2022/10/12/pakistan-afghanistan-bilateral-trade-increases-66-percent-since-taliban-rule/#:~:text=Pakistan%2C%20Afghanistan%20bilateral%20trade%20increases%2066%20percent%20since,thus%20increasing%2066.60%25%20in%20trade%20between%20two%20countries.

28-Mohammad Zubair Khan. Pakistan-Afghanistan Trade: Political Economy Analysis, The Asia Foundation, Access link: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2016/06/Political_Economy_Analysis_Dr_Khan.pdf

29- Thousands of trucks stuck at Afghan-Pakistan border crossing, Al-Arabiya News, 21 February ,2023, Access link: https://english.alarabiya.net/News/world/2023/02/21/Thousands-of-trucks-stuck-at-Afghan-Pakistan-border-crossing

30- Pakistan, Afghanistan agrees to boost trade, lower border tensions, AlJAZEERA, 8 May 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/5/8/pakistan-afghanistan-agree-to-boost-trade-lower-border-tensions

۳۱- ګهیځ نیوز، تورخم دروازه په مشروط ډول د ترانزیټ پرمخ تړل شوې، ۱۴۰۲ هـ.ل. کال د عقرب ۳۰مه، د لاسرسي وړ لېنک: تورخم دروازه په مشروط ډول د ترانزیټ پرمخ تړل شوې - ګهیځ(gaheez.af)

۳۲- ګهیځ نیوز، پاکستان د افغان سوداګرو د بند پاتې اموالو د خوشې کولو پرېکړه کړې، ۱۴۰۲هـ.ل. کال د عقرب ۲۷، د لاسرسي وړ لېنک: پاکستان د افغان سوداګرو د بند پاتې اموالو د خوشې کولو پرېکړه کړې - ګهیځ (gaheez.af)

33-Soraya Parwani, The TAPI Pipeline in Post-U.S. Withdrawal Afghanistan, South Asian Voices, July 12 2021, Access link:

https://southasianvoices.org/the-tapi-pipeline-in-post-u-s-withdrawal-afghanistan/

34-Amina khan, AFGHANISTAN AND REGIONAL CONNECTIVITY, INSTITUTE OF STRATEGIC STUDIES ISLAMABAD, Aug 6, 2019, P. 3.

35- M. Azim Wardak, Infrastructure Connectivity in Afghanistan, Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan, 2017, P. 12.

36- (...), Work on TAP-500 to start in Q1 2018, Economist Intelligence, 2017, Acess link: Work on TAP-500 to start in Q1 2018 (eiu.com)

37- Ashraf Jehangir Qazi, Pakistan's Afghanistan policy, DAWAN News, August 17, 2023, Access link: https://www.dawn.com/news/1770589/pakistans-afghanistan-policy

38-Munir Ahmed, Pakistan, Afghan Taliban Agree to Boost Trade, Lower Tension, THE DIPLOMAT, May 08, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/05/pakistan-afghan-taliban-agree-to-boost-trade-lower-tension.

***Published:*** Afghanistan Science Academy (ASA)
***Chief Editor:*** Asst. Prof. Mohammad Tahir sharar
***Assistant:*** Masih Oriyakhail

***Editorial Board:***
Assoc. Prof. Dr. Rafiullah Niazi
Assoc. Prof. Abdul Shakoor Salangi
Asst. Prof. Abdul Saboor Mubariz
Asst. Prof. Imran Zakeria

***Composed Designed By:*** Sefatullah Mansoor

***Annual Subscription:***
Kabul: 320 AFS
Province: 480 AFS
Foreign countries: 20 USD
Price of each issue in Kabul: 80 AFS

- For the University Professors, Teachers and members of Academy of Sciences: 70 AFS
- For the university and school students: 40 AFS
- Other offices: 80 AFS

***Contact Numbers:*** 0202201279 - (+93) 766110008
***Email:*** rsc@asa.gov.afg
***Email:*** Info@asa.gov.af